

Ketabton.com

# شين تاغی

PROPERTY OF ACKU 7894

لیکوال

PROPERTY OF ACKU 7894

سعدالدین شپون

۱۳۷۷ ش

PROPERTY OF ARIC Established 1989

# ډالۍ

د داستان درو اتلانو ته:

*دوکتور محب الله نکته شیرزاد چې د یرې د راتګ اوستنیدو اټکل یې د یرش کاله د مخه کړی و؛

*دوکتور غلام غوث شجاعي (ډاکټر زړور) چې د یرې له یوې ځاپیړې سره لاړ؛

*پوهاند بهاء الدین مجروح (ډاکتر لاروی) چې له یرې سره د پهلوانۍ په حال کې خپلو عزیزانو وپرځاوه.

او

زما مشر ورور اروابنا د منهاج الدین ګهیځ ته چې: هنري لیکل یې رابنوولي دي.

## د کتاب پیژندنه:


*د کتاب نوم : شین تاغی

*لیکوال : سعد الدین شپون

*کمپوز : غازی کمپوزنګ سنټر، ګل حاجی پلازه، پیښور

*دچاپ کال : ۱۳۷۷ ش / ۱۹۹۸م

*د چاپ ځای : شرکت پرنټنګ پرس -لاهور

*د چاپ شمیر : ۵۰۰ ټوکه

*د پشتی طرح د: ژکفر

*سمبالوونکی : دانش کتابخانه

«۱»

# لومړی څپرکی

دکړکۍ نه سالنگ رسا سپین ململ و چې تقریبا هوار غوړیدلی و . داوړي دوخت شیلې یې اوس هوارد سپینه مځکه وه او گړنگونه او ژور خوړونه یې داسې له واورو ډک وو چې دنابلد سړي به زړه غوښتل چې دسړک نه وړ کوزشي او چکر پرې ووهي. دواورې ډډې ارتې ورشو آهنگ ایله دوه ځایه مات شوی و . یو دتونل خوله وه چې دکړکۍ نه داسې سرته ورته وه چې بدن یې په سپین کپن پوښلی وي. بل هغه کمر و چې څلور پنځه کیلو متره دتونل کینې خواته دسړک خواته راکړوپ شوی و او په دیواله باندې یې دواورې دتم کیدو ځای نه و او چې به دواورې په شیبو کې وقفه راغله او لمر به شو نوداسې سور بخون ښکاریده لکه دپیغلې مخ چې چارچاپیره ترې سپین څادر تاوشوی وي.

دادرې ورځې کیدې چې زه په شین تاغي کې ګیر وم ، بلکه دواړه ګیر وو . دبهر سره مې دارتباط وسیلې یوه دلنډې څپې رادیو وه اوبله همدا کړکۍ چې ما به دهغې نه ددې هیبتناک چاپیریال ننداره کوله . یوه بله وسیله هم وه چې وروسته به یې بیان کړم . اوس دامشکلات لاکم وو چې یونا بللی میلمه هم راته په بستر کې پروت و . پرون ترماښامه پورې دمړز دبنکوپه اندازه څپولي داسې منظم وریدل لکه چې چا دپلان دمخې وظیفه ورکړې وي .

په لاعلاجه بلاکې نښتی وم . دمخابرې وسیله راسره وه ، مګر دنابللي په مخکې مې دډېر زوور سره مخابرې ته زړه نشو ښه کولی . مخابرې ګټه هم نه درلوده . هغوی وسلې غوښتې او هغه زما سره دلته په واورو کې نښتې وې . دمقاومت دښاري پاځون پیل ته شپږ ورځې پاتې وې اوزه به داوسلې څنګه پخپل وخت ور رسوم ؟

## دویم څپرکی

شین تاغی زما دګرځنده کورنوم و . په اصل کې لوی ، ټریلر موټر و چې په جرمني کې مې اخیستی و . کلیوالو ورباندې دشین تاغي نوم ایښی و چې په فارسي کې یې نیله زاغ بولي ، داوړي اوشولګرومارغه دی چې دسړک دسر دتلفون په مزو کښیني او تغیرې . چې ملخ یا څمڅوکۍ ویني نو ، لکه باښه پرې راشیوه شي او ایسته یې دځان سره دتلفون دمزي سرته یوسي اوسر په څیرۍ یې ګوړوت کړي. سپینې او آبي لیکې لري.

دشین ټاغي کمالات ډیر و و. دد یواله پورې یې داسې سیټونه وو چې دشپې به دې را کش کړل نو بستر به شو. توشکې، نیالی، کمپلې داټول یې لرل. په لرسر کې یې یو نغری یاداش و چې په گاز چلیده. دگاز څلور ټانکی بهر دموټر په اړخ پورې ټینگې وې او یونل ترې نغري ته راغلی و. که یوه به تشه شوه دتنې په وهلو به بله ټانکی چالانه شوه. همدې گاز دشین ټاغي دگرمولو کار هم ورکاوه. د تیلو هم درې ټانکی وې چې اتومات به دیوې په تشیدو بله چالانه شوه. یو یخچال هم و چې په گاز چلیده، داوبو ټانکی دموټر په بام وه خودهغې نه داسې دلیمڅې په شان یو کالی تاوشوی چې په ژمي یې کنگل نه وهي او په اوړي کې یې اوبه لکه دترموز داسې سړې وي.

شین ټاغی ما په جرمنی کې دداسې یوه سیلاني نه واخیست چې ټولې دنیا ته یې ورکې سفرونه کړي وو او اوس یې پیسې نه لرلې چې خپل ملک، امریکا ته پرې لاړ شي. دشین ټاغي په باډی باندې د آسیا دزیاترو ملکونو ټاپې وې. دنیپال د دالای لا ما، دتایلند دطلایي معبد، حتی دبامیانو دبوتانو تصویرونه او پوسټرونه هم وو چې دده ویل په کابل کې یې دگرځندوی دد فتر نه اخیستي وو. دی مخکې زه وریسې دواړه دموټر نه چارچاپیره تاویدو او پوسټرونه یې داسې په شوق راښودل او په داسې آب وتاب یې کیسې کولې لکه چې دآسیا په دوره مې بیایي.

په هماغه جرمني کې مې دموټر ټول ماشین او پرزې نوې کړې او

وطن ته روان شوم . دجرمنی نه یوگوسلاویې ته ، بیا بلغاریې او بیا ترکیې ته لاړم . هلته او گوټ کې د استانبول نه ترابزان ته او بیا نو دایران له لارې په دوو هفتو کې افغانستان ته ورسیدم .

کلي ته په رسیدو مې موټر دکاله شا ته ودراوه . بیا نو دکلیوالو وربانديې وارنه و . زه او زما سترې مشي هیره وه . دخارج دتگ نه پخوا مې زیات قدر و او چې به دکابل دعلی آباد دروغتون نه په رخصتۍ کلي ته راغلم نو دمریضانو به را باندې وار نه و . مگر اوس زه هیروم او بس دموټر ننداري ته به دنژدې نرې کلو خلکو لام جوړ کړی و او حتی دکلي ښځو به هم په دې او هغې بانې خانو نه وررسول . زما کشر وروړ دځانه دسیلانیانو لارښود جوړ کړی و او کری ورځ به یې دموټر کمالات خلکو ته ورښودل . دد نو تقریباً دکورنه کډه وکړه شپه او ورځ به په موټر کې اوسیده او چې نورنه و ، نو آرنډو نه به یې ترې ایستل چې لر بر کلي ددې نه غافل نشي چې موړ داسې یود بلا لرو . خپل سپی یې هم دشپې دتیاير پورې تاړه او دبدو سترگو دشړلو دپاره یې دموټر په بهرنۍ تنډه او د ډرایور دواړو خواوو ته تاویزونه وځړول .

مور او پلار مې په ظاهره کې څه نه ویل خو زه پوهیدم چې را باندې په غوسه دي . کشر وروړ را ته شیطاني وکړه چې ټول وايي چې هلک څلور کاله ورک و او ایله یې دا په شار اوړې بلا دکاله شا ته را ته ودروله . خدایږو چې زه هم یو څه ترور غوندې شوم چې خلک به ضرور وايي چې ددهقان زوی گوره او داسې کونه وازي . زموږ خپل دکلي ملا

يوه ورځ راته صفا وويل چې يره ډاکټرجانه ، که ددې بلا په ځای دې يو ټراکټور راوستی وی ، يادې والګا راوستې وای ، يو څه خوبه مولاس پرې سپک شوی و !

مادځان سره وويل ، اوس خو دکلي دخندا شوې ، کومه چاره يې وکړه . پس دډيره فکره ، يوه ورځ دسباناري په وخت کې ماپه جګ غږ چې ټول يې واوري ، خپل کشر ورور ته وويل ، « زما زړه دی چې يو ځلې د غزني په زيارتونو وګرځم ته راسره ځې ؟» هغه په ډير شوق وويل ، « کله روانيږو ؟ » زه هم پخپلې خبرې کې ونښتم ، « درې ورځې پس » . موراو پلار مې يو بل ته ځير وکتل او پس له چايه هرسړی پخپل کار پسې لاړ.

دشپې مې چې ابا دخپل عادت سره سم دورځې په چارو زما او مور سره مې وغږيده ، شنې چای وڅښلې ، نو پاڅيد او لکه دهرې شپې په شان يې وويل ، « ستاسومرکه خوړه ده خو زه به لاړشم ، خپلې کوټې ته چې وظيفه وکړم » .

مورمې زه تم کړم ، « شيطانه ته خو پوهيدې چې ابا دې په زيارتونو مين دی نو په دې خبرې کې دې څه مطلب و ؟ »

ماورته وموسل ، « ته هم راسره لاړ شه چې داملکونه دربانديې وګورم . » هغې وويل ، « ته خو ورځه پلار ته دې وو ايه ، ګوندې هغه يې ومني . » زه چې د پلار کوټې ته روانيدم نو په هغه خپله شيطان وزمه خندامې مورته کړه ، « ولې مې کړوې ، زه پوهيږم چې تا او ابا مې لا د وخته دسفر موزې په پښو کړې دي . »

زموږ داسفر تقريباً شل شپې و او داسې ښکاري چې زما مور او پلار چې بې د چکړه موټر ، يابو دسپرلۍ او پيلو پښو نه يې بل قسم مزل نه وکړی په اول ځل دسفر په عيش پوه شول . دمور مې ګازي نغرۍ ډير خوښ شو چې بې لوګي او دلمدو لرګو دبلولو دسرخوږي نه په لږ شيبه کې يې خواړه برابرول . البته دګاز چالانول او دانورې خبرې ټول زما اوقي وروړ کولې .

پلار مې چې په لسهاوو ځلې دآس په سپرلۍ او کله لاهم پښې پيله دخوګيانيو او خان آباد ترمينځ مزلونه کړي وو هم خوشاله و خو په خوله يې څه نه ويل . کله به چې کومې بيشې ته ورسيدو يا مثلاً د درهٔ شکاري تنګې ته چې دواړو خواوو ته دغره ديوالونه وو او د سړک دژۍ سره جوخت ، کوز ځپاند سيند بهيده چې او به يې د پاسه شنې لګيدې ، نو بيا به يې خپل جيبي ويشتن ساعت چې حاجي سلطان ورته دحج نهٔ راوړی وراوايست چې ګوندې دلمانځه وخت دی . مګر زه پوهيدم چې ابا مازې ديو آشنا ځای ملاقات کوي . ما به هم موټر ودراوه او ټول به سيند ته ورکوز شوو . ابا به ډيره شيبه په يوه تيږه ناست و او دسيند د غړمبهار انګازو ته به مراقبه تللی و . دابه اول ځل وچې دډرايور او کلينډر ګوانبونه به نه وو چې « هلئ سپاره شئ »

په لار کې مې پلار راته دخپلو مزلونو کيسې کولې او هغه ځايونه به يې را ښودل چې ده په کې شپه کړې وه ، آس يې له پښو لويدلی يا شيبر شوی و ، ښکار يې کړی و او يا په غلو اوښتی و .

په بل کال ما تجویز وکړ چې د گل سرخ په میله کې مزارشریف ته لاړ شو خو پلار مې ویل چې گل سرخ د زردشتیانو میله ده د نوروز جشن د شریعت له مخې ناروا دی . دهغې په ځای خوگیانو ته لاړو چې زموږ اصلي ټاټوبی دی . پلار مې ماته وویل چې هلته سیالان او تربرونه دي ، په موټر کې به نه ځملو چې بیا پیغورونه رانه کړي .

په دریم کال دشین ټاغي د ټولونه دلوی ازمیښت وار راغی . پلار او مور مې دډېره وخته حج ته لیواله وو او هر کال به مې پلار عریضې ورکولې خو پچه به یې نه ختله . دحاجیانو کاروان به چې روان شو نو پلار او مور به مې دهغوی د راتگ پورې گنگس وو ، مور به مې چې دغوا دلوشلو نه پس راغله ، دوچو شوو اوښکو لاره به یې په مخ ښکاریده او پلار به مې تل دځانه سره بنگیده او کوم شی به یې ویلې ، چې په اول کې ما دسندرې د زمزمې خیال پرې کوه خو یوه ورځ مې کتل چې ابا دځانه سره بنگیږي او په شمله خپلې سترگې وچوي . پوه شوم چې دحج ارمان کوي .

مادوی ته هیڅ ونه ویل خو خپل پلان مې جوړ کړ . پټ مې پاسپورټونه په کندوزکې جوړ کړل ، دموټر ټانکۍ مې په کشر ورور ډکې کړې او هله مې دوی ته اعلان وکړ چې ټوله کورنۍ حج ته روان یو . مور مې په ژړا سرشوه ، لاسونه یې آسمان ته ونیول ، « خالقه ، ډېر چاره ووچاره سازه » او بیا یې نومرۍ ونښته او مړې مړې اوښکې یې تویولې . پلار مې چې خبرشو نو لکه همیش چې د احساساتي کیدو په حال کې دده

عادت و ، په بیره د کوره ووتو او چې زه شیبه پس ورپسې ورغلم ، گورم چې په باغ کې د مڼې یو نیالگی پیوندوي . باغ تل زما د پلار د سیالۍ او دل آسایۍ ځای و . په ډیر غم او ډیرې ښادۍ دواړو کې به یې خپل راجبښ چاقو ، چې اوس یې تیغ د غوندي ستن په شان نری شوی و راوکیښ ، د نیالگي پوستکی به یې د زخې په ځای کې څیرې کړ . بیا به یې د پیوند شوې ونې یو نغوړگی یا زخه غوټه کړه او د نیالگي په چاود کې به یې کیښوده ، پوټکی به یې بیرته پرې راکش کړ ، پرې شوی ځای به یې ، لکه جراح د توت د پوستکي په ریښکیو وتاړه ، یو څه توره ختیه به یې ور پورې وموښله . بیا به یې هره ورځ د هغې معاینه کوله چې دې نوې زخې نیښ وهلی دی که نه ، پیوند لگیدلی دی که نه.

په دې کال ټوله کورنۍ حج ته لاړو . په کندهار کې د قادري بس د کاروان سره یو ځای شوو . د هرات نه مشهد او له هغه ځایه د البرز په غرونو ، گرگان ، آمل ، تهران ته ورسیدو د کرمانشاه له لارې د قصرشیرین سرحدي تانې نه د عراق په خاوره کې په کاظمین کې تم شوو چې بغداد ته نژدې دی . بیا نو د خانقین د بندر له لارې اردن ته ننوتلو ، بل تم ځای مو داردن پایتخت ، عمان و . بیا نو د عربستان شمال لویدیځ ساحل ته ورسیدو او په ساحل کې نو دوو ورځو په مزل همداسې جنوب ته روان وو چې مکې مکرمې ته ورسیدو . یوه هفته تگ ، یوه هفته راتگ ، یوه هفته په مکې شریفې او یوه هفته ، بلکه لس ورځې په مدینې منورې کې د پنځوسو لمنځونو د پاره ، مانا څه د پاسه یوه

میاشت مو په دې سفر تیره کړه . دا سفر هم په خیریت تیر شو. شین ـ تاغی هیڅ وران نه شو . یو څه تکلیف چې و ، هغه د عبور د مقرراتو او معلم له خوا و .

## دریم څپرکی

دا د شین تاغي د لس کاله پخوا کیسه وه . او س حالات هم بدل شوي وو ، او زما او شین تاغي دواړو ځواني هم پخوالي ته رسیدلې وه . زموږ په کور کې هم پخوانی جوش او خروش نه و. ابا لاړ او ادې هم د هغه ځلوینښتې پوره نه کړه . ماتل د ځانه دا پوښتنه کړې چې دا څنګه چل دی چې اکثر که د کاله ښځه مړه شي نو نارینه بله ښځه کوي او که میړه مړ شي نو ښځه ورپسې روانه وي. په کور کې زه پاتې وم او کشر ورور او شین ـ تاغی . حالات خو څکه بدل شول چې کمونستي را غله او ورپسې شورویانو هم په افغانستان برید وکړ . یو ورځ مې کشر ورور د زړه خواله کول ، « لالا ، زه خو مې د مور او پلار پسې ډیر خپه یم خو اوس وایم ښه شو چې هغوی ژوندی نه وو. زما په یاد دي چې تاورته ویل چې ابا راځه دا مځکه خرڅه کړو ، او ننګرهار ته شو ، چې روسان را روان دي او دلته بې کس و کویه یو . ساده ګی پلار مې درته په غوسه شو او ویې ویل ، «چې زما سره شرعی قواله وي د چا پلار خودې دا مځکه رانه ونیسی ! »
زه وایم ښه شو چې هغوی دا بده ورځ و نه لیده. »

کمونستي لا په ښار کې وه او زه او ورور مې په کلي کې په دهقانی بوخت وو خو په زړه کې دواړه سره پوهیدو چې نن دی که سبا دی دا ټکه په

مور هم رالویږي. د تاجی زامنو خو څو ځلې زما وروړ ته د شین ټاغي پیغورونه ورکړي وو او ویل یې چې په هغې کې ستا ورور د امپریالستانو سره مخابرې کوي او دهمدې دپاره یې ډاکتري پرېښې ده . هغه ویل چې ډاکتري خو د پیسو چینه ده نو چی محب الله ډاکتري پرېښوده په کومې بلې لاغورې مارې به اوښتي وي . داوبو او لارې په سر یې هم په مور پیشرو ونه او گواښونه کول ، مقصد د پخوانو غوټو او تربگنو په بیا کتولوپې شروع کړې وه .

یوه ورځ چې زه په ښار کې د جمعې د لمانځه نه کلي ته راستون شوم گورم چې د شین ټاغي نه سور ټاغی جوړ شوی . ورور مې ټول د شاتوتو په شیرې سور رنگ کړی دی. نه هغه پخواني پوسټرونه او څیرې او نقشې وراندې وې او نه یې د ملکونو بیرغونه . زه پوه شوم چې دا د حوادثو سره زما د ورور د مقابلې طریقه وه . چې نور څه نه وي ، رنگ خو یې د خلقي وي ؟ ورې ورې پیښې کیدې چې زه پوهیدم چې کړې راباندې تنگیږي . د چاریار د نارو په ځای اوس هورا راغلې وه . بزگرانو به هم هورا ویله خو په معنی یې نه پوهیدل ، کله به یې په اشر کې نارې کړې ، د خدای په نامه هورا ! یا چاریاري هورا ! کلو ته د جیپانو تگ راتگ زیات شوی و او خلکو به د مازیگر له لمانځه نه پس د پخوا په شان وشتې او ټوکې نه کولې ، بلکه د مایوسی او د شک په چوپتیا به یې یو بل ته کتل .

یوه ورځ مې ورور راته کړل چې « ته نور څه ، کابل ته ، ستا بودن

نور دلته، نه‌ستا د پاره ښه دی او نه زما د پاره . ما پرېږده چې یو بیسواده سړی یم ، خپله دهقاني به کوم . ته بې هغې هم په کلي کې نه ځاییږې .
شین تاغی هم د دې ځای نه ورک کړه . ډیر خلک ورته گواښیږي . »

په بله ورځ مې د ورور د شین تاغي په سمبالولو لگیا شو او زه لاړم په باغ وگرځیدم ، بیا د شولو پټو ته لاړم او ښایسته شیبه مې دهغو دوړو داتې ننداره کوله چې داوړي د نري شمال سره یې ځنې اچولې او د چڼچڼو سیلونه تېټ پرې الوتل او دومره لوی او گڼ سیلونه وو چې د شنو شولو په سر تور سیوری وریسې روان و . په چوپه خوله مې د کلي سره چې د ژوند د نیمایي نه زیات کالونه پکې تیر کړي وو خدای پاماني وکړه .

## څلورم څپرکی

کابل نظر نورو ښارونو ته یو څه په دې ښه و چې یو څه خت هم زه او شین تاغی پکې لادرکه شوو . دري کاله په کابل کې اوسیدم . کله کله کلي ته ورتلم چې خلک بدگمانه نشي . یو د ورځ ، د پوهنتون استاد ، ډاکټر زرور ، د پوهاند لاروي سره کورته راغلل او په خبرو خبرو کې یې د ښاري مقاومت د یوې پټې شبکې د جوړیدو زیری راکړ چې دوی یې هم غړي وو . په دې کې د پوهنتون استادان ، د کابل او شین ډنډ دهوایي ډگرونو صاحب منصبان هم شامل وو . ما تعجب کاوه چې ولې ماته داخبرې کوي . زما د سیاست سره داول نه جوړه نه وه پس له څو ورځو د پوهنتون دغه استادان بیا راغلل او ایله یې په مقصد پوه شوم . دوی ته زما شین تاغی په کار و . ما ورته ویل چې په دې تموله نړۍ کې همدا یو

موټرلرم او دانشمدرکولی . مګر دوی پخه ایښې وه . نه یوازې یې موټر غوښت، بلکه زه یې هم د ډرایور په حیث غوښتلم. داسې ښکاري چې دوی دډیره وخته په خپل پلان باندې کار کړی و. دوی ویل چې باید د جهاد ابتکار تعلیمیافته وو ته په لاس ورشي. دوی استدلال کاوه چې دکمونیزم او روس په مقابل کې دافغانانو مقاومت عامه پاڅون دی، دظلم او دپردو دیرغل په مقابل کې پاڅون ذی او تقدیر داسې راوستې دده چې افغانان مسلمانان دي، نو دایو دینی جهاد هم دی. دوی ویل چې ملیت او دین په افغانانو کې داسې سره اخښل شوي چې نه سره بیلیږي او دبیلیدو ضرورت یې هم نشته.

زدله آره دخرپ په ځای د ترپ سړی یم . مګر داهسې بیسواده احساساتي خلک نه وو چې مابه په آسانه قانع کړي وای. ټول ډاکټران او ماسټران وو او یو څو تنه منصبداران چې ماته یې دملاقات حق حاصل و ، هغوی ټولو په شوروي اویا امریکا کې ارکان حرب لوستی و . ددوی شفرونه د ډاکټر زړور اختراع وه چې دهګل په فلسفه کې یې د ډاکټرۍ تیسس لیکلی و . ټول فلسفي اصطلاحات ، هغه هم چپي ، لکه تضاد ، پرولیتاریا ، دیالکتیک ، طبقات ، اضداد ، سنتیز او انتی تیز او داسې نور چې یوازې ددوی یوه وړه حلقه پرې پوهیدله او موږ نورو ته یې صرف هغه برخې معلومې وې چې زموږ دکار او فعالیت سره ښاییدل . په دوو درو هفتو کې مې پام شو چې زه هم ترستوني ورکې کښیوتی یم .

نور هر څه تیار وو ، فقط دوسلو ضرورت و چې دکابل نه قیام پیل

شي . ماته یې څه نه ویل، خو داسې پوه شوم چې د ځینو قشلو
د قوماندانانو سره یې خبره پخه کړې وه . دا خبره ما بیا وروسته داسمار
د غرني غونډ د قوماندان ، روف خان نه په پیښور کې واوریده .داسې
ښکاري چې دوی په کار پوه خلک لرل ، ځکه موټر یې یو ځوورځې رانه
د جنګلک فابریکې ته بوته ، هلته یې ټول انجن ورنوی کړ ، د شاتوتو
رنګ یې ترې وواهه او یو خړ د ډیران رنګ یې ورکړ . هلته چې بسترې
وې ، بس یوه یې پریښوده او د درو نورو لاندې یې لوی لوی دلرګو
صندوقونه جوړ کړل او په سر یې د پلاستیکو پوښونه ورکړل چې ګویا
د سرویس سیټونه شول چې ستر او اخفا یې وشي. رادیو یې مخابره یې
لرې کړه او د هغې په ځای یې په زاړه دود د تلګرام یو ماشین په دیوال کې
پټ کړ . چې یوه وړه کړکۍ ورخلاصیده ، هغه یې هم د موټر د دیوال په
شان لیکې لیکې رنګ کړې وه. د خلقیانو سره بیرغونه یې بهر وریاندې
ودرول. زیاتی نوشین تاغی نه و ، سور تاغی هم نه و ، بلکه خړ تاغی و
چې په ظاهر کې پمن او ډیران رنګه خو په انجن کې یې نوی نوزی راته
راووست .

پلان داو چې زه به بیا یو ځلې کلي ته ځم او هلته به د خلقیانو سره
لر اوبر کیږم . بیا به نو د خان آباد نه کابل ته راروانیږم او په کیله ګي کې
به وسله او یوه نقشه اخلم . لاهم نه پوهیدم چې د چانه به وسله اخلم او
څنګه به یې کابل ته رسوم ؟ تر اوسه پورې هم ماته د ډاکټر زړور شبکه
هسې او تې بوتې او د تهوکو ښکاره کیده خو چې یوه بوډا ، چې زما په

خیال ، متقاعد منصبدارو ، څوشپې د ښوونځي د شاګرد په شان د تلګرافي مخابرې سبق راکړ د ځان سره مې ویل ، محب ګله، کښیوتې.

## پنځم څپرکی

کیله ګی د پلخمري او دوشي تر مینځ یو لوی ډاګ دی چې یوې خواته یې د دوشي سیند او بلې خواته یې تر څو ستر ګې لګیږي، ډاګ او تیتې شنې غونډۍ دي . هغه د قیر سړک چې کابل ته ځی دا ډاګ تقریباً په نیمایي غوڅوي . په اوړي کې د سیند دلوري بزګران هندوانې راوړي او د سړک په غاړه یې کابل ته د تلونکو مسافرو او توریستانو د پاره خره کوي. دا هندوانې چندیانې خوندنه لري مګر خلک یې د لویوالي او ارزان والي لپاره اخلي. د کیله ګي یو بل شی چې زما تر اوسه یادیږي هغه یو عجیب شانې ښکارو. خلکو به دلته باښې نیولې او بیا به یې داوریدو د قراره په عربو خرڅولې. زه به چې کله خان آباد ته د تګ په لاره کې دلته راپیښ شوم ، نولیدل به مې چې یو سړی لګیا دی یوه رسۍ په هوا کې چورلوي . دا رسۍ تقریباً دیرش څلویښت متره وه او نه پوهیدم چې دا یې ښنګه په هوا کړې ده . دنژدې نه مې چې هغه ولیدله نو یو سر ، هماغه سریې چې د سړی په لاس کې و ، نری او هغه بل سر یې پریړ او درونډ و او ښکارځن به نیم ساعت په هوا کې تاووله چې تر څو به د کاغذ پران په شان د هغې درونډ سر هوا ګیر شو.د پرې په هوا ګیر سر کې د سنیو غونډارې و چې په هغې کې لومې وې. دغه د سنې غونډارې داسې جوړ

شوي و ، لکه مرغۍ ، ګويا باښې به چې وليده نو د مرغۍ ګمان به يې پرې وکړ او غوټه به يې پرې وکړه  بيا به نو د سنيو په ورېو او لومې کې ونښته او سوټه بوټه به کوزه راپرېوته .

اوس په کيله ګي کې ، دروسانو د درنو وسلو يوه لويه ډيپو ، څه د مځکې په سر او څه د مځکې لاندې جوړه وه . ما ته وظيفه راکړ شوې وه چې د همدې ځای نه به وسله او نقشه کابل ته رسوم .

لوړ مازيګر و چې کيله ګي ته ورسېدم . البته ترهغې د مخه او وروسته هم رسېدلی شوم خو هدايت همداسې و . د سرک غاړو ته هندوانې نه وې ، ځکه چې د جدې مياشت وه ، مګر يو څه د منې ارکانې ختکې لا هم دلته هلته دلۍ وو . دوکان موکان خو بې هغې هم نه و بس دلته هلته د خاورو تيټ ديوالونه دلښلو کوچانو د شپول په شان ديوې څپرې نه راتاو وو چې داوړي نه پاتې وو او اوس خالي وو . حتی د سر څپرې يې هم نه وې . مګر په دې لويه دښته کې يو دوکان و چې لا يې هم لوګي له لرې ښکاره کېدل او همدا زما نښه وه . لوړ مازيګر و چې د هغې مخې ته مې برک وواهه . ناڅاپه مې په زړه دويرې بريد راغی . که مې وپيژني بيا به څه کړم . دروسانو داستنطاق مې اورېدلی وو ، چې د تيرې نه هم اقرار اخيستی شي . برقي شاکونه خو يو عام شی دی . ديوه خلقي نه مې اوريدلی وو چې ويل يې ، زمونږ شوروي دوستان برقي شاکونه او شکنجې او جبري اعتراف د انساني کرامت نه لرې ګڼي . هغوی داسې پيچکارۍ جوړې کړې چې چا ته يې ورکړي بس ، لکه بلبله خپل ټول حال

وايي . دزړه په تل کې حتی دخپلو کابلي دوستانو نه هم وېرېدم . کیدای شي چې نه مقاومت و او نه بل څه ، بلکه ، صرف د مـادنیولـو د پـاره د ک ، جی ، ب ، دسیسه وه .

شین تاغی مې دسړک نه چپ یوې خواته ودراوه ، چار قل مې وویلې او په ځان مې چوف کړ ، او په توکل ورکوز شوم .

په رستوران کې مې چې خلکو ورته هوټل وایه دتاکلي قراره سره سم دزړکې دښوروا فرمایش ورکړ او کښیناستم . بیا نو شنې چای راغلې او ماهم ورته ډډه ووهله . چوکۍ خونه وې خوسره قالینه غوړېدلې وه او داوږدو نیالیچو هر سرته دقالینو بالښتونه وو چې مینځونه یې دبوسو ډک وو . دکوټې په سم نیمایی منځ کې یوه ابدان داره دبیلر نه جوړه شوې بخاري وه ، دکوټې نه یوه وړه کړکۍ شاته پخلنځی ته خلاصه وه ، په داسې ډاګ کې ، دداسې یوه رستوران موجودیت پخپله دحیرانتیا خبره وه .

درې څلور تنه منصبداران هم ناست وو ، چایونه یې څښل او یوه یې چې دفارسي لهجه یې ورد گوته ورته وه ، ټوکې کولې او نورو ورته خندل. زه پوه شوم چې همدلته دکیله گي په اډه کې دروسانو سره کار کوي .

ماښام مهال دوی په خندا خندا لاړل . زه په لمانځه ولاړ وم چې زما نفر چې نوم یې راته دبهادر خان ښودلی و ، چې البته ما په سترگو نه ولیدلی راورسید . ما چې سلام وگرځاوه نو ده راته وویل ، ته چېرته و

کیله گی چېرته؟ بیا نو لکه زوړ یار راغی او تر غاړې وتو. دبرګرندۍ په وخت کې په غوږ کې راته وویل «هر څه تیار دي.» بیا سره کښیناستو او په لوړ غږ دواړو داشرارو دظلمونو او دانقلاب دبریو خبرې کولې، چې درستوران خاوند یې واورې. دجمعې شپه، دجدي دویمه هفته وه خو په کیله گي کې واوره نه وه شروع شوې، بس وچ ساړه وو او هر څوک به چې هوټل ته ننووت له خولې به یې بړاس خوت. هوټلې دوه ګیسونه ولګول او کوټه رڼا شوه. په همدې کې درې نور منصبداران هم راغلل او دډوډۍ فرمایش یې ورکړ. یو منصبدار هماغه ټوکمار وردګ و چې اوس بیا راغی او زه دې خبرې یو څه ترور کړم. هسې هم زه تل په ټوکماررو شکمن یم، او دخندا د ماسک لاندې تېرې زیږې داړې وینم. بده یې لا چې ټوکمار مخامخ ماته راغی او ویې ویل «زلمیه، داخو دې عجب سرویس پیداکړی دی، سپرلۍ دې څه شوې؟» زه پوه شوم چې لومه یې راته غوړولې ده، «صاحبه موټر کابل ته بیایم چې عوارض یې پیداکړي.» مګر ټوکمار نه قانع کېده، «زوروره، په شل دیرشو سپرلیو خو یې ملانه ماتېده، دتیلو پیسې خوبه یې ایستلې وې. هسې دې خالي روان کړی دی، یابه سرمایه دار یې او په لږو پیسو دې تاتول نه کیږي.» د استنطاق لهجه مخ په درندېدو وه. په همدې کې بهادر خان مرستې ته راغی او ټوکمار منصبدار ته یې وویل، «محب الله زما میلمه دی، زما دوړ کوني دوست دی، ډیر یې مه څوروه، بې هغې یې چرت خپل موټر ته خراب دی.»

داسې راته ښکاره شوه چې ټوکمار د بهادر خان نه په رتبه کې یو څه کوز و ، ځکه نو ، لکه رټلی سپی په کوړنج کوړنج ، بیرته درستورانه وووت ، او غیب شو .

بهادر خان بیا راسره کښیناست او د واړو د امپریالیزم او امریکا غندنې ته دوام ورکړ . هرڅومره چې تیاره کېده د منصبدارانو جوپې زیاتېدې . یوه جوپه د روسي منصبدارانو پنځه کسیزه ډله هم وه . دوی هم د نورو په شان په توشکو کښیناستل مگر چې له یوه نه چې ازبک راته ښکاره شو ، ټولو پښې غځولې وې . هوټلي ، لکه چې د دوی د جمعې د شپې د باندار سره روږدی وي ، بې پوښتنې د پخلنځی نه د سره کړو زرکانو د یوه لوی پتنوس سره راغی او هر یوه ته یې په یوه ټیمي پتنوس کې یو زرک او یوه گرده توده ډوډۍ کیښوده . یو روسي افسر چې هم په ونه د نورو نه ټیټ و او هم ښایي په رتبه کې ، د سرجې کوټ له لویو جیبونو نه د ووډکا بوتلونه ایستل او د هر یوه مخې ته یې کیښودل .

غیر له بهادر خان نه نور افغاني منصبداران د روسانو د راتگ سره ، لکه هلکان چې د مشرانو نه لار چپوی ، یو یو د هوټل نه ووتل .

بهادرخان هم روسانو ته عسکري احترام په ځای کړ . د هغوی مشر ، یو دنگ او خیټو افسر ، ورته وموسل .

بهادرخان په روسي ژبه روسي منصبدار ته څه وویل او هغه سر ، د هو په علامه ټیټ و پاس و ښوراوه . بهادرخان هوټلي ته اشاره وکړه او هغه یوه پلاستیکي لوله د یوې کځوړې سره راوړله . پلاستیکي لوله یې

ویړه کړه ، دشطرنج تختــه وه او په کـځوړه کـې یې دانـې . دواړو سره

واونیلې .

ټول کـارونه دهماغـه پلان لـه مخې کېدل چې په کـابل کې راتـه جوړ

شوي و او مـا لکـه روبات ، مـصنوعي ماشين ، قدم پـه قدم تعقيباوه .

ددغـه پلان اصلي طراح ډاکتر زړور . ښه مې ياديږي چې راتگ نه يوه

ورځ دمخـه دروژې پـه ماښام ديوې کـځوړې خرماسره راغی او دروژه

مـاتې نه پس يې مـاتـه پـه خندا وويـل ، « هلکـه تـه درې صـفتـونـه لرې .

يودې مـوټر دی او بـل دې شطرنج او دا دواړه مـوږ تـه اوس حـاضر پـه کـار

دي . » ماوويل ، « چې دريم صفت مې څه دی ؟ » ده وويل ، « دابه ، که

ژوندو ، يوه ورځ درتـه ووايم . » دشطرنج خبره يې رښتيا کوله . په دې

کال زه ملي قـهرمان شوی وم او دداسې تکړه لوبغاړو نه مې لوبه وگټله ،

لکه سيدحميدالله پاچا ، گران او حاجي سرمعلم .

بهادرخان هم په شطرنج کې بدو کی نه و . زمـا پـه خيـال پـه روسيـه

کې يې تحصيل کړی و او همـاغلتـه يې زده کړی و . دکـابل دمقـاومت

مرکز هم دده پـه دې کمال خبر و .

لوبه نيم ساعت روانه وه ، کـه څه هم چې دده هدايت داو چې ژر مات

شي ، مگر ډېر کوشش يې کاوه چې لوبه وگټي . يابه يې زما زور ازمييه

چې روسـان مې جدی چلنج وگڼي ، دلوبې په مينځ کې يې وزير زما دآس

دخور لاندې کړ ، پس ډېره فکره مې پام شو چې کـه وزير واخلم نو دپيل

په کشت ماتېږم . مـاوزير وانه خيست او بهادر راتـه وموسل او گويا زما

مهارت یې منظور کړ . داسې راته ښکاره شوه چې د روسانو هم مور ته پام شوی او لوبه یې د ستر ګو له ګوټ نه څارله . بهادر خان مات شو . دلوبې په آخر کې دهغوی مشر ، خیتهور قوماندان ، راغی ، کوز تختې ته یې وکتل او بیا یې بهادرخان ته په روسي څه وویل ، « کپتان صاحب غواړي چې ستا سره شطرنج وکړي . » کپتان صاحب ته وو ایه چې مننه ، مګر زه همدا نن شپه کابل ته روان یم ، ځکه هوا مخ په خرابېدو ده او سالنګ په وړاندې دی . د موټر هم خوند نشته »

کپتان په زوره وخندل ، « بس موټر به دې بهادرخان په ورکشاپ کې درته جوړ کړي . » ماوویل ، « ښه دی ، یو څو بساطه به سره وکړو ، بیا شپه په شپه رخصتیږم . » کپتان راسره ومنله ، بهادرخان ته یې څه هدایت ورکړ . هغه د موټر کلی د مانه واخیسته او له هوټل نه ووت . کپتان د نورو روسي منصبدارانو سلامونه ومنل ، زه یې ترلاس ونیولم او دهوټل نه بهر تیارې ته ووتلو . خپل جیپ ته یې بوتلم .

د کیله ګۍ دد ښتې نه او س داغزنو سیمانو کړۍ راتاوده . یوه نرۍ لارچې زموږ جیپ پرې روان و ، هم داغزنو سیمانو د دوو دیوالونو تر مینځ تېرېده ، مګر دا سیمونه په کتارو پورې نښتي وو حال داچې دد ښتې نه چاپېر سیمونه د ښامار په شان کړۍ کړۍ پراته وو او اورېدلي مې دي چې برقي جریان پکې ځغلېدلی و چې څوک دهغې غوڅولو ته زړه ښه نه کړي . هره خواقوي روشني اندازو نه او د سیمانو بهرنۍ خواته ماینونه ښخ وو .

دکپتان کوټه هم دشین تاغي په شان یو ټپلرو ، یو بستر یوې خواته ، یو میز او دوه څوکۍ بلې خواته دیوال ته تکیه ، یوه کړکۍ چې خدازه خلاصېده او که نه ، یو بې شېښه ګروپ د میز په سر ځړېده .

د میز په سرد کپتان د شطرنج تخته د رنګو بنګو دانو سره غوړېدلې پرته وه . کپتان دالماري نه د کنیاکو نیم ډک بوتل د دوو ګیلاسونو سره راواخیست، یو ګیلاس یې ماته ونیو خو ما معذرت وغوښت او غوښتل مې چې ووایم چې ډاکټر منع کړی یم . خو ماته روسي نه راتله او روس ته پښتو . ماوې خپله انګریزی به وریاندې وازمییم . دی موسک شو او په داسې انګریزي چې روسي پکې ګډه وه وویل، « داڅنګه ډاکټر دی چې بهادرخان یې هم منع کړی دی » بیا یې پاس وکتل ،« هغه خو به نه ښیې چې پاس په آسمان کې ناست دی ؟ » زه غلی شوم ده یو ګیلاس کنیاک په یوه ساګړوت کړل. بل ګیلاس یې ډک کړ او شطرنج ته راسره کښیناست . تخته یې واړوله چې سپینې دانې او اول حرکت زما شی، ګویا د شطرنج ادب یې په ځای کړ. خو ماوویل چې سره شکېلوبه یې .

په اوله لوبه کې دواړو ، لکه جنګي چرګانو ، یو دبل زور ازمییه او تعرضي حملې مو نه کولې اولوبه مساوي شوه . دویمه هم چارګوټ شوه .

په دریمې کې ماد وزیر او دوزیر د پیل پیاده ګان دوه خانې وړاندې کړل او ګویا دوزیر ګمبیټ مې وکړ.

یو پیاده مې مفت ورکړ او پوهېدم چې که دی یې واخلي نو بیا به دلوبې تر آخره دهمدې پیاده په ساتنه بوخت وي او په همدې همدې کې

به ما تول سپاره لوبې ته ورګډ کړي وي . اوبیا نو دی دحتمي مات سره مخامخ و . مګر د پیاده همداسې پریښودل هم ښه نه دي . کپتان همدا کار وکړ په لومه کې ونښت او پیاده یې نه یوازې واخیست ، بلکه دهغې دساتلو تکل یې هم کاوه . ډیر ژر مې مات کړ . دریمه لوبه ده وګټله او دڅلرمې لوبې دخوچالونو نه وروسته سره پاڅید او دکنیاکو ګیلاس یې داسې تر خولې ډک کړ چې دبوتل وروستي سور بخون څاڅکي یې پکې ځنځول . همداسې ولاړ و او تختې ته یې کتل اوپه عادي لهجه یې وویل ، « فکر کوئ چې ستاسې مجاهدین به یې وګټي ؟ » ما په تعجب ورته پاس وکتل – سړی په جدیت کې موسک و . ما وویل ، « اشرار ښیې ؟ » ده په همغه موسکا وویل ، « اشرار دي ، که مجاهدین که دشمن او که میتیژنیک ، که باسمه چی ، زما په مقصد پوهیږې! » ما چې لا هم زنه په دواړو لاسو تکیه کړې او دخپل چال په فکر کې وم ، ناڅاپه مې پام شو چې روسی جدي خبرې کوي . مګر مابیا هم په بیطرفه لهجه وویل ، « دوسلو خبره ده . جنګ په وسلو کیږي . اشرار خوستاسو په لسمه برخه وسلې هم نه لري » روس د ګیلاس نه غوړپ تیر کړ او په غوسه ناکه لهجه یې وویل ، « چتیات به نه سره وایو . وسله جنګ نه ګټي . په وسلو کې موږ د هتلر دمقابلې نه وو ، خو کوکارې مو ورنه وایستلې . دجنګ ګټه اوبا یلات په نورو شیانو پورې دی . » داخلې زه ورته موسک شوم « مثلا ایډیالوژي ؟ » روس نور هم په غوسه شو ، « داغلطه خبره ده چې ګوندې زموږ ایډیالوژی په نازیانو بروه نو ځکه مو جنګ وګاټه . حتی

ستالین هم په دې پوهیده او خلک یې د کمونیزم په ځای په موروطن، په روسیې را ټول کړل.»

روسی غلی شو. نه پوهیدم چې ولې یې تر اوسه خوله دومره کاواکه وه. بیر ته شطرنج ته کښیناست او زه د دفعې چال لاړم. بیا نو ډیر وخت په همدې لوبې لګیا وو. په آخر کې لوبه مساوی شوه. عجیبه ده چې لویان هم د ماشومانو په څیر د لوبې په ګټلو خوشالیږي. روسی پوهیده چې ما په لوی لاس ګټلې لوبه مساوي کړه مګر بیا هم خوشاله و.

روسی کښیناست او سریې دومره را ټیټ کړ چې د الکولو بوی یې زما تر سپږمو رسیده. په ټیټ غږیې وویل، «زما پلار د ستالینګراډ په جګړه کې منصبدار و او بیا وروسته همدې ستالین د یوې دسیسې په نامه اعدام کړ.»

ما ویل، «د تاسف خبره ده.»

ده غلی کړم، «داسې په سلهاوو منصبداران یې وژلې دي، په کوم یوه به یې سړی تاسف وکړي. مطلب مې دا و چې ته پوه شې چې زه ولې ستاسو د مقاومت سره خواخوږي لرم.» بیا یې نوسر د تاسف په علامې وښوراوه، «عجیبه ده چې د قهرمان منصبدار زوی، اوس د میتیژنیک سره خواخوږي لري.» د جیب نه یې یوه بټوه را وایستله او یو کوټ کوټ فوټو یې را وښودله «دا مې ښځه ده، دا مې زوی دی یوري او دغه مې لور ده، لارا. د مسکو په اپارتمان کې اوسي.»

زه همداسې غلی ناست وم او نه مې غوښتل چې داسې کومه خبره

وکړم چې که ثبت شي نو داعـدام سند به مې شي. زه دروسي نه څـه چې بهادرخان نه هم وېرېدم او لا هم دهغه تږ کمار منصبدار په فکر کې وم چې څه دسیسې به یې راته سازې کړې وي. عـکس یې بیرتـه په بټوه کې کېښوده اولکه زما په زړه چې خبروي ، وې ویل، « بهادرخان زما دوست دی. ماوده شپې شپې بحثونه وریاندې کړي. دواړه منصبداران یو اویو دبل په درد پوهیږو. دلوګر په کاریز کې چې کپتان الیګ خرخردین زهر وپاشل ، دبهادرخان کورنۍ هم دنورو سره په کې کسکر شوه. »

په کابل کې ماته صرف دومره ویل شوي وو چې یو ناراضي روسی منصبدار دی چې ستاسره به مرسته وکړي ، مګر دایې هم ویلي وو چې شل زره ډالره غـواړي. مـا نـاراضـیـتـوب اوشـل زره ډالره یوله بـلـه پخلاکولی نه شول. که ناراضي دی نو پیسې ولې غـواړي؟ کپـتـان منتظر و چې زه څه ووایم خو زه تکنی او سرېدالـه وم ، په اول ځل مې یوه وطن پلورونکي تـه کـتـل. خوده زمـا په سـاده توب دجـادوګـر په شـان دشیطنت خندا وکړه، « زه ستـا په تکنۍ تـوب هم پـوهیږم. بس را وې شمېره. » مـا هم دکوټ استر وشلاوه او د ډالرو پلاستیکي کڅوړه مې ترې راوایستـه ، د شطرنج په تختـه مې وغـورځوله. کپـتـان بې دهغې دشمیرلو نه کڅوړه لکه چې تلې یې پاس واچوله او په بل لاس یې ونیوله او دبسترې لاندې ننه ایستله. نور نو نه ده خبرې وکړې او نه ما او په کې ځـاییدل هم نـه . په جیب کې یې هوټل ته راوستلم. بهادرخان چې بهر ولاړو. دموټر کلې راکړه او دروسي منصبدار سره یو ځای بې دخدای

پامانۍ دشپې تیاره کې غیب شول . زه دویرې ریږدېدم ، ځکه چې که څه توطئه یې جوړه کړې وه نو همدا یې وخت و چې دوسلو سره مې ونیسي.

موټر مې چالان کړ ، برقونه مې ولګول او سړک ته مې مخ په کابل سم کړ، هیڅوک مې مخې ته نه ودرېدلی . اکسلیټر ته مې پښه اړم کړه او مخ په دوشي مې را خپلې کړې . موټر دروند دروند کېده ، پوه شوم چې دکیله ګي جبه خانه یې پکې رابار کړې ده . ښه وچې دجنګلک په فابریکه کې یې دموټر کمانۍ هم ډبلې کړې وې . مافکر نه کاوه چې دمقاومت چلوونکي به دومره هوښیار وي او په زړه کې خوشاله شوم.

سهار مهال خنجان ته ورسېدم دلړو یوه ترخه ګرده له په وړاندې دسالنګ دپاسه لېدل کېده . هماغلته مې دنورو موټروانانو سره په چایخانه کې سبناری وکړ او ځینو نه مې چې دکابل نه په سالنګ راتېر شوي وو ، دسړک دحال احوال پوښتنه وکړه . ټولو دتګ نه منع کړم. ، مګر ما ویل چې زه خو پرې ورځم. یوه موټروان وویل ، « دتانه مخکې یوبل سرویس هم پاس لاړ او زما نصیحت یې وانه ورید ، خوکه نابلد ډرایور داکار وکړي ګیله هم ترې نشته ، ته خو ماڅو ځلې په همدې لارې لېدلی یې . په هغه بل سرویس کې خو سپرلۍ وې ، کلینر ورسره و. تاسره هیڅوک نشته. » چې پوه شو چې زه نه ایساریږم خپل کلینر ته یې وویل چې زما دموټر په ټیرونو کې ځنځیرونه واچوي. مګر ما ځنځیر نه درلود. نوبیا موټروان په کاکه ګۍ خپل ځځنځیرونه راکړل او چې ماد پیسو تجویز وکړ ، هغه راته په غوسه غوندې شو او وې ویل « ته چې دومره لیونی یې

چې په دې ورځ په سالنګ تېرېږي نو زه داسې ډوس درته ښکاره شوم چې پيسې به اخلم ؟ » کلينر ته يې ويل « هلکه يو بيل هم ورکړه چې هلته بيا خپل قبر ورباندې وکنې. » بيا يې نوماته سترګه وټومبله ، « دامې هسې ټوکه کوله، دسالنګ ليوان تاکله خښيدو ته پرېږدي. » څه وچه ډوډۍ او چای بوره مې دځو سرو کړو زرکانو سره احتياطي دځانه سره واخيستل او روان شوم.

## شپېږم څپرکی

چې دوشاخ ته ورسېدم ګورم چې هغه بل سرويس په پيچو موکې زګيروی کوي او مخ په تونل روان دی. کلينر ډنډه پنج په اوږو پلی ورپسې روان و او چې هوارې ته به شو د يخنۍ د لاسه به ور وخوت، لکه چې د ګرده لې نه د مخه روان شوی و او اوس نشول ستنېدلی. واوره پيل شوې وه او شمال د زګيروي و سره په دره کې انګازې کولې او واورې يې کله د سرک په سر او کله کوز درې ته دوړولې. د ليد فاصله هم څو مترونو ته راکمه شوه. د موټر برف پاکونه او چراغونه مې چالان کړل او د ميږي په يون ورپسې روان شوم. سرويس ته ورسېدم خو د ډاره ترې مخکې کېدلې نه شوم چې د مخې نه به موټر راشي او سرک بې هغې هم نری و. واوره د ګرده لې نه په څپولو بدله شوې وه داسې چې د هغه بل سرويس د ارابو منډ، څو زه وررسېدم، په واورو کې پټ و. سرويس څو ځايه شاته راوښويېد خو کلينر ډنډه پنج راټينګ کړ. ما هم خپله فاصله ساتله. په لار ګې روسانو په هغو ځايونو کې چې د واورې د راشې د

ښویږدو خطره وه د سړک په سر دا لانو نه جوړ کړي دي چې واوره د غره نه د دالان په سر همداسې کوز درې ته وښویږي.

دریم دالان ته چې ورسېدم زما وړاندې سرویس چې ایله لس متره به لرې وو، تری تم شو. ما موټر ودراوه او کوز شوم. هر څه چې مې سترګې غړولې سرویس نه ښکاره کېده، د واورو طوفان او شمال هر کار ناشونی کړی و. د دالان لاندې ځای لا تور و او زه دوه زړی وم چې ترې ووزم که نه. مګر د سرویس تري تم کېدو و سوسه را اچولې وه. په همدې کې مې د لرې ځایه یو غږ واورېد. بیا مې هم د دالان نه هر څو مره سترګې خښې کړې، غیر له سپینو واورو بل څه نه ښکاره کېدل. زیاتی بیصبره شوم خو د سالنګ د واورې مې اورېدلې وو چې ډیر خلک، حتی کلینران، چې یو څو قدمه د موټر نه لرې شوي دي، بیا یې لار نه ده موندلې. د دالان نه بهر واوره تر زنګانه رسیدلې وه او وریالا په زور کې وه. یو ناڅاپه مې د شین تاغي تول باکس ته پام شو چې هلته یوه اوږده رسۍ هم کړۍ کړۍ پرته وه. وېرېدیم چې د جنګلک د ورکشاپ خلکو او یا بهادر خان به هغه بیځایه کړې وي، خو چې مې تول باکس خلاص کړ، پړی هما غسې کړۍ کړۍ پروت و. د هغې یو سر مې د شین تاغي د ورپورې او بل د ملا پورې ټینګ کړ، د بوتل غوټه مې وروا چوله او د دالان نه د غږ په لوري ووتلم. موزې مې نه وې او ایله بیله مې بوټان د واورو لاندې په پښو کې ټینګولی شول. په واورو کې روان وم او ډېر وېرېدم چې د سړک نه کوز درې ته ونه رغړم، ځکه چې سړک د غیر

سرک نه چنداني نه پېژندل کېده. یو څو متره لانه وم تللی چې بیا عږ راغی، په احتیاط مې ځان د سرک څنډې ته ورساوه او کوز مې درې ته کتل، گورم چې، لکه مورږ به چې د هلکتوب په وخت کې په تشت، پتنوس، او کله لاهم هسې په کونوړی د واورې د پاسه ښویندئ کولې، یو وړوکی کنډو کوز ښوېېدلی. ډېر لرې یو تور شی ښکاری. زه پوه شوم چې سرویس کوز خطا شوی. پړی دومره اوږد نه و چې زه ورکوز شوی وای او که وای هم زه بیا څه د تورې بنگړی وم چې تولې سپرلی به مې راخیژولې وای. په همدې فکر کې وم چې یو وړوکی تور شی ترسترگو شوچې پاس راخیژي. چې نژدې شو نو گورم چې بنیادم دی او په خاپوړو راځي. ما ورغږ کړ چې وریب مه ځه، په ښی خواته راځه، مه وار خطا کیږه. کتل مې چې په رښتیا یې لار زما خواته کږه کړه، خو رفتار یې شیبه په شیبه سسستېده او په هر څو قدمه کې به یې دمه کوله. ما هم تر هغې چې پړی رسېده ځان کوز وروڅکاوه. چې څو قدمې ته ورورسیدم، نور نو هغه له حاله لویدلی و او پس د ډیرې اوږدې د مې چې نژدې د نوې واورې لاندې پټ شوی و، په خاپوړو یو څو گامه نور هم پاس راغی. ما لاس وراوږد کړ او لستونی یې په لاس راغی. کش مې کوده او بیا مې نو پړی د هغه نه هم چاپیر کړ او په مدار مدار پاس راختو. د پړي د شلیدو وېره هم راسره وه، ځکه همدا زموږ د ژوند یوازینی مزی و. د همدې پړي په زور سرک ته چې اوس واوره تر نامه رسیده راوختلو او د څو ځلي د مې نه پس دالان ته ورسیدو. په غیږ کې مې شین تاغی ته وخیژ اوه.

هغه مې په بستر واچاوه او بيا مې يې چې د سر او پښونه واورې پاکې کړې پام مې شو چې ښځه وه.

## اووم څپرکی

غاښونه يې د يخنۍ نه سره لګيدل. اول کار چې ماوکړ، د بسترې نه مې قديفه راواخيسته او ددې د بستر مخې ته مې پرده کړه. د ځان سره مې ويل، زوی يې مړ کړې، په دې حال هم ستر. بيا مې د بکس نه لويه توليه راواخيسته او د پردې نه شاته مې دې ته ورکړه «واخله، اول خپلې جامې وباسه، چې تولې خيشتې دي. په دې باندې ځان وچ کړه.» بيا مې نو خپل پاک کميس او پرتوګ د بکس نه واخيستل «بيا نو همدا جامې واچوه.» ناڅاپه مې پام شو چې د ښځې به پښتو نه وي زده، خو بيا مې ويل، تکه توره بلا ورپسې. شيبه پس راووتله، خو د سړونه ريږديده. کمپله مې ترې تاو کړه او ورته و مې ويل «اوس ګرځه، چکروهه، چې لږ وينه دې په رګونو کې و غړيږي، مګر هغه د چکر څه چې ددريدو لا نه وه. ځان يې په بستر کې واچاوه او لنډه لنډه ساې ايستله او ريږديده. د پلار نه مې اوريدلي وو چې د کوم کو چې کيسه يې کوله چې همداسې يخ وهلی و او خلکو په ليمڅي کې تاو کړ او په مځکه يې داسې رغړاوه لکه غړه که چې ښځې موښي. ايله يې په رګونو کې وينه وځغليده. پلار مې ويل په داسې وخت کې د ژوند علامه دا ده چې د وجود سوی شروع شي، ځکه پخوا هر څه کرخت وي. يو خبرداری دا و چې بنده خوب ته پرې نږدئ. ما هم همداسې په کمپله کې تاو د موټر په

غولی واچوله او د غړه کې شاربل مې پیل کړل. ورو ورو مې کتل چې د نجلی سارا شکل آرامه او منظمه کیږي. د پلار د نصیحت سره ما هم تر هغې شاربله چې د سوي زګیروي یې وختل.

بیا مې په کټ واچوله چې آرام وکړي. د هغې د لاس او پښو سوي شروع شوي وو او ژړل یې. څو ځلی مې زړه وکړ چې پښې یې کښیکاږم، خو بیا به لاس نیولی شوم. د شین ټاغي په نغري باندې یو لوی چایجوش و. هغه مې د اوبو نه ډک کړ او به مې تودې کړې او په یوه کاسه کې مې اول د نجلی په پښو سرې او به وا چولې او بیا مې ورو ورو تودې اوبه پرې تویولې. زه هم نه پوهیدم. پخوا هیڅکله د داسې حالت سره نه وم مخامخ شوی، څه مې چې په پوهنځي کې لوستي او اوریدلي وو هماغه مې کول. نور شی خونه و، تینګ سور چای مې په کاشوغه غوړپ غوړپ ورکاوه او دې ته یې هم لکه چې خوندور کړی و، چې زه به لږ ځنډ شوم نو د چای پیالې ته به یې سترګې کږې وې. د بهترۍ یوه علامه دا هم وه چې لر او بر یې د شین ټاغي چوکیو، کړکۍ، نغري او نورو سامانونو ته وکتل او بیا یې زه هم په سترګو وتللم. ما ورته وویل « ته نو اوس کرار آرام وکړه او زه یو ځلې بهر وځم ».

رسۍ مې را واخیسته چې ګوندې یوه ستوې یې کړم چې لږه اوږده شي. همداسې مې یوه ستوې کوله او تر ملامې تاوو له دا کار مې وکړ خو ویریدم چې اوس به نو پړی او مړی اوسست شي. یو سر مې بیا تینګ په ورپورې و تاړه او بهر ته شوم. واوره لا د پخوا په شان په زور کې وه. د

برنډۍ نه ووتلم او په خپل اټکل مې ځان هغه ځای ته ورساوه چې سرويس ترې ښوييدلی و. واورې هر څه پټ کړي وو. په توکل مې لاندې ښوييدل شروع کړل او تر هغې تلم چې زياتی نو پړی ترنځ شو. هره خوامې وکتل، خو د سرويس درک نه و. غږ مې وکړ، خو چو په چو پيا وه او يوازينی غږ دواورې شرنګی و. ښايسته شيبه ودريدم چې ګوندی کوم تور ځای صحيح کړم، هيڅ شی نه و. زه هم يخنۍ وارخطا کړم. بيرته مې قدم په قدم ځان پاس راوڅکاوه او د پړي د شليدو ويرې پسې واخيستم، ختل مې نور هم سوکه کړل، هسې نه چې وښوييږم او په مزي زور راشي. چې پاس وختم نو داسې وم، لکه د واورې ځيره چې مور ماشومانو جوړوله او د پوزې په ځای مو ګازره يا د جوارو توکه په مخ ورخښوله. په برنډه کې مې کالي تک وهل، خو پښو مې لکه چې اورېې اخيستی وي، سوی کاوه. په تادۍ مې د موټر د څنګ نه د هغه آنتن د برنډې نه بهر خواته راکش کړ چې د کانکريټ نه بهر ووځي او په بيړه موټر ته وختلم. ښځه په بستر کې وه. زرمې لږ اوبه وايشولې او سره پياله مې په لاس، کې د ټکور په شان ښه لګيده. د چای سره لږ سړی ورزمه شوم. د شين ټاغي د ننه هوا تياره کيده او د موټر کړکۍ هم بړاس نيولې وه.

ښځې سترګې پرانستلې او وچته کښيناسته. ما ورته وويل، «ته کومه ژبه کوې؟ کدام زبان ياد داری؟» هغې په کمزورې مو سکا وويل، «پښتو» ماوويل، «ښه نو زما خبره په غور واوره! زه لاړم، کوشش مې وکړ، د سرويس پته ونه لګيده، لکه چې واورې پټه کړې ده، څو ک مې

ژوندي بيا نه موندل. » هغې سر وښور اوه او نور څه يې و نه ويل. ما دوام ورکړ، « خبره ورانه ده او که دا برنډه نه وای زه او ته به هم ختم وو. نو داسې به وکړو چې خدای يې کوي. » هغه منتظره وه چې زه ورته خپل پلان ووايم، خو ما کوم زيری نه درلود او ومې ويل « اول خو دا چې موږ اوس ژوندي يو او تر څو دا برنډه نړيدلې نه وي غير د يخنۍ او لوږې نه بل خطر نشته. يو څه شيان خو دلته راسره شته، نغرى هم لرو او اوبه هم. د موټر تودولو چل هم راځي خو خدازده موږ به څو ورځې، يا څو هفتې دلته نښتي يو، دومره تيل نشته چې بخاری چا لانه کړو. بس په همدې يوې بړستنې او کمپلې به گوزاره کوو او گورو به چې خدای څه کوي. » ما لاخبره خلاصه کړې نه وه چې دا خوب وړې وه. دموټر هوا په څو ځلې خلاصولو او تړلو د يخچال په شان سړه شوې وه او ماچکر وهل شروع کړل. چې پوره اته بجې شوې نو د ديوال نه مې د مخابرې ماشين راوښکه او ميزته کښيناستم. د څو اشارو نه پس د هغې خوانه ځواب راغی.

« چيرته يې، موږ درپسې خپه يو »

« په واورو کې گيريم، در ختلی نشم. »

« موږ هم ويريدو. بيا به سره گورو. »

« سره گورو به »

زه پوه شوم چې درې ساعته پس بيا بل هدايت راکوي. ماشينگی مې بيرته په ديوال کې پټ کړ. ښځې په کرار کرار سارانکله. ځير مې ورته وکتل چې دا به څو ک وي. بالاپوش او پتلون خويې د کليو د ښځو

نه و. په رنګ بدو کې نه وه. اوږدې تورې څڼې یې لاخیشتې او خورې ورې پرتې وې. اوږده تور بانه یې د غنم رنګي مخ او جګې پوزې سره جوړېدل. وروځې یې، لکه چې په نوسي لینډۍ کړې وې، د سترګو خواته پریږې او بلې خواته نرۍ.

لاسونه مې د سرو د زوره سره سرویل او په غوسه وم چې یو بسترو، هغه هم دې ښاري شیشکې رانه واخیست.

پوره په یوولسو بجو د مخابرې شرهار شو. زرمې ماشین راوکیښن. ډاکتر زرور و.

«د شین ټاغي مخه بیرته ګرځولی شې؟»

«کوشش خو به وکړم، چې لږه رڼا شي.»

«بس بیرته کوز شه، په هغه زړه لار راشه.»

«هلته هم د شیبرنه سر کې د شنبل تنګی دی چې په اوړي کې هم کنګل وي.»

«شیبر ته مه ځه، په دواب میخ زرین کې، به زموږ سړي درته ولاړ وي.»

«یو میلمه هم لرم.»

«ناممکنه ده.»

«بس دواورو د مینځه راووت.»

«رخصت یې کړه.»

«نه کیږي. سیا سره ده.»

«سیاسره څه مرگ غواړي؟»

«بس دواورو نه راووتله. موټر یې اوښتی و.»

«رخصت یې کړه، امر دی»

«نه کیږي.»

«مه خو گیانۍ کیږه، ختمه یې کړه، امر دی. په دو آب کې به سره خبر شو»

مخابره هم ختمه شوه. ماشین مې ځای په ځای کړ. ډیره شیبه د سړو له لاسه په موټر کې لړ او بر گرځیدم. د پښو گوتو مې سوی کاوه. ناڅاپه ښځه په بستر کې کښیناسته، لړ او بریې وکتل، په لوړ غږ یې ناري کړې «زه چیرته یم؟» ما وویل، «آرامه شه. ته په سالنگ کې، په موټر کې په بستر کې یې.» په چرت کې لاړه او بیا یې ځان راټول کړ او بیرته پریوته، خو چې ما ته یې وکتل چې ولاړ یم نو وې ویل «بل بستر نشته؟».

ما وویل «نه، د شپې هم څه نه دي پاتې، څمله.» هغه پریوته خو څو شیبې پس بیرته راپاڅیده او په نرۍ موسکایي وویل، «په دې بستر کې خو دواړه ځاییږو؟» ما د شرمه ورته نور کتلی نه شو شامې ور واړو له، «چه ستا خوب پوره شي، بیا به زه سره ولگوم.»

سهار مهال واوره ودریده. ما چای دم کړ، یو څه وچې شودې وې هغه مې ورگډې کړې، وچه ډوډۍ مې چې راوړې وه اوس داسې کلکه او گگړه وه، لکه داریا. هغه مې په نغري تاوده کړه. ښځه هم زما په ښکالو

راکښیناسته او د کوڅیو په چوتې کولو یې شروع وکړه. هغې ته مې د شو دوچای او یوه ډوډۍ بستر ته ور وړه. او ما نغري ته هم ځان گرماوه او هم مې سبناري کاوه. وروسته راپاڅیده او د سیلانیانو په دود په نغري وگرځیده، د کړکۍ نه یې بهر دواورو او پرقنده لمر ننداره وکړه. بیا یې ماته وکتل او په خندایې وویل، «اوس نو ستا د خوب وار دی.» ما نور ست ته ونه کتل او بستر ته وختم.

مازیگر مهال مې کوشش وکړ چې د موټر مخه کوز پلو واړوم، خو په برنډه کې دلته هلته باد واوره دلۍ کړې وه او کنگل شوې وه چې د بیل زور هم چندانې وربانديې نه رسیده. په شوا خون مې ترماښامه یو څه مځکه توره کړه خو بیا مې خپلې بې عقلۍ ته پام شو چې که مخه یې راوگرځوم بیا هم د برنډې نه بهر لر اوبر په سرک ترنامه واورې پرتې دي او چیرته موټر وربانديې تلی شي؟ چې موټر ته وختلم نو د سره کړي زرک بوی و. دا زما وروستی زرک و. ښځې هر څه تیار کړي وو او دواړو په کراره او په اشتها وخوړل. د چای په وخت کښ مې هغه پوښتنې شروع کړې چې په زړه کې مې یې غمباده جوړه کړې وه.

«اوس خو په یوه قفس کې لویدلي یو، نو څه دې ویل چې یو بل وپیژنو؟»

«تاوار راباندې ړومبی کړ. ما هم همدا غوښتل. زه به د ځانه درته ووایم. نوم مې دی ترینا، په ما دا نوم بد ولگید.

«ترینا خو فرنگي نوم دی یا به روسی وي.»

هغې وخندل « په اصل کې شاترینه وم خو د نازه مې کور کې ترینابولي. پلار مې مدیر یار مامد خان د سپین زر شرکت د محاسبې مدیر و. خاوند مې نور الله نخباف. . . »

پوه شوم چې د پخې پرچمۍ کورنۍ ده، او میړه یې د امین ورور، عبدالله امین، په خپل امر په کندوز کې اعدام کړی و. خو هیڅ مې ونه ویل. هغې دوام ورکړ، « میړه مې ظالم. امین وواژه، مور او پلار مې کابل ته کډه شول. په کندوز کې مځکې لرو، زه یې په حاصل پسې راغلې وم. وریژې مې خرڅې کړې او بیرته کابل ته روانه یم. » نوره نو غلې شوه. ما وویل، « زه ډاکتر محب الله یم » هغې په خندا وویل، « بس چې دا موټر مې ولید، و مې پېژندې. د کندوز او خان آباد ترمینځ دومره لاره نه دد، ستا د موټر ډنډوره ټولو ته رسیدلې وه. اوس دې ولې د ډاکټرۍ نه موټروانۍ ته ترفیع وکړه ؟ »

« ډاکټری ورکه کړې او د سوال کشکول یې ورک کړې چې هر مریض ته دې نیولی وي. د مریض پیسې داسې وي، لکه د مړي خیرات. اوس کابل ته روان وم چې موټر څه عوارض پیدا کړي، او بیا نو زه پوه شه او د سرویس موټر واني. »

شاترینې په ځیر راته وکتل او بیا یې مر موزه موسکا وکړه، « د مجاهدینو سره خو به کار نه کوې ؟ » ما وویل، « نه، اشرار گوره او ما گوره، که هغوی راغله بیا به د ډاکټر په ځای کوډگر او حکیم جیان د خلکو علاج کوي. » شاترینه یوه شیبه غلې وه او زما د خبرو جاج یې

اخیستـه. بیا یې نو داشتی راخوشې کړه، «نوبیګادې د چاسره، ګره ګته، ګره ګره، ګته، تلګرافی مخابره کوله؟»

د ځان سره مې وویل، محب ګله، لاړې. ایله مې په مخابره کې د ډاکټر زړور نصیحت ته پام شو چې ښځه ختمه کړه. اوس نو دا ضروري شوه. پخوا مې داسې ګڼله چې دا به په دوشي کې چیرته ښکته کړم او زه به دوسلو سره دو آب تـه روان شم. مګر اوس د ښځې ژوندي پریښودل د ملي مقاومت سره خیانت و. په هغه شپه مې شاترینې ته هیڅ ست و نه کړ او پخپل بستر کې پریوتم. څه شیبه پس دا هم راغله او د بستر په څنګ کې کښیناستـه. د سړو نه ریږدیده او زه ترستوني په بړستن کې پټ وم. ډیر وخت همداسې غلې ناسته وه او بیا چې ما شاور واړو له دا هم پاڅیده او د زګیرویو سره یې په موټر کې قدم وهل شروع کړل. ما ته خوب نه راته او په دې فکر کې وم چې په ښځې څه چل وکړم. یوه لاره یې داوه چې د برنډې نه یې وباسم او بیا یې کوز ورغړوم. بله یې دا چې همدلته یې ږ... کړم.

مګر په زړه کې پوهیدم چې یو هم آسان نه وو. ما چې په هلکتوب کې مرغی حلالو له هم به مې مخ بلې خواته واړاوه. پلار مې د نورو په روایت یو څه ناړامی او خونونه کړي وو، خو هغه په ځوانی کې وو، په خوګیانو کې. کتغن دده نـه هم د نورو په شان مړیي (پسه) جوړ کړی و. مور خو مې داسې وه چې زه یې نه پریښودم چې ماښام چې مرغی ځالې ته راځي، هغه وولم. خو له به یې راته جینګه کړه او په ژړه غوني آواز به

يې وويل: « مه کوه، خواره کۍ، خپل کور ګـنګې ته يې پناوړې ده. واړه سـوز ګـوري بچـوړي به يې ورتـه نـاست وي چې اوس بـه مـې مـورکـۍ راځي. »

بيـا مې وويل چې اوس د افـغـانسـتان د مرګ او ژوند سوال دی او زمـا وړې انګيـرنې پکې نه ځـايـيږي کـه دغـه وسله زه و نه رسوم او يا حکومت پرې پخـوا د پخـوانـه خبـر شي، نو ګـويا پـه لوی لاس مـې ملي مقاومت مات کړ او د خيانت دا کړی به تـل په غـاړه ګرځوم. شـاترينه، لکه کوکری چې د کوتې نه بهر پاتې شي سونګيده او لړ اوبر ګرځيده. ما د ځانه سره ويل چې دروس نانځکې، اوس سالنګ ته نځاکوه. خو د ځانه سره يو څه همـاغسې خجالت وم چې په وړ کتوب کې بـه د نورو د لومونه د مرزانو د غـلاکـولو نه پس راته پيـدا شـو. د کوزې درې نـه د ليوانو غم لړلي ساندې راتلې او کله به داسې شور ماشور شو، لکه يو د بل سره جنګونه کوي. پوه شوم چې دا بلاوې د شاترينې د سرويس په مړو لـګيـا دي. د تنهـايي او د پيـريو د نـامراديو څپـه هم د خوب په شـان را باندې راتله. يو ځلې مې کتل چې راغله او پـه بستر زما شاتـه راننوته زه اريان شوم چې اوس به څـه کوم. زه يې د مرګ تابيـه نيسم او دا پـه بسـتر راننوځي. يوعجيبه وړمه ترې راتله، د پردی بوی. ډاکټران پوهيږي چې هر بنيادم ځانله بوی لري چې پخپله پرې نه پوهيږي خو، لکه د ګوتو نښه د همـاغـه بنيـادم د پيژندو عـلامـه وي. سپی او غـوا هم خپل او پردي پـه همـدې پيژني، خپل بچي ته پی، راپريږدي او پردی وشړي. په اولـه کې

سره نیولی او شخ پروت وم خو ورو ورو بستر تو د یده او ورسره د خوب
ځپې راتلې. نه پوهیږم چې د ځوانۍ ځپه وه او که د یخنۍ زور، خو لکه
موږ به چې په هلکتوب کې د شارو د بچي د پاره د ملخانو د نیولو تکل
کاوه، په ګونډو به کرار کرار ورنږدې شوو چې رانه تم نه وي او نه کړې،
شاترینه، لکه زنځه ورو ورو راوښوییده، او ما هم ځان ترې لرې نه کړ.
سهار مهال ړنګه بنګه په غیږ کې راته پرته وه.

****

په خوب کې مې یو څه ښکالو واوریده او چې راویښ شوم نو یو
قسم کریغې او غرهارۍ و چې کله به راغی او کله به غلی شو. په ځای
کې کښیناستم. شاترینه مې ولیده چې د چای د پاره اوبه ایشوي او د
کړکۍ نه بهر خواته ګوري. پاڅیدم او د موټر نه کوز شوم. دا هم راپسې
راغله. لمر داسې د واورو د پاسه ځلیده چې سترګې مې و بریښیدې. هیڅ
شی نه ښکاره کیده. بیرته موټر ته ننوتو او نیمه وچه ډوډۍ چې د یخ د
لاسه ګګړ ګرځیدلې وه او زموږ وروستی ذخیره وه په شریکه په چای کې
لمدوله او خوړله مو. یو نیم غبر او د موټر غرهارۍ لا هم را ته. بیا ووتلو او
داخلی مې یو تور لوګی ترسترګو شو چې د کوز له خوا په هوا او بیاورک
شو. شاترینې ته مې وویل «تا هم دود ولید؟» هغې وویل «هو، لکه چې
د کوم موټر وي». ډیره شیبه پس د یوه تراکتور د دود نلۍ په یوه کږ ـ
لیچی کې راپیدا شوه او بیرته ورکه شوه. اوس نو موږ دواړه احساساتي
شوي وو، هغې زما لاس نیولی و، درګرده یې سولا وه. ناڅاپه تراکتور

را پیدا شو او دا ځلي موغوند ولید. د هغې تر شا دوه نور ټراکتورونه وو. د سرټراکتور د سرک په مینځ کې پل ایسته او وروستني یې هر یو ذ سرک یوې خواته سره غبر گ روان وو او واوره یې د سرک دواړو غاړو ته غورځوله. مگر ما ته یې یون د میږي ښکاریده، ویریدم چې بیرته ونه گرځي، پړی مې را واخیست، ملامې و تړ له او غوښتل مې چې ورپسې ورشم خو شاترینې مې لاس ټینګ ونیو، «مه ځه، یو ته یې، چې تا هم رانه واوره وخوري بیا به څه کوم؟» یو څه حیران او تکنی شوم. په غوسه مې وویل، «تا راسره څه پې پرېښې دي؟» خو هغې نه خوشې کو لم. عجیبه ده چې د شاترینې لاسونه هم پاسته وو هم محکم.

ناچاره مې پړی له ملا خلاص کړ او بیرته موټر ته وختم چې یو څه مې د زړه د رزاکمه شي. هم نجات ته خوشاله وم او هم ورنه ویریدم چې په ماپسې نه وي راغلې. د کړکۍ نه مې مخکیني ټراکتور ولید د برنډې بهر ځای ته راورسید. شا ترینې ته مې وویل چې ته ځان خلکو ته مه ښکاره کوه، زه ورکوز شوم. که گورم یو سورسری روسی د ټراکتور په جلو ناست دی. کمیس یې په ځان نه و، سگرټ یې له خولې ځنگیده. روسانو د خپل دباو د ښودلو د پاره په ژمي کې همدا سې نمایشو نه ورکول. کله به روسي چې نیم به لغړ و واورې په ځان موښلې او سپرلیو به یې د سالنگ په ژمي کې ننداره کوله. مگر دې هم نتیجه نه وه ورکړې ځکه خلکو به د همدغو باتو روسانو پسې ویل چې د خوگ غوښه یې خوړلې، ځکه په ځان نه پوهیږي. ترڅنگ یې یو افغاني معابر و چې ټول

په سرجی جا مو کې پټ و، جرابي خولۍ یې وه چې یوازې او بلنې سترګې او خوله یې ښکاریده چې براسونه ترې ختل. دواړو په روسي خبرې کولې. اوریدلي مې وو چې هر روسي ځانله یو افغاني ګوډاګی درلود. د ترجمان نه مې پوښتنه وکړه چې تونل به کله خلاص شي. ده روسي ته ترجمه کړه او روسي داسې په زوره وخندل چې د خیټې ګونځې یې سره وپړپیدلې « تونل؟ زرخلاصیږي. په دوو درو هفتو کې، غم یې مه کوه. » بیا جدي شو او په ګوتو یې ورځې شمیرلې، دوه ورځې ترتونله، بیا لس یا دوولس ورځی، د تونل جنوب ته ترجبل سراجه .... » ترجمان وویل « ایله په دوو ورځو کې د خنجان نه دلته ورسیدو. هغې خوا خو واوره بیخي زیاته دده. نو ښه به داوي چې د موټر مخ واړوې او بیرته خنجان پلولا ړشی.

په لاس مې شوروي ته هغه واوره و ښوده چې لاهم د برنډې په مینځ کې د موټر شاوخوا خره وه. هغه تراکتور پرې راپریښود او پاکه یې کړه. ما د موټر مخ بیرته کوز پلو راواړاوه. پخوا تر دې چې روان شم ترجمان ته مې وویل « لس شل متره بره خوا سرویس د سپرلیو سره کوز لویدلی دی چې خبریې واخلئ چې څوک ژوندی دی او که نه. » نور مې د هغه ترجمانې او دروسي ځواب ته ونه کتل او موټر مې روان کړ. له پیچو مې چې پناشوو، شاترینه د بسترنه راغله او په څنګ کې مې کښیناسته. په خنجان کې تم نه شوو او ماغوښتل چې په بیړه ځان دوشي ته ورسوم چې له هغه ځایه زړه لاره ونیسم. شاترینه خوشاله معلومیده او ځان یې بې

سببه رانژدې کاوه. چې ما په اوږه پورې وهله . دې را ته په معصومانه خندا وویل، «ډېر تیز روان یې، د موټر ټکان مې خوځوي.» ما ورته ونه ویل چې دا څنګه ټکان دی چې بلې خواته دې نه ټیل وهي او نژدې ده چې زما په غېږ کې دې کښېنوي؟ تر دوشي پورې مې په زړه کې د شیطان او رحمن مقابله وه. وژنه یې، مه یې وژنه. د اسلامي احکامو نه نیولې، ترپښتني عنعناتو او حتی د شاعرانو او حکیمانو پورې ټولو ته مې روی ورووړ. نه پوهیدم چې کوم امر د شیطان دی او کوم د رحمن؟ که قسم ورکړم چې چا ته به د مخابرې حال نه وایې، نو د پرچمي په قسم څه اتبار؟ که یې وژنم، د هغه شاعر خبره راته ولاړه وه چې «تو از چنګال ګرګم در ربودی* چو دیدم عاقبت خود ګرګ بودی.» په دې خو خوشالي نه وه په کار چې د مخابرې په موضوع نه وه خبره. پخپله مخابره د اعدام د پاره کافي وه. یوې خواته دا متل راته ولاړ و چې مار وژلی ښه دی او کار کړی. بلې خواته خوګیانې واله وه چې هغې بله سرنده غږوله. د خنجانو نه کوز هوا نرمه شوه. واوره نه وه او د سرک سیند لورې کوز هلکانو د شولو په ټټیوکې چې اوس یې مازې سوارې (وډ) پاتې وې ورې پیول. داسې راته ښکاره شوه چې نجلۍ زما په اندیښنې پوهیږي. هغې هم ځان را ټول کړی و او په فکر کې ډوبه وه. مازیګر دوشي ته ورسیدو. د بازار په لر سرکې مې موټر د سیند په غاړه ودرواوه. ورته و مې ویل، «شاترینې. ته همدلته کښېنه چې زه لږ زهر او مرګ راوړم چې دواړه د لورې نه مرو.» هغې وویل، «زه به هم درسره لاړه شم؟» ما

وویل، «نه. زه د سیاسرې سره په بازار کې په چکر روږدی نه یم.» هغه مو سکه شوه او نورېې هیڅ ونه ویل. ښکته شوم او یوه آشنا هوټل ته لاړم. هوټلی ته مې پس د روغېړنه د شلو سرو کړو زرکانو فرمایش ورکړ. هغه راته په حیرانتیا موسک شو، خو وریتول یې شروع کړل. خپل شاګرد یې واستاوه چې یو څه زرکان د نورو هوټلونونه پور کړي او شل تودې ډوډۍ راوړي. په هوټل کې د مسافرو ګڼه ګوڼه وه چې د کابل په نیت روان شوي او د لارې د بندیدو د لاسه دلته دوشي کې ګیرپاتې وو. اکثریې چپن والا، موزې او کلوشې والا وو. خپلو بسترو ته یې تیکه کړې وه او چایونه یې څښل. د ټولو ماته پام و چې په شلو زرکانو څه کوم. زما په ساده ګۍ او ښاری توب تخنیدل. د شلو زرکو په پیسو روغ پسه کیږي. ما یوه ګرده ډوډۍ د هوټلي د څنګ پیچلي دسترخوانه واخیسته او په ولاړې مې شخوند پرې واهه چې ګورم دوه منصبداران، چې سرې پټۍ یې په ګریوان او بازوګانو لګولې وې هوټل ته راننوتل. ماټکان و خوړ او د هوټلي سره په خبرو شوم چې مخ مې و نه ویني. خو چا په شاوټپولم. مخ مې واړاوه او د ټوکمار منصبدار په لیدو مې غوني زیږ شو. د ځانه سره مې وویل «لا حول ولا، صورته، تیږه شه» او روغبړ ته مې خوله بیرته کوله چې هغه راباندې ږومبې شو، «او هو، زموږ د کندو شاته ختیختې راغلي دینه. ته د کیله ګي نه په درو شپو کې ایله تر دوشي راورسیدې او که دې بیا موټر عوارض پیدا کړل؟» ما کوشش کاوه چې غږ کې مې ریږد ونه ویني او په سالنګ کې د بند پاتې

کیدو کیسه مې ورته وکړه. په همدې وخت کې هوټلي راباندې غږ کړ چې زرکان تیار دي. ټوکمار منصبدار ډ ک پتنوس ته، بیا یې ما ته وکتل، « زه پوهیدم چې ته سرمایه دارېې، خو په دې نه پوهیدم چې په یو سر دو لس زرکان ګروت کوې او که سپرلی لرې؟ » ما یو ګونګ ځواب ورکړ « دواړه صحیح دي. » زر مې هوټلي ته پیسې ور کړې، ده او دده ملګري ته مې په لاس سلام ورکړ او په داسې قدمونو چې بیړه ترې ښکاره نشی، راووتلم. په منډه موټر ته ورغلم. شاترینې میز صفا کړی و او په غورد کې ناسته وه. د زرکانو او تودې ډوډۍ بوی ته یې د شوقه سترګې پټې کړې او بې د بسم الله یې پیسبه وریاندې وکړه. زما اشتها لاړه وه په خپله مخه. د ډرایور سیټ ته ورتلم چې په بیړه موټر روان کړم، خو ګورم چې ټوکمار منصبدار مې مخې ته شین شو. دالا څه چې پاس راوخوت. د ښځې په لیدو یو څه ټکنی شو خوسړی ډیر جدی معلومیده او وار د وارد یې شروع وکړه، « خور جانې ته به لږ د موټرنه ووځې چې زه د محب الله خان سره یو څو خبرې لرم. » شاترینه هیڅ وارخطا نه شوه، وې ویل « نه، زه نه کوزیږم. ته خپلې خبرې کوه. » منصبدار ما ته وکتل او بیا یې بې مقدمې وویل « ښه دده. ته په موټر کې مخابره لرې؟ » ما په خندا ځواب ورکړ، « که لرلی مې، تا ته به مې مخابره کړې وای چې په یوه هلیکوپتر کې زرکان راواستوه او د سالنګ د یخنۍ نه مې بچ کړه. »منصبدار دې ټوکې ته ونه خندل، « د همدې سیمې نه ورمه شپه کابل ته مخابره شوې ده. » ماوویل « زما یې پرې څه؟ » هغه وویل « تا به

کړي وي. » د «به» د استعمال نه پوه شوم چې سړی د شک په حال کې

دی. ما هم پیشنزو وکړ، «په خلقي نظام کې خو د زد گفتن او بربستن

نشته، نو ته څنگه په ما ناطقه حکم کوې؟ » هغه وویل، « ناطقه حکم نه

کوم. دغه مخابره یاد کوم موټر نه شوې ده چې که دا کار شوی وي نو ستا

موټر د ډیرو بد او بلاو نه ډک دی. او یا به د کوم کور یا بل مرکز نه شوې

وي، چې زموږ نور ملگري یې په لټون کې دي. » شاترینې خبره پکې گډه

کړه، « مخابرې څه ویل؟ » منصبدار وویل « خدازده، څه شفر به وما ته

یې مضمون معلوم نه دی، بس وظیفه راکړ شوه چې د دوشي او سالنگ

ټولې توابې وړپسې وغواړم. حتماً د اشرارو لاس پکې دی. » زما زړه

درزا شروع کړه. خوشاترینې په مفصل ډول ورته د سرویس د اوښتو او د

خپل نجات کیسه تیره کړه او بیا یې وویل، « دادرې شپې کیږي چې زه په

همدې موټر کې یم. » منصبدار ورته وویل « خورې، پوښتنه عیب نه

دی، ته څوک یې؟ » شاترینه موسکه شوه او د جیب نه یې یو عکس

لرونکی کارت راوایست او منصبدار ته یې ورکړ. منصبدار د هغې مخ او

شا او امضاگانې په دقت وکتلې او بیا یې وویل، « ملگرې ترینا، موږ

ټول د تادنامه او انقلابی کارنامو سره آشنایو. ستا خاوند چې امینیانو

مړ کړ هغه د ټول کندوز ولایتی آمرو. موږ هم د امینیانو ستړه وایستله او

کلیمه گوی مو ورپرې نه ښود. » ما په تعجب شاترینې ته وکتل خو هغې

خپله معصومانه موسکا راباندې ازمیله. ټوکمار منصبدار په ډیر

احترام وویل « ملگرې ترینا، زما گستاخي معاف کړه، نه مې

پیژندلې. » شاترینې په رسمي لهجه وویل، « فرق نه کوي، موږ ټول باید د انقلاب ګټې تر هر څه مقدمې وګڼو. » منصبدار وویل، « که ستا اجازه وي موږ به دد غه سړي موټر ولټوو چې د مخابرې ماشین پکې شته او که نه. » شاترینې په آمرانه لهجه وویل: « ما چې د خپلو درو ورځو کیسه درته بیان کړه هغه ستا د ساعت تیرۍ د پاره نه وه. ما ویل ته به پوه شې چې که مخابره شوې وای زه به پرې خبره وای. » منصبدار وړوکی شوی و خو بیا هم لکه ځیلې ماشوم د خبرې نه نه او ښته، « ملګرې، کیدای شي چې ته به هغه ساعت د موټر نه کوزه شوې وې او ده به مخابره کړې وي. » شاترینې ترخه خندا وکړه، « ته وایې د سالنګ په هغو ساړو کې به زه د موټر نه کوزه شوې وم او ده به بیا ماشین چالان کړی وي او هلته به په کابل کې سړی ورته تیار ناست و او دا ټول کارو نه به یې کړي وي او زه به د موټر نه بهر یخنۍ کنګل کړې نه وم؟ په رښتیا چې د لینن خبره، په انقلابیونو کې هم احمقان شته. » منصبدار بیا خبرې ته ځان جوړاوه چې شاترینې پرې برچ وهل: « بس په حیا کې ښکته شه او که نه ستا آمر ته تلیفون کوم. » د ټوکمار منصبدار مخ تک سور شو، ژبه یې په شونډو څو ځلې راښکله خو خبره یې ونه کړه او د موټر نه کوز شو. شاترینې راته ځیر ځیر وکتل، « د مارکس دا خبره مې ډیره خوښه ده چې د نړۍ سالنګ څپلو سره یو شئ او په زرکانو مزې وکړئ. »

خو ډوډۍ زما ترستوني نه تیریده. دا دویم ځل و چې ټوکمار منصبدار د سپي په شان رټل شوی و، خو زه پوهیدم چې دا قسم خلک په

اسانه د خپل ښکار نه لاس اخیستوني نه دي. په ظاهره کې خو یې زما په کمزورۍ، گوته نشوه ایښودلی مگر د زړه په کوم گوټ کې رابانديږ شکي و، لکه خوروړی سپی چې د فقیر نه چار چاپیره گرځي او کله یې لستوني ته خوله واچوي او کله پایڅې ته، بس گرځي چې چیرته به یې غاښ ونښلي. شاترینې ته مې وویل چې د ډوډۍ سره راښکته شي او د سیند په غاړه دې ناسته وي چې زه په موټر کې تیل واچوم. د بازار په بل سر کې د تیلو ټانک وچې په لاس چلیده. دوه بوتلو نه پکښې ولاړوو چې د بمبه کولو سره به یوډ ک شو او هغه بل به په موټر کې تویيده. هلته زما بیره وه او دلته د بوډا ټانک والا متې د کړکي په شان وچې وې او چې به یې لس پمپونه ووهل بیا به ستړی و. زه هم ورسره کومکي شوم چې ایله مو په نیم ساعت کې ډ ک کړ. هسې خو دوه فالتو ټانکی لاډ کې وې مگر نامعلوم سفر په مخکې و او زه چې له آره بې زړه سړی یم، تل احتیاط کوم. هرې خواته مې کتل چې تو کماره بلا بیا راپسې رانشي. چې د سیند غاړې ته ورسیدم شاترینه د ما ښام په لمانځه ولاړه وه. تراوسه یې زما جامې په ځان وې او د هلک په شانې ښکاریده. ما هم په بیړه چار اندام وکړ، دا اول ځل و چې پس له څلورو ورځو د مسحې په ځای اودس کوم. او په لمانځه ودریدم، بس فرض مې وکړل. په بیړه موټر ته وختم او چالان مې کړ. هغې سلام وگرځاوه خو بیرته ودریده او نیت یې وتاړه. ما ورغږ کړ: «لیانن نه وویلي چې دین د ټولنې اپیم دی؟» خو هغې په اوږدو آیتونو لمانځه ته دوام ورکړ. د زیگمون فروید دا خبره را یاده شوه

چې د ښځې د تادې او بيړې سره ورانه ده. چې خلاصه شوه نو اوږده دعاېې وکړه يا به ما ته د حده زياته اوږده ښکاريده. ددې هم زما بيړې ته پام شوی و او په زغرده موټر ته راوختله. د دوشي په پله تير شوو او زړه لارمو ونيوله. سمدلا سه خو زما نيت دا و چې هر څومره چې کيدای شي د تپوکمار منصبدار نه لرې شم. نيم ساعت مو مزل وکړ او تر شا هم کوم څراغ راپسې نه راته. موټر مې د سړک نه کوز د سيند غاړې ته کوز کړ. هماغلته مې ماشين او څراغونه مړه کړل او د سيند غاړې ته کوز شوم، شاترينه هم راپسې راغله. دواړه مخامخ د سيند د غاړې په تيږو کښيناستو او شاترينې وويل: «اوس ددې پټ پټوني حکمت راته بيان کړه.» پس د ډيره فکره مې ايله د خبرې لړی جوړه کړه، «يو څو ساعته به همدلته يو چې شپه پخه شي. بيا دې نو بير ته دوشي ته بيا يم او همالته دې پريږدم. نور نو ته پوه شه او کار دې.» په تيارې کې مو يو د بل مخونه نشو ليدلی او دا حالت زما خوښ و، ځکه چې سترګې مې کتلی نه شوې چې ترې وشرميږم. هغې په تعجب وويل، «دلته مې په سارا پريږدې؟» ما وويل: «نه، خپل آشنا هوټلي سره دې معرفي کوم. هغه به يا کوټه درکړي، يا به دې بل موټر کې سپره کړي چې بير ته کندوز ته لاړه شې او يا... » هغې وويل «او يا څه معنی؟» ما وويل، «او يا به دې تپوکمار منصبدار ته وسپاري چې د خپل ګوند دې دی او کومه لار به دروښيي.» هغې پوښتنه وکړه «ته بيا څه کوې؟» ما په رښتيا هم ځواب نه درلود. و مې ويل: «زه ځواب نه لرم، بس ځان به چيرته پناه کړم، چې

د سالنګ لار خلاصه شي بیرته به کابل ته روان شم. » هغې پس له ډیر فکره وویل: « ته وایې، هغه به درته لار نه وي نیولې؟ نورو تاڼو ته به یې خبر نه وي ورکړی؟ که یوازې او جره وای، ورڅه یو قسم به تیر شوی وي. دا ستا موټر خو د پټیدو نه دی. » ما وویل: « خدای راوستې ده. » بیا نو غلي وو. د تیارې د زیاتیدو سره د دوشي د سیند غږ مبهار هم زیاتیده. د سیند نه پورې غاړې، له لیرې د چا د « کرو کرو » نارې راتلې زه پوهیدم چې کوم آس یا بهانې د کور نه بهر پاتې دی او خاوند یې رابولي. شاترینې د شپې چوپایي ماته کړه، « ته به حال وایې، که به یې نه وایې، خو زه یو څه دریاندې پوه شوې یم. » ما وویل: « څه پوه شوې یې؟ » دا هم، لکه خبره چې جوړوي، ډیر شیبه غلې وه. بیا یې وویل: « نوره نه پوهیږم خو څه پسات درکې شته. زما په تحلیل د مجاهدینو سره یې. » ما یې خبره غوځوله خو دې دوام ورکړ، « زما په خیال کوم پیغام یا کوم شی، مجاهدینو ته رسوې. مخابره خو دې ما ولیده مګر زما په خیال په دې موټر کې دې کوم شي پټ کړي دي. » زه هم حیران شوم او هم په خپلې ساده ګۍ په غوسه. دا دومره شفرونه، دا اسرار آمیزه حرکات، دا بهانې او نمایشونه، ټول یوې عادي ښځې ایسته په ډیران کې راته و غورځول، ټول طلسم یې راله مات کړ. نور نوماته د انکار یا اقرار د پاره څه پاتې نه وو. شاترینې زما وارخطا یی نه لیده خو زه پوهیدم چې دا پوهیده. د هیلیو یږ سیل زموږ په سر تیر شو او وزرو نو یې شرنګهار کاوه. د سیند پورې غاړه له کوم کلي نه د سور لنډیانو نول شروع شو او د سپو غپا هم

ورسره غبرګه شوه. د غوغړونو، لکه د تل په شان د یوازیتوب، خپګان او د خپلې ناکامۍ د احساس څپه راپاندې راوسته. په دې بې پایانه او بې غوره دنیا کې انقلاب، جهاد، مقاومت، هسې لوبې وې. سبا به مړ یو هم نه یو او بیا به هم د شپې سورلنډي نو لیږي او د سپو به ورسره سوال او ځواب وي. شاترینه هم، لکه چې زما په فریکونسي راغلې وه، هغه هم غلې وه. ډیر وروسته یې، په داسې غږ چې د شپې خاموشي خرابه نه کړي، وویل: « که زه ووایم چې زه هم د مجاهدینو سره کار کوم و به یې منې؟ » ما وویل، « نه ». دې وویل « سمه ده. که ووایم ستا د ایدیال سره خواخوږي لرم و به یې منې؟ » ما وویل، « نه » دې وویل « د پړانګ او پاڼ ترمینځ ګیریې. » ما ومنله. « همداسې خوښکاري. » هغې کټ کټ وخندل، « د وتلو چل درځي؟ » ما وویل: « بس دومره پوهیږم چه تا باید دوشي کې پریږدم. » هغې وویل، « دایې چاره نه ده. زه به قوماندان ته څه وایم چې ډاکتر د سرویسه سره په کوم سیند کې لاهو شو؟ » ما وویل، « ورته ووایه چې ډاکتر د مجاهدینو سره کار کوي، مخابره همده کړې او اوس په زړه لاره د کابل خواته روان دی. » هغې په خندا وویل « ستا سره خو همدا ښایي. خو که دا مې کولی په دوشي کې یې ښه موقع وه. بله لار راوښیه. » ما وویل « بله لار دا چې همدلته دې سیند کې لاهو کړم. » هغې بیا وخندل « دا سیند خو د دوشي خواته بهیږي. هلته چې د مشهورې پرچمۍ مېرې ستا منلی قوماندان د اوبو نه راوباسي نو بیا به ښه تری خلاص شې. » دې خندل او ماته غوسه راتله. دې په جدي غږ

وویل «ډاکټر ګله ته اوس غوړشه. ته ښه سړی یې، نیک سړی یې خو د انقلاب او توري سړی نه یې. په دې درو ورځو کې مې یو څه وپیژندلې. که تاوژل کولی شوای، هماغلته په سالنګ کې به دې کوزه رغړولې وم چې هیڅ بیلګه نه وای پاتې. ما په پوهنځی کې روحیات لوستي دي. تا چې د ډاکټری د پریښودلو په باب دا با نه راوړله چې د سوال د کچکول نه دې کر که لر له داسې نه ده، ستا د مرګ او وینو نه ویره کیږي، نو ځکه دې ډاکټري پریښوده. » ماتري پوښتنه وکړه، « ته چې دومره فالبینه یې، نو د آینده اټکل هم وکړه. » هغې وویل « دا فالبیني نه وه، د شواهدو مخې اټکل و. » ما وویل : « مارکسستان د هر شي د پاره ځواب لري. بس د دیالکتیک منطق په ماشین کې یې واچوي او چې د ماشین نه وځي نو علمي نتیجه ګیري شي. همداسې نه ده؟ » هغې په قار وویل، « ته یې چې هر څه ګڼې، ستا کار دی. خو زه ستا په ژبه د توکمار قوماندان نه ویره لرم، ستا د پاره نه، بلکه پخپل ژوند هم ویریږم. » زه د ځانه سره خوشاله شوم چې دا هم ګیر وه. ورته و مې ویل « اوس چې دواړه په ما ته بیړۍ کې سپاره یو نو ستا تجویز څه دی؟ » هغې وویل، « بس هر چیر ته چې ځې زه درسره قنجوغه یم. تا د مرګ نه خلاصه کړې یم او ته به مې کابل ته رسوې. » شپه پخه وه او ستورو د سپند د رڼو اوبو په مخ دلته هلته سپرغۍ جوړولې. پس د ډیر فکر او تحلیل نه مې وویل، « ما د مارکسست نه د داسې احساساتو تمه نه درلوده. » هغې په خندا وویل، « مارکسست چې شو، کاپر خو نه شو! » په اول ځل دواړو وخندل.

ما وویل: «داسې به وکړو چې خدای وکړي. ما دې لمونځ ولید نو نور به داخبرې پرېږدو خو یوه پوښتنه درنه کوم. ولې دې زه تږکمار قوماندان ته په ګیرورنه کړم؟» هغې وویل «بس داسې یې و ګڼه چې دروغ ویل زما زوړ عادت دی. اوس خپله خبره کوه.» ما وویل، «ځو دو آب ته، هلته یو څه کار لرم، بیا به سیغان و کهمرد ته لاړ شو څو ورځې به زما د پلار د یوه دوست کره تیرې کړو، بیا به ګورو چې خدای څه کوي. د سالنګ لار به هم خلاصه شوې وي.»

## اتم څپرکی

زړه لار کچه ده، قیر نه لري بلکه، د هغې ورځې چې د سالنګ لار خلاصه شوې بیا د زړې لارې د احوال پوښتنه چانه ده کړې او نه وربانديې د پخوا په شان دلته هلته معابرو کار کړی دی. د تایرونو نه مې ځنځیرونه خلاص کړل او په تو کل روان شوو. په لار کې به کله کله کوم ځناور د سرک نه تیریده او د موټر رڼا به یې سترګې وځلولې. شاترینه مې ځنګ ته په ناستې خوب وړې وه او کله به زما خواته را ړنګه شوه. ما ورته وویل چې لاړه شي بستر کې پریوځي، خو هغې ویل چې د موټروان سره څوک په کار دی چې ویده نشي. ما د ځان سره ویل، عجب به مې وینې وساتې. د کیان د درې نه چې پخوا په سرک او به راتلې او د سرک په سر سیند ته تیریدې او په عمر کې چاپول وربانديې نه وجوړ کړی، اوس هم روانې وې. دا لار لویشت لویشت ما ته معلومه وه خو اوس پسکې نورې کندې او ژور غالي پیدا شوي وو او شین تاغی د کپچه مار د غاړې

په خیر له یوې خوا بلې ته ځنگیده. د شپې څوپایی مې خوبښیده او چې به شاترینه په ماولگیده نو خدای شته چې لابه یې خوند راکاوه. سترگې په سرک ښښې وې او فکر مې دې ته و. کاپره ښځه وه، هوښیاره، په خبرو پوهه، مهربانه. یره که کمونسته نه وه وای! یا به کمونسته نه وه او هسې به په کې ښښتې وه. یوې سودا تخنولم. په ځنگل مې شاترینه راویښه کړه. هغې وویل «څه خبره ده؟» ما وویل، «هسې سودا راولویده چې هغه د لینن خبره چې تا منصبدار ته وکړه چې په انقلاب کې هم احمقان شته، لینن په رښتیا دا خبره کړې ده؟» شاترینې په خوبیولې غږ وویل، «ما درته ویلي چې زه لمویه دروغجنه یم.» او بیرته د تتې موسکا سره په خوب لاړه. د شپې دري بجې تا له و برفک ته ورسیدو چې نوم یې غټ دی خو نه ښار لري او نه بازار، بس یو پوځل دی چې هغې غاړې ته یې دو آب دی. د پله اړخ ته مې موټر ودراوه او لاړم بسترکې و غځیدم. شاترینه هم ویښه شوې وه، راغله زما څنگ ته پریوته.

د زرکو کرکړو د خوبه راپاڅولم، لمر ختلی و. هوا یو څه نرمه شوې وه. شاترینه موټر کې نه وه. ووتلم. هغه د سیند په غاړه ناسته وه او سریې ږمنځاوه. ورغلم. اوس چې یې د سفر خیرې یو څه لرې شوې وې، نو د خریدار په نظر مې ورته وکتل ښایسته وه. اوږدې ځنې یې په مخ رااړولې وې او ږمنځولې یې، بیا یې شا ته واړولې او ږمنځولې یې. ما یې ننداره کوله. عجیبه ده چې ښځې خپلو ویښتانو ته هم ناز ورکوي. په خندا مې وویل «اوس یې هر تار مه شمیره، راځه چې درومو.» هغه هم

د تازه کیدو سره یو څه مسته شوې وه. پاڅیده او د نڅا په دود یې لاسونه جګ کړل او وڅرخیده او په بدلو یې پیل وکړ، «کینه پاڅې ځم، خوارۀ درته راوړم، سابه درته پاخم. ځم در سره، خونه دې ورانه شه ډاکتره.» په نڅا نڅا موټر ته راوختله، بیا نو نه مستي وه نه بدلې، د اوږدو څنونه یې په مخ او به بهیدې، لکه باران وهلې شارو خیشته پیشته عاجزه په سیټ کې کښیناسته.

ددوآب دولتي هوټل د بازار نه وتلی، د غونډۍ په سر ودان شوی او ګرځندوی یې چلوي. هوټل ښه مضبوط جوړ شوی، او د لرې نه یوې شاهي کوټۍ ته ورته دی.

سپین دیوالونه، آهن پوش. مګر اوس یې د دیوالونو پترې نیولې وو او د لویې شنې دروازې یوه پله یې کمبود وه او د هغې په ځای د بوجۍ یوه پرده ځړیده. موټر مې د یوې ونې لاندې ودراوه او هوټل ته ور وختم. د یوې کوټې نه یو څه لوګی بهر راوته. چې ورننوتلم، آبدان لرونکې بخارۍ د کوټې په مینځ کې چالانه وه او بړاسونه یې ختل. یوه سطرنجۍ پرته وه او هرې خوا ته بسترې د یوا له ته تکیه وې. دې کوټې یوه پسخانه لرله، هلته پنځه رېږې ناستې وې په دووکاسو کې یې ښوروا شړپوله. زما په لیدو لاس نیولې شول. یو یې راپاڅید او دروغبړ سره یې لاس نیولی بلې کوټې ته راوستلم. دلته یې شفر راسره تبادله کړ او، بهر راووتو. موټر ته مې راوست. د شاترینې په لیدو تکنی شو او بیرته د موټر نه لرې یو ځای ودرید. ما ورته کیسه تیره کړه خو دی، لکه چې

خبرو. ده وویل، «ته دې موټر، د سیند له غاړې ودروه، موږ به نن شپه

کچرې درولو او وسله به درنه بار کړو. بیا به یې هوټل ته راولې» ما

وویل، ښه ده. بیا نو ده د لارې او د کابل د احوالاتو پوښتنه رانه وکړه او

یو عجیبه شانې سوال یې وکړ، «دا رښتیا ده چې شورویان د کلي ملایان

او ملکان مسکو ته بیا یې؟» ما وویل، «نه ماخو داسې څه نه دي

اوریدلي.» ده وویل، «دلته خو ناطقه همدا د خلکو خبر ده او د دوآب نه

نیولې تر چاردې غورېنده پورې، ټول ملایان او مشران تښتیدلي دي.»

ما څه ونه ویل. عجیبه وه چې بسته ښارونه قتلیدل او دوی لاهم د خانانو

او ملایانو په غم کې وو. هماغه زوړ متل و چې سل دې و مره یو دې مه

مره. نه دغه سړي خپل نوم راوښود او نه ما ځان ورمعرفي کړ. ما وویل،

«ښه ده. موږ به بازار ته سر ورښکاره کړو او بیا به د شپې موټر هوټل ته

راولم.» زه روان شوم خو ده راپسې غږ کړ، «ما ته یو بل امر هم شوی و،

هغه به څنګه شي؟» زما زړه په درزا شو، «د هغې به هم چاره وکړو،

خدای لوی دی.» او په بیړه ترې روان شوم. موټر ته په ختلو شاتړینې

ترور راته وکتل، «څه خبر وه چې داسې په بیړه موټر ته راوختلې؟» ما

وویل، «خیر خیریت دی. یو څه شیان دي چې شپې ته به یې دې سړي ته

ورکړم، بیا زه او ته روانیږو، زما د پلار د دوست کور ته.» هغې نور هیڅ

و نه ویل، خو پوهیدم چې پوهیږي چې کوم کار خراب شوی دی.

د هغې د ساعت تیرۍ د پاره د دوآب دوو سیندونو ته لاړو. یو د

بلولې نه، د شیبر له خوا راته چې اوبه یې د اوښکې په شان رڼې او

څپاندې وې. بل د سيغان او کهمر د له لوري، لکه ژېړ ښامار مړ مړ هوار راروان و چې همدلته سره يو ځای کيدل. تر ډېره وخته اوبه نه سره ګډيدې او د بلولې سيند همداسې مست د ژېړ ښامار سره څنګ په څنګ روان و.
موټر مې سيند ته ورکوز کړ او دا مې د دې منظرې ننداري ته راښکته کړه. دې او رد ساعت د دې مقابلې ننداره کوله او بيا يې ما ته په مايوسي سترګې وغړولې او وې ويل: «دا اوبه به خامخا د خړو سره ګډيږي او هغه به هم خرابوي. د نيک او بد مقابله تل همداسې وي. دا هسې چټي خبره ده چې نيک غالبيږي. يوه کاچوغه خاوره د يو لوی بوتل اوبه خړوي. يو ظالم ټول وطن ورانوي. چې يو پوه او دوه ناپوهان سره يو ځای شي، تل ناپوهي غالبيږي.» ما خبره ورغوڅه کړه، «په دليل يې پوهيږې؟» هغې سر وښوراوه. ما وويل، «دا ځکه چې دوزخ ته ډېرې لارې تللې دي او جنت ته يکې يوه لار وتلې ده.» شاترينې وويل، «اوس را ته موعظه کوې که څنګه؟» ما وويل، «همداسې يې بوله. حرام وخوره، دوزخ ته ځې، قتل وکړه، دوزخ ته ځې، غلا، زنا وکړه، دوزخ ته ځې، مور او پلار وځوروه، دوزخ ته ځې او همداسې يې نور کوز وپاس درواخله. هغه هزاره د صراط د پله پسې خپل ملا ته رښتيا ويلي وو چې، پاک راه نيه، مانالنده يې دا چې د تيريدو لار نشته. بل مثال به درکړم. دغه زموږ شين تاغي يو انجن لري چې د سلهاوو پرزونه جوړ دی. هره پرزه په شواخون جوړه شوې او بيا په شواخون د نورو سره جوسر شوې ده. که يوه يې هم خرابه يا بيځايه شي دا لوی موټر د حرکته پاتې کيږي. نو څومره

استادانو او ما غزوبه په دې کار کړی وی چې دا موټر چالان کړي. اوس نو د هغې خرابول ډېر آسان کار دی او ماشوم هم دا کار کولی شي. هره پرزه یې چې ترې لرې کړې، د انجن هر ځای چې مات کړې، هر ځای چې سوری کړې، موټر د کاره لوېږي. مانا د موټر د جوړولو لاریکي یوه او د ورانولو لارې یې ډېرې دي.» هغې وویل، «اوس دې د موعظې په مقصد پوه شوم. ستا په نزد به یې بل ژوندی مثال حزب دموکراتیک خلق وي چې د هغه ناپوهو غړو په دوو کالونو کې بسته وطن د خاورو سره برابر کړ؟» ما وخندل «چې روسان دې هیر نشي.» دواړه په فکر کې لاړو او زه خوشاله وم چې د شاترینې پام مې د سملاسي خطر نه بلې ته کړی و. د سیند له غاړې هوټل وچته معلومیده شاته یې یو غرو چې دوه ځایه چاودلی و او چاکونه یې غیر طبیعي ښکاره کیدل. شاترینې ته مې وویل، «دا غرویني چې دوه ځایه غوځ شوی دی.» هغې وویل «نوځه؟» ما وویل، «خلک وایي چې دلته د حضرت علی او د زرد دیو جنګ و. په ذوالفقار باندې یې د دیو سر دوه ځایه غوځ کړ» هغې وویل، «دوه ځایه ولې؟» ما وویل، «د علی ذوالفقار غبرګ تیغونه لرل. چې د یو یې وواهه نو بیا یې ورته وفرمایل چې تیره شه.» شاترینې په خوش طبعی وخندل، «ستا ډېر زړه دي.» بیا نو په منډه موټر ته وختله او څو زرکان یې د وچې شوې ډوډۍ سره راوړل او دواړو د یوې لویې هوارې پرښې په سر وخواړه او په اول ځل، د ډوډۍ نه پس شاترینې د عاوکړه. زه لاړم ددې نه لرې په یوې بلې پرښې مې ډډه ووهله او د سیندو نو د غبرګ

بهیدلو ننداره مې کوله. اریان وم چې دا څوک دی؟ که کمونسته ده نو لمونځ ولې کوي، د عاولې کوي، دا د حزب دموکراتیک خلق مثال یې چې راوړ دایې زما د پاره راوړ او که پخپله هم په همدې عقیدې ده؟ دا خو هسې د مړې ګیډې سودا وه، اصلي اندیښنه مې د نن شپې وه. ډیرور مجاهد خو د شاترینې د مرګ ګواښ راته بیان کړ. هغه هم ګرم نه و، د ډاکټر زړور په هدایت یې دا کار کاوه. هغه هم ګرم نه و، د بد پیره کمونست سره بد مذهبه مقاومت جوړیږي. هر څه مې چې کول یوې ساپې پاکې نتیجې ته نه رسیدم. لوی سوال د او چې د شاترینې سره څه وکړم؟ کله چې د سالنګ نه د راستنیدو په وخت کې په لاره کې شاترینې راته د مخابرې خبره وکړه، نو په رښتیا مې غوښتل چې د ډاکټر زړور په مشوره یې «فیصله» کړم. خو وروسته مې بیا بله شاترینه لیده. په اول کې خواخوږې وه. کله یې چې د تږکمار قوماندان نه د مخابرې خبره پټه کړه نود احسان پوروړی یې هم شوم. بیا مې چې د دلیل پوښتنه وکړه او دې هسې بابیزه تیره کړه، نو د هغې ځوانمردي راته معلومه شوه. وروسې چې مې د دې لمونځ ولید، د دې په کمونستی کې مې شک پیدا شو. اوس خبره تر دې ځایه ورسیده چې د مرګ نه د هغې د بچ کیدو د پلان په فکر کې وم. په درو ورځو کې دا دومره بدلون؟ دا اندیښنه راسره وه چې ودې شي چې زما قضاوت د دې د ښکلا او ښځیتوب د لاسه داسې اوښتی وي. ښایسته خونوره، زه هم د چاخبره زلمی وم او شیطاني حرکتونه زيات وو. په موټر کې به مې خدای خدای لرل چې راپورې ولګیږي. هغه شپه

چې په بستر کې یو ځای وو ما ویل چې ژوندی مې خوړلې وای. خو په دغو درو ورځو کې چې به کله ما ورته نیغ د خریدارۍ په سترګه وکتل، دا به پوه شوه، مخ به یې سور شو او په دې یا بلې بهانې به یې زما پام بلې خواته واړاوه. بیا مې ویل چې کونډه ښځه ده، کابلی شوې ده که هرڅو مره ښه وي، کمونسته نه وي خو زما سره چې د علم او کابل نه مې دهقانی ته تیښته کړې وه نه جوړیږي. خو عجیبه داده چې داویره هم راسره وه چې ددې به خوښ نه شم. نه پوهیږم ولې مې یو ځلې له خولې دا لنډۍ ووتله «د تادګل په شان غړې ده * زما شړې ده ستا به کله خو ښه شینه.» ناڅا په مې پام شو چې یوازې نه یم.

شاترینې کټ وخندل او راغله څنګ ته مې کښیناسته.

مازیګر هوا مخ په سړیدو وه. توري وریځې له غرونو راښکته شوې او ورسره پرخ پرخ باران راغی. دواړه موټر ته وختلو. باران زیاتیده، د سیند په مخ یې بوړبوکی جوړولې. شاترینې چای دم کړ او دواړو ځانونه وریاندې تودول او بهر مو د باران ننداره کوله چې اوس یو نیم څپولی واوره هم ورسره ګډه وه.

ماسختن باران غلی شو او واوره په شرنګیدو شوه. شاترینه بستر ته وختله. له ځانه سره بنګیده، ما ویل د خپل مرګ ویر به کوي، خو چې غوږ مې ونیو کومه بدله یې زمزمه کوله. ما ته غوسه راغله، «بیا دې ډمګري شروع کړه که څنګه؟ ښځاته خو به نه تخنیږي؟» هغې په آرامه، خوږه لهجه وویل، «نه، هغه د شین خالی ټکی رایاده شوه چې توره شپه

يې پکې ياده کړې وه چې خداى به يې رڼا کړي. » يوه شيبه خاموشه وه. بيا يې پوښتنه وکړه، «ته څه وايي چې رڼا يې به ګونډې راشي؟» ما تعجب کاوه چې پرچمي ګوره او د پښتو ناره. په تمسخر مې وويل، «ستاېې د شين خالو سره څه؟ د بخت زمينې سندره کوه چې واسر بازه ياره، خيژه په مور چل باندى* بيا به دې او ده کمه سيورې د اوربل لاندې. » هغې کټ کټ وخندل، «ماتل فکر کاوه چې وايې، بيا به دې اوده کمه ستر ګو په زنبل باندې، لکه هندى فلمونه چې يو لوى بوت وي او هلک د بوت په ستر ګو کې ولاړ وي، اوښکې يې بهيږي او د غم بدلې وايي. بيا مې ويل دا به د زلفو زنبل وي. خواره کي سرباز به، لکه ماشوم د زلفو په ورونې کې تاو وي، سر او پښې به يې بهر وتلې وي او زور به وهي. » ما ته هم خندا راغله، «ويده شه، نه ګورې چې نن شپه د ږير ور سره ملاقات لرم، خدا زده چې څه به پيښ شي؟ » هغې په ساده انداز کې وويل، «د همدې کار د پاره راغلي وې، اوس ولې تکنى يې؟ » ما وويل، «خبره دومره آسانه نه ده، ويده شه. »

زما په فکر کې د ارزښتونو مقابله روانه وه. ږير ور ته يې ورکړه، مه يې ورکوه. آسانه خو دا وه چې وسلې او نجلى ږير ور ته وسپارم. د ملي مقاومت د وړاندې به زما مسئووليت پوره شوى وي، مګر د خداى په حضور کې څنګه؟ دا به وايم چې بارِ الاها، ما پرچمي مرګ ته ورکړه، زما لاسونه سره نه دي، ما يې په مرګ چاره نه ده راښکلې. د اسلام او کفر، د مستضعف او تيري ګر مقابله وه او ما د حق لاره ونيوله. داخو

هغه استدلال و چې سړی یې د یوه مسلمان قاضي په وړاندې کوي. آیا د خدای او خپل وجدان په حضور کې دا استدلال ما تبرئه کولی شي؟

په همدې کې د شپې درې بجې شوې. بهر د واورو یوه نرۍ دوړه په مخکه پرته وه. موټر مې چالان کړ، شاترینه مې راویښه کړه، د سیند له غاړې مخ په هسکه هوټل ته روان شوم. اته نه کچرې د هوټل مخې ته ولاړې وې. د موټر د آواز په اوریدو سره پنځه بزیرې راووتلې. د تولو په لاسونو کې لالټینونه وو. مشر بزیر ور موټر ته را وخوت. شاترینې ته یې اشاره وکړه، «سیا سره دې لاړه شی هوټل ته.» شاترینې ترور ما ته وکتل. ما په موسکا ورته وویل، «ته ځه هوټل ته چې دواورو نه پناه شې، مور دلته یو څو خبرې لرو.» هغه چې ښکته کیده، په مایوسی یې ما ته وکتل، خو ما ورته و موسل. بزیر ورو خپل لالټینونه ورته جگ کړل، لکه مال چې اخلي، تولو ورته ځیر ځیر کتل. بیا نو دوه ورسره هوټل ته په بدرگه لاړل.

زما سړي وویل، «بسم الله» ده راته لالټین نیولی و او ما په ټټک او انبور د سیټونو سر پوښونه خلاص کړل. دوه نور بزیر ور هم راغلل او د وسلو په لیدو یې وویل، «او هو، دا خولا په گریسو لړلې دي. ایله په ایله چې نوې وسله راغله.» بیا یې نو یوه یوه وچتوله، تبصرې یې پرې کولې او، لکه د جنازې کټ په احتیاط یې یو بل ته تیرولې. دوه نور چې بهر وو، هغوی وسلې په بوجیو کې نغښتلې او په کچرو یې بارولې. ما هیڅکله داسې لوېې کچرې نه وې لیدلې، دا به رښتیا وه چې د امریکانه

يې راوستې وې. ډېره وسله به وه، څکه پوره دوه ساعته دوی په ښکته کولو او بارولو بوخت وو. په آخر کې ټول کوز شول او بارونه يې معاينه او بيا سره راټينګ کړل. زما سرې راوخوت، «نقشه چېرته ده؟» زه بهر ووتلم. د ټول باکس نه مې يوه زړه بوجۍ راوچته کړه، په هغې کې توره پلاستيکي کڅوړه وه، هغه مې ورکړه.

ږير ور وويل، «خير ويسې. اوس نو ستا کار خلاص شو، مونږ روانيږو.» ما وويل، «نه، يو کار مې پاتې دی. د هغې ښځې سره څه کوئ؟» ده وويل، «بس نور يې مونږ ته پرېږده.» ما وويل، «داسې نه کوم. بايد ما ته خط راکړئ چې هغه وژنئ.» ږيره ور کټ کټ وخندل او بيا يې خپلو ملګرو ته امر وکړ، «داسړی په مونږ بدګمانه دی، او ګرم به هم نه وي. لاړشئ، سيا سره راولئ چې دده په مخ کې يې دوزخ ته روانه کړو.» ما وويل، «بدګمانه نه يم خو تاسو ټول مجردان يئ، ښځه هم پرچمۍ مکاره ده، ويرېږم چې ستاسو زړه وربانديې ونه سوځيږي او په نن او سبا کې درنه ونه تښتي. بيا به زمونږ او ستاسو کړې خوارې هسې درمسال ته ختمې کول شي.» ږير ور وويل، «خط هم درکوم او لوړه هم درسره کوم چې بله شپه به رانه تيره نه کړي. نور څه وايې؟»

ما وويل، «سمه ده. زه د ښځې سره يو څو خبرې لرم، يو څه اسرار دي چې هغه به په نيم ساعت کې ورنه واخلم. بيا به يې تاسو ته وسپارم، خو البته خط به را کوئ.» ږير ور ټکنی و. «د سهار رڼا هم دغه ده را روانه ده، تر څو ته اقرار اخلې نيمه ورځ به تيره وي.» ما وويل، «نه نيم

ساعت غواړم. که دا کمونسته ده، زه به يې هم خوښ شم. » امر يې وکړ چې سيا سره راولي. او بيا يې په کرار غږ ما ته وويل، « ډاکټر زړور چې په سالنګ کې امر درياندې وکړ، ولې دې هماغلته فيصله نه کړه ؟ » ما وويل، « دوست ته حال وايه، دښمن ته لافې وهه، ما په عمر کې بنيادم نه دی وژلی. مونږ ډاکټرانو خو د يوناني حکيم ابيغور قسم خوړلی چې زنده سر به نه وژنو. » ډير ور وويل، « نو په دوشي کې دې ولې نه پريښووده ؟ » ما وويل، « دومره کم عقل هم نه يم. هلته يو منصبدار تيار همدې ته ناست و چې دا ټول حال ور ته ووايي. بيا به نه زه واى، نه به ته واى او نه به وسله واى. » ډير ورو شاترينه راوستله او دلالتينونو سره چار چاپيره ورنه، لکه پتنګان تاويدل. موټر مې چالان کړ او په بيړه روان شوو. شاترينې رانه پوښتنه وکړه، « دا ځوک وو چې نژدې يې په ستر ګو خوړلې وم ؟ » ما هيڅ ونه ويل او بس پښه مې په اکسليټر ټينګه کړې وه. د خړ سيند په سر يو پول سيغان ته اوښتي و. په هغې تير شوو او ټوله سودا مې دا وه چې د ځان او ډيره ور ترمينځ، ځومره چې کيداى شي فاصله زياته کړم. شاترينه هم لکه چې پوه شوې وي، غلې پاتې شوه. کچه غرمه مې د سيند په غاړه موټر ودراوه. د موټر انتن مې فعال کړ، د ديوال نه مې د مخابرې ماشين را وايستـه شاترينې ويل چې « خير زه سيند ته کوزيږم. » ما وويل، « ما ته فرق نه کوي. » پس د ځوکو ششونو نه د ډاکټر زړور شفر راغی.

« چير ته يې ؟ »

«د دو آب نه بهر.»

«تسليم دې كړل؟»

«هو»

«وسله؟»

«هو»

«نقشه؟»

«هو»

«خير ويسې. ښځه دې فيصله كړه؟»

«نه»

«زموږ نفر ته دې وسپارله؟»

«نه»

«كله يې فيصله كوې؟»

«نه يې فيصله كوم»

«پوه نشوم.»

«نه يې وژنم. چاته يې هم نه وركوم.»

«د مركز امر دى.»

«مركز ته وايه چې رنګ دې ورك شه.»

«دا نشي كيداى. چې ژوندۍ وي، ټول پلان خرابيږي.»

«نه خرابيږي.»

«امر دى. تا تعهد كړى دى.»

« ما خپل تعهد پوره کړ. نور تاسو پوه شئ کار مو. »

و ته زموږ سره نه يې ؟ »

« خواخوږي لرم خو نور درکې نه يم. »

« د تاسف ځای دی. »

« هو »

« پوهيږې چې هغه به و نه گټې، خپل سر به هم بای کړې ؟ »

« هو »

« پوهيږې د چا د لاسه ؟ »

« نه، فرق هم نه کوي. »

« که زموږ خلکو هر چيرته وليدې. . . »

« ته ورک شې مقاومت دې ورک شه. »

« د تير خدمت نه دې مننه »

« ته ورک شې، مننه دې ورکه شه، خدای پامان »

د مخابرې د ماشين سيمونه مې وشلول، د بهر نه مې آنتن راخلاص کړ او بيا مې نو شاترينه د لاس نه نيولې سيند ته کوزه کړه. د سيند په غاړه مې ماشين او سيمونه د سره تاو کړل او رسامی د سيغان د سيند مينځ ته اړتاو کړل. بيا نو لاس په لاس موټر ته ستانه شوو او د سيغان لار مو ونيوله.

په لار کې شاترينې وويل، « څه خبره ده، ولې دې د مخابرې په وخت کې دومره اعصاب خراب وو ؟ » ما وويل، « کاشکې مې د واورې

نه نه وې راايستلې. » نور تر سيغانه پورې دواړه چوپ وو.

## نهم څپرکی

زما د پلار دوست، پير علي، نيم تاجک و، نيم هزاره. په اصل کې د هزاره زوزات له دوشي نه پيل کيږي، په تاله برفک، دو آب، باميانو ته تيريږي. پخپله دوشي ګډو له دی. د سيند يوې غاړې ته هزاره، بلې ته چې او غان دوشي يې بولي، پښتانه. سيغان ته ښايي د سيند د لاسه هزاره ګی سمه نه ده رسيدلې او د پيړيو په اوږدو کې يې ګډو له نسل جوړ کړی. په کابل کې چې هزاره د پښتنو يا تاجکو سره يو ځای شي، نو تاجکان يې هزاره ګڼې بولي، نيم هزاره نيم غير هزاره. زما د پلار دوست، پير علي هم ګډی و. پوزه لوړه خوسترګې با دامی، مخ هډوکن، لکه متساوی الساقين مثلث چې سر په څيړي ودروې، څو تاره ږيره ورنه ځنګيده.

د پيرعلي کلي ته د شين تاغي رسيدلو هماغسې انګازه جوړه کړه، لکه په خان آباد کې يې چې جوړه کړې وه. ټول ترينه چاپيروو او هلکانو يې ځنګ ته منډې وهلې. موټر مې د پير علي د کور مخې ته چې د آسونو د اوړي ځای وو او ميخونه يې لا ښکاريدل، ودراوه. شاترينه سرای ته لاړه او زه د پير علي سره قوشخانې ته شوم. پير علي چې ناروغ او زهير ښکاريده، زما د پلار د مړينې فاتحه يې راکړه او بيا نو مرکه وه. د شپې ښه قروتی راغله. دا د کړو، يو بهتر شکل دی. کورت تاوده کړي، په کاسه کې توده ډوډۍ وړه کړي، کورت پرې واچوي او بيا پريمانه غوړ

چې پیاز پکې سره شوي وي پرې راتوی کړي چې څزایې خیژي. پس د
ډوډۍ مرکه شروع شوه. زما زړه د چاودنې تر حده ډک او پیر علی زما د
پلار او ټولې کورنۍ قدیمي او فادار دوست او هوښیار سړی و. هر کال به
په مني کې په لري کې لم یا موغوړی چې د پسونو د لم په پوستکي کې به
ځای شوي وو او چاري پسونه د ده له لوري راتلل. زما اول جنګی زرک
هم همده رااستولی و. د موټر درواجیدو نه پخوا به ده هر کال په مني کې
په آس په څو ورځو کې زموږ ځای ته سفر کاوه.

تر نیمې شپې مې ورته کیسه وکړه. ده هم په ډیر دقت اوریده او کله
به چې د ده زوی نور چای او دشلمه راوړه او کیسه به غوڅه شوه بیا به ده
ویل، ښه، نور څنګه شو؟ »

په بله ورځ یې ترکاڼ راوغوښت چې د موټر د سیټونو له لاندې
صندوقونه راوباسی، بیرته سرویس ورنه جوړ کړي. په دې باندې څلور
ورځې تیرې شوې. د ماښومتوب په وخت کې به چې پیر علی زموږ کور
ته راغی نو د شپې به یې بوستان، ګلستان راته په خپل مخصوص هزاره-
ګی وزم لوسته. اول به یې څو ځلې غاړه تاز کړه او بیا به یې یو لاس غوږ
ته کړ او یو داورده « اییییییی » ناره به یې وایسته او بیا به یې نو شروع
وکړه، « یکی دیدم از عرصه یی رود بار* که پیش آمدم بر پلنګې سوار.
(چونان) چنان هول از انحال بر من (نیشست) نشنست* که ترسیدنم
پای رفتن (بی بست) ببست. » ما ته د جزبوت او رقوم حساب همده
ښودلی و « دح کدین دادح کدین ددو.... » چې هر توری یې یو ابجد

عدد و او ضرب او جمع يې په اسانه قافيه لرونکې طريقې سره ښوده.

پير علي هم د روسانو او کمونستانو خبرې کولې او نور معلومات يې نه لرل فقط هماغه انديښنه ورسره وه چې په سهري مرداره د خوګ غوښه په زوره خوري او مشران مسکو ته بيايي. ما تعجب وکړ چې د روسانو او کمونستانو تبليغات څومره قوي وو او زموږ مجاهدينو ټول ټال د خوګ د غوښې او مسکو ته د بيولو تبليغ زده و.

په وروستۍ شپه يې راته وويل، «ته هم جړه يې، ځوان يې، څه وايې چې دغه ښځه در ته همدلته نکاح کړو؟ ملا به راوغواړم، بې غږ او غوږه به نکاح وتړي. دوه کوټې به درکړم. موټر ته به دې موټروان ونيسم چې د دوآب او دې ځاى ترمينځ يې وچلوي. چې پسرلى شي، بيا به خداى لوى دى، دا دړکه هم تيره وي، بدر به کابل ته لاړ شې.» ما وويل، «دا ښځه مې کله کوي. زه اطرافي، دا کابلۍ.» ده وخندل، «ته خو ښه پوهيږې چې ټولې ښځې د لالانې دي. زما ښځګله وو ترې پوښتنه کړې. نجلۍ راضي ده خو ويريږي چې ته به يې ونه کړې.» ما وخندل، «کاکا دومره راته وګوره چې يو ځلې يې کابل ته ورسوم. بيا به يې مور او پلار ته جرګه ورولیږم او په ډرنګ و درونګ به يې واده کړم.»

په هغه ورځ چې روانيدو، موټر يې داسې راته رنګ کړى و چې د نورو سرويسونو نه يې فرق نه کيده، طاؤسونه، ګلان او کوترې او زمري يې د ننه په ديوالونو باندې کښلي وو، ګويا د سيغان د هنر ټوله پانګه ورباندې لګيدلې وه. زړه مې ورباندې وسوځيد پوښتنه مې ورنه وکړه،

شین تاغیـه، ته بـه وای په آلمان کې مې اوراخیستی وای، خو چې دې
لیونی ملک ته مه وای راغلی.

څه مې نه لرل چې د دې مهربان سړي د میلمه پالنې پور مې پرې
کړی وای. د موټر نه مې د لنډو څپو ګروندیک رادیو وښکله، د یو درځن
بالتېیو سره مې د پیر علی زوی ته ورکړه. ما لا موټر چالان کړی نه و چې
هغه رادیو لګولې وه او تاجکي پروګرام یې پرې اوریده. چې شاترینه
راوتله یوه لویه ورا ورپسې وه. شاترینه هم د هغوی په شان وه، ګل سیب
ټکری، د ګلدار سره چیټ کمیس او د شنه الوان پرتو ګ. د نورو په شان
یې پلونیم کنبونیولی و. پیر علی پخپله موټر ته راوخوت او لویه ټوکرۍ
یې په سیټ کې کیښوده، بیا یې غیږ کې ونیولم او زما مخ یې ټول په
اوښکو لوند کړ. آخری خبره یې داوه «بیا به په قیامت کې دیدن وکړو.»
دو آب ته په رسیدو مې موټر ته لته ورکړه چې بیا په ږیر ور وانه وړم که
څه هم چې پوهیدم هغوی به د غوربند او سیاه ګرد ترمینځ لار کوي. تر
څو دوشي ته رسیدو څو څو ځلې د سیند نه اوښتو. کله به د رښو ډیرخواته
راغلو او کله د خړو. د رښو اوبو خواته مو د غرمې ډوډۍ وخوړه. په
ټوکرۍ کې پریمانه سره کړی زرکان، بوسراقې (خجورې)، په وړین
دسترخوان کې یوه دلۍ ګرده کې ډوډۍ او په کځوړه کې پریمانه پوڅه
وه. د بلولې رڼې اوبه لا د خړو سره ګډې شوې نه وې. د الرحمن د سورې
آیت را په یاد د شو: مرج البحرین یلتقین. بینهما بر زخ لا یبغین.
شاترینې اسرار آمیزه موسکا وکړه، «ستا دا خبره رښتیا و نه ختله چې

يوه کاچوغه خاوره د تهول ګيلاس او به خپروي. » ما ووېل، « دا خو ستا خبره وه! » خو هغې په ډېره سترګی ووېل، « د هر چاچې وه، غلطه وه. »

هما غلته موشپه وکړه. پلان دا و چې د دوشي نه د شپې په تاريکه کې تيرېږو چې بيا راته سپی ولاړ نه وي. داخلې نورست او شرم ته حاجت نه و، دوا ړه غا ړې غځي په بستر کې پريوتو تر ډېره وخته مو د ورکتوب خبرې کولې، هسې بې معنی خوږې خبرې. شاترينې په يوه واده کې د کومې ښځې د بنګړو د پتهولو کيسه کوله او د اول ځل خواستګارۍ کيسه يې کوله چې ځنګه يې د دې صفتونه اوريدلی وو او اوس په جرګه راغلې وې. دا په باغ کې پټه شوې وه. د لالانې بيا باغ ته راوتلې وې چې سيل وکړي. هلته يې دا ليدلې وه چې په يوې ونې ختلې او توتان يې خوړل. خواستګارانو د دې د مور نه پوښتنه کړې وه چې دا بيزوګی څوک ده؟ هغې ځواب ورکړی و، چې بيزونه ده، د کلي يوه ليونۍ يتيمه ده چې تل د خلکو په باغونو ګرځي او په ونو کې شپې تيروي. ما ورته د خپل مور او پلار او سفرونو او شين تاغيې کيسې وکړې او ترڅو سپيدې چاودې مو ر يو بل ته ځانونه وريېژندلي وو.

په بله ورځ ترڅو دوشي ته رسيدو تياره وه او همدا سې نيغ په سالنګ وروختو. په خنجانو کې مو په هوټل کې چې د ګرځندوی دی، شپه وکړه او بيا د موټرو د نورو کاروانونو سره مخ په تونل ور روان شوو. مځکه توره وه خو د سرک په غاړو لاهم واورو ديوالونه جوړ کړي وو.

ما په ډېر دقت چې شاترينه وارخطا نشي ووېل، « زه فکر نه کوم

چې زموږ یار منصبدار دې موږ هیر کړي یو. زه د دغسې خلکو په روحیې پوهیږم. دا داسې سپي دي چې پټه خو له اچوي او تا چې سپک کړ او س یې په زړه کې غوټه هم پیدا شوې ده. » هغې وخندل، « وایې هر شی چې دوه شي نو درې کیږي. »

په لار کې هر ځای عمومي تلاشي وې، خو د سالنګ د تونل نه کابل پلو د اوښتو سره، د سرویسو نو لام ولاړو. شاترینې راو ښود، « هوغه دی زموږ پټ خولی سپی. » هر موټر ته یې کتل چې موږ ته راورسیدنو تندی یې ورین شو، راوخوت، « د جلې خوی د مرغاوی دی* د ګودر غاړه ورته نیسه رابه شینه. » ما ته یې نه کتل، یو خط یې د جیب نه راوایست او شاترینې ته یې ورکړ او بیا یې څو عسکرو ته چې کوز ولاړوو غږ کړ. هغوی د سیخانو او تبرونو سره راوختل. د سیټونو د سر تختې یې په تبرونو ماتې کړې او حتی د غولي تختې یې هم یو څه راوایستې. ما ورته کتل او د شین تاغي په حال ژړا راتله. بیا یې په سیخانو د یوالونه سوري کړه او هغه ښکلې منظرې چې د سیغان د هنرنمونې وې، هغه یې ټولې ابته کړې. بیانو ټول د موټر بام ته وختل او د اوبو او ګازو د ټانکی پسې یې تبرونه خلاص کړي وو. ما ور غږ کړ، « قوماندان صاحب، پام چې څوک سګرټ و نه لګوي چې کیله ګي ته به دې اړتاو کړي. » د ډاره یې ټانکی سوری نه کړې. را ښکته شو، موټر ته را وخوت، په اول ځل یې زه مخاطب کړم، « موټر دې نوی رنګ کړی دی! » شاترینې زه ځواب ته پرې نښودلم، « هغه شی چه ور

پسې ګرځيدې پيدا دې کړ ؟ » منصبدار زما نه پوښتنه وکړه ، « د دوشي نه کوم پلو تری تم شوې ؟ » شاترينې بيا ځان شريک کړ ، « ملګری قومـاندان ، زما ځواب را کړه ، چې ورپسې ګرځيدې ، پيـدا دې کړ ؟ » قومـاندان بيا لکه ځيلي ماشوم مقاومت وکړ ، « ملګرې ترينا ، هغه خط ولوله او عمل پرې وکړه . » شاترينې وويل ، « خط ما ته ليکل شوی او په تا پورې اړه نه لري ، زما سوال ته ځواب راکړه . » په قوماندان بيا دماتې خولې راماتې شوې ، « نه ، څه شی خو نه وخو ... » شاترينې پرې بېرچ وهل ، « خو ، خو معنی نه لری ، دا به ليکلي راکوې چې موټر مې مات کړ ، تلاشي مې کړ ، څه شی مې پيدا نه کړل . بيا زه دا په کابل کې مقاماتو ته ښيم . » قومـاندان د مقاومت تابيا نيولـه خودې وويل ، « ملګری قومانـدان ، ته ښه سړی يې ، انقلابي روحيه لرې ، اوس دې چې وظيفه ختمـه کړه نو همداراته ليکلي راکړه او بس نور نو کاميابه اوسې . » قومـاندان لـه جيبـه يوه کتـابچه وايستـله ، يوه پانه يې ترې وشکوله او يو څو کرښې يې پکې وليکلې ، شاترينې ته يې ورکړه او پخپله په بيړه کوز شو او د چالانو سرويسونو د ډيزلو په لوګي کې ورک شو .

په جبل سراج کې هم تفتيش و خو د پشکي عسکرو ، منصبدار په يوه نظر معاينه ختمه کړه او ما ته يې کړه ، « خليفه ، دا موټر خودې شوکې پوکې دی ، غلو خوبه شکولی نه يې ؟ » ما وويل ، « نه تفتيشانو وشکولم . » منصبدار سروښوراوه او وې ويل ، « ياريه ، د انقلاب په نامه

څه کاني رواني دي، ځئ له خيره. ».

تره غوني ماښام کابل ته واوښتو. هم خوشاله وم چې د دې اوږده بدخوب نه په خير راوينښ شوم او هم خپه وم چې له شاترينې بيليږم. د دې کور د خيرخانې په اوله برخه کې د هندوانو د کورونو په سيمه کې و. د کور نه بهر مې موټر ودراوه. دې وويل، « راځه همدلته شپه وکړه، ناوخته دی، چيرته به کور په کور گرځې؟ »ماسر وښوراوه، « زما او ستا لارې همدلته بيليږي. » هغې وويل، « حتمي نه ده. ما درته اوږده پلانونه جوړ کړي، کله دې داسې پريږدم. » ما په ټوکه واړوله، « زما وزرې سوئيډلې دي، نور په کابل کې الوتی نشم. » بيا مې خبره احساساتی کيدو ته پرې نه ښوده« رښتيا په هغه خط کې چې قوماندان درکړ څه پيغام و ؟ » هغې وموسل، خط يې له جيبه وايسته، « پخپله يې ولوله » په هغې کې ليکلي وو: « رفيق ترينا ، به رياست چهار خاد بيائيد ». ماوويل، « خاد درنه څه غواړی ؟ » هغې په خندا وويل، « زموږ يار به ورته خدازده څه جاسوسي کړې وي. دهمدې د پاره مې ورنه خط واخيست چې ستا په موټر کې هيڅ هم نه و. » ماوويل، « شاترينې، ته چې ورغلې، ټول حال ورته ووايه او که نه نو ستاد سرخطر دی. » هغه رانژدی شوه او په رسيدلی ږيرې مې يې لاس تير کړ، « زه دومره نامرده درته ښکاره شوم؟ نورد مې مه شرموه. » بيا يې وخندل، « ته به څنگه ځان خلاصوی ؟ » ماوويل « مقصد مې داوچې زما غم مه کوه، زه په کابل کې نه پاتې کيږم. همدا نن شپه جلال آباد ته روانيږم او تر څو ته خاد ته

رسیږي زه به په پیښور کې ناست یم » هغې په تعجب وویل ، « نو ماچاته پریږدې ؟ » زما سره ځواب نه و. نه داکوزیده او نه زما زړه کیده چې کوزه شي. تیر ماسختن مې ایله په الله په دلاسا قانع کړه.

پخوا ترکوزیدو یې اول په دواړه مخه چپ کړم او بیا یې شونډې اوږده شیبه زما په شونډو کوشیر کړې.

## لسم ځپرکی

د جلال آباد په تولولاره مې زړه ژړغونی و. په بله ورځ په رښتیا هم د پیښور په کوز تاکال کې وم.

د هغې ورځې نه دوه کاله تیریږي. د بدو ورځو یار شین تاغي نه مې سم صفا فلاینګ کوچ جوړ کړ او بیرته مې آبی او سپینې لیکې ورکړې. د قوماندان د غویل نښې مې په خپل لاس ترې پاکې کړې او باډی مې ورته بیرته نوې نوزې کړه. خو د واړه پوهیدو چې د زړه ستنې موماتې دي. د پیښور او سوات ترمنځ یې ګرځوم او چې په پیچو مې خیژو نو دواړه زګیروي کوو.

هره هفته یو ځلې د شین تاغي سره لکه ستن خوږلی په اسلام آباد او د پیښور په حیات آباد کې چې د رټل شوو افغانانو ځایونه دي کوڅه په کوڅه ګرځم او په تبجن انتظار خپله ورکه لټوم.

PROPERTY OF ACKU 7894

«۲»

## لومړی څپرکی

زما د پلار دغو سرد جوړه وه. رسیدلې ونې به یې په شیله کې له بیخه وښکلې او د باغ د یوه سر نه به یې بل ته یووړلې او همالته به یې کښېنولې. ونې خوارد کی به په ځان نه وې خبرې، دژمی په خوب به ویدې وې. چې پسرلی ته ویښې شوې ریښو به یې رد او رووړ ورک کړی و چې کوم پلو وغځیږي. په هغه لور چې پخوا اورتلی اوس یې تیرو لار بنده کړې وه. داوبو او خاورې خوند بل ډول و او څو نور کالونه په کارو چې ریښې لارې گودرې پیدا کړي. څانگې به یې هم تروړې وې. دلمر ورانگې چې پخوا به ددوی ورته مخ و اوس په بلې زاویې او په بلې څانگې، پریوتې. یوه څانگه چې پخوا د نورو نه دنگه وه او د نورو څانگو حق یې خوړ اوس به سیورې ته وه او نوره به نه لوییده.

پلار مې ويل چې داسې شي نو ونه چينجي نه کوي. پخواني چينجي همالته سر بداله پاتې شي چې يره هغه د خورو ريښو ونه څه شوه ؟ د دې د پاره چې ونه راو يښه نشي او به به يې ور باندې سپرې کړې، شپې به او به کنګل شوې او که به ونه د بيځايه کيدو په تکانونو نيمه ويښه شوې وه نو بيرته به کرخته شوه.

زه چې پيښور ته رامهاجر شوم همداسې ونو ته ورته وم. هرڅه پردي وو حتی د ملا آذان. په وطن کې چې دلر بر کلو نه راته مورږ يې ملا پيژانده او د غږ دلريوالي او نژديوالي سره زمونږ غوږونه روږدي وو. که کوم غږ به داندازې نه زيات په زوره و نو حيران به شوو چې داخو د پلانکي کلي ملا دی نو اوس ولې رانژدې شوی. همداسې به هم وه. ډير کله به دلر کلي ملا دبر کلي امامتی ونيوله ځکه چې هغه بل ورته لږه غله ور کوله او دې به ور باندې داوجګ کړ. نور علتونه هم وو. ملا خو هم پرښته نه، په يوه هلک لاس تير کړی، په يوې نجلۍ ستر ګې سرې کړي.

معمولاً دغه پيښې په دوو وختو کې پيښيدې. يوچه به هلکانو او نجونو په جومات کې سبق وايه او بل به چې ښځګلې د تاويزونو د پاره ورغلې.

خو په پيښور کې د ملا آذان لوډسپيکرونو کې ټول په يوه اندازه لګيږي. ټول غږونه داسې نا آشنا لګيږي، لکه د مصري موذن نه يې چې خراب ثبت کړی وي. د سهار په دې خړه کې يوازيني آشنا غږ د چرګ دی چې هغه سياسي سرحد او کلچر نه پيژني، بلکه هيڅ کلچر نه لري، چې

خدای یې په ختیه کې څه اخښلي هماغه را وباسي. دکچه ګړی دکمپ نه بهر دپاخه سړک دپاسه یونیم دګاډیو دډنګرو اسونو دنعل کړو پوندو کړپ کړوپ شروع دی. دآذانونو لړی چې خلاصه شوه نور نو چوپه چوپیاوه. دلمانځه وار به وروسته راځي او ورسره به دسحر خیزو دتوخي غړونه او ښکالو هم کمپ ته ورسیږي. زه هم دوطن دخیالونو سره په نا آشنا وطن کې له خوبه پاڅیدم. دبوږد دنهر په څړو اوبو کې مې اودس تازه کړ. هغه سړی چې هره ورځ مې لیده چې ځادر یې دځانه چاپیر کړی دپله په دیوال به دکونګ په شان په دوو پښو ناست و، نن هم هماغلته و. که رښتیا وایم دجومات نه ویریدم ځکه پیښوریان مې دسپین جومات نه بهر په لمانځه لیدلی وو چې لاسونه یې دښځو په دود دسینې په سر نیول. بې هغې یو څه شرمیندوکی هم یم او ویره هم را سره وه، نو خیمې ته راغلم او دهغې اودخپل موټر، شین تاغي، ترمینځ مې په شګه لمونځ وکړ. ترڅو زما کلینډر، منانی رارسیده ما سبناری کړی و. بیا مې منانی پریښود چې موټر دسیند په غاړه پریمنځي، زه دحیات آباد په ګشت ووتم چې وطنداران وګورم او دښا ترینې پته ولګوم. دریم کال را دبره کیده چې ما په پیښور کې کله په دې او کله په هغې پام غلطاوه او هیچاپې احوال نشو راکولی. زړه مې ورپسې مینې مینې و. هغې ځوانیمرګې هم، لکه چې هیر کړی وم. حیات آباد دکابل پوهنتون داستادانو او سکربیستانو ځاله هم و. داهغه افغانان دي چې دمجاهدینو دمشرانو په نزد ددوی دسکربیست راکټونو دورولو نه پس

مهاجر شوی وو، د پاکستان د مهاجرو کمشنري راشن نه ور کوي او د مجاهدینو تنظیمونه ورته گواښیږي. په دې ډله کې ما یو شمیر استادان پیژندل او یو، د ډاکتر زړور د کمونست ضد پټې شبکې غړی هم و. اوس هغه شبکه ډېره وړه وه، څه غړي یې پاکستان ته راواښتي وو او څه لا په کابل کې په سورو ننوتلي وو، څو تنو لا توبې ایستلې وې او دبیرک په حکومت کې داخل شوي وو. پخپله ډاکتر زړور بندي و. عجیبه داده چې د شبکې فراري غړي چې اوس په حیات آباد کې وو، لا یې هم له ډاکتر زړور سره تماس درلود او که به ما ته کوم پیغام و رارساوه به یې. البته پیغام په شفر و او دد به یې هغه برخې راته ترجمه کولې چې زما پورې به یې اړه درلوده. په یوه داسې پیغام کې ډاکتر زړور ویلي وو چې «تیر به هیر کړو، ته خو رانه پیښور ته والوتې، خو ما هم وړی شړی نه کړه.» په بل پیغام کې یې د تحقیقاتو کیسې کولې چې څه قسم سزا گانې ورکول کیدې. په نوي پیغام کې یې د یوې پیغلې روسې مستنطقې کیسه کوله چې روانه پښتو وایي. بیانو څو میاشتې د ډاکتر زړور پیغام رانغی. چې راغی نو بد زیری و، لکه چې همدې روسۍ ترې اعتراف اخیستی و. په دا بل پیغام کې راغلي وو چې دده پخپل جرم اعتراف کړی دی، زما په گډون د ټولو نومونه یې ور کړي دي او اوس د خپلې سزا په انتظار کې دی. د پیغام په آخر کې یوه نوې خبره وه او هغه دا چې روسۍ پیغله ډیره د غرب د ژوند پوښتنه کوي او داسې ښکاري چې د امریکا سره نژدیکت غواړي.

# دوهم څپرکی

پیښور راته د دروغو ښار ښکاره شو. آډانو نه یې هم زما په نظر تظاهر وو او جوماتونه یې هم نمایشي وو. د جمعې په ورځ به له هرې خوا د ګیدړانو د شور ماشوړ په شان په لوډسپیکرونو کې د بلاغت سیلۍ کیدې. په داسې یوه ښار کې نو زما ساه بندیده. د وطن نه هم یا خبر نه راته او یا بد خبر راته. شاترینه لا درکه وه. بس نو شین تاغي ته مې پناه ویوړه. دسوات په لین کې مې چلاوه.

څوکۍ مې ورته نوې کړې وې، مینځ یې تک سور، دیوالونه او ستونه ټول د سره پلاستیک، دستونو تر مینځ ځای مې ارت پریښی و او که څه هم چې بادي میکر او نورو موټروانانو راته ویل چې که ډیرې سپرلۍ غواړې نو ستونه سره جوخت کړه، خو زه دلویو غرو کجیر وم او تنګ ځای د تنګ قبر غوندې راته ښکاریده او د خپل ملګري، شین تاغي بار مې هم نه درناوه. که سپرلیو به د خدای وسې راباندې وکړې منانې کلینډر به په لار د غرو نه په رارغړیدونکو او بو یووار په تګ او بیا په راتګ د موټر د ننه او بهر، تر ارابو پورې وینځل او سپرلۍ هم را سره عادت شوې وې. د نسوارو توکنې او د سګرټو ایره تونونه مې هر ځای ټینګ کړي وو او پخوا تر روانیدو مې په سپرلیو شرط ایښی و او د هر سیټ په دیوال هم لیکل شوی وو چې خپل سیټ به هماغسې ستره پریږدي چې دوی ته مې ور کړې. یو څه ناغیړي او زړه بداوی په اولو څو

پیرو کې راغی خومنانی دباچاخان نه په ونه جګ اودانځري غل نه په اوږو کې پلن و . په چوپه خوله دسپرلیو سترګې تـــرې سوځیـــدې. دشین ټاغي کرایه نظر فلاینګ کوچونو ته زیاته وه او په اول کې خلک نه پرې ماتیدل، څو ځلي خومې نیمه تش پیرې کولې خوبیا خلک، په تیره عصري ځوانان رامات شول، هغه سوټ والا پیښوریان چې دسوات هواخورۍ ته به تلل اویا پخپله دسوات ځایی شاه زلمیان. دمهاجرو افغانانو ښځې او نارینه هم پکې وو چې دهغوی بیا بله نیشه وه. په تیره چې زه به یې افغان ولیدم. یوه ورځ یو پنجاپی دلکړې سره کوږ ووږ پاس موټر ته را وخوت، څو نور لنګ والا هم ورپسي وو اوسیټ جي سیټ جي یی ورته ویل. ټولو په پان شخوندونه وهل. په لاره کې سیټ جي پان دموټر په غولي توکړل، ماخوونه لید، مګر منانی پرې راغی اوکش و کړپ یې جوړ کړ. ماموټر ټنګ ته کړ او ومې دراوه چې څه شور دی. منانی ورته ټینګ وچې داتوکانې به په خپلو جامو وچوې. دسیټ بړیڅو سرونه ښورول او په ښارۍ پښتو یې ویل، داسې سې وې خان ( څه څه وایې ) ، داکې برابابو دي، زر معافی به واخلې، خو منانی ورته ویل، « زه نور نه پوهیږم، بس دا بامبړ به یې پاکوي » یو بړیځی راپاڅید چې جنګ غلی کړي او خپل خیرن دسمال یې راوایست چې هغه ځای پاک کړي، خومناني دڅټ نه نیولی، بیرته پخپل سیټ کښیناوه، « نه همداتور کونی به یې پاکوي » سیټ په غوسه شو او وې ویل « کې پاک نه کوم، نو ته سې کوې؟ » منانی ورغی او هغه یې هم دڅټ نه نیولی

د تو کانی په سرسر په سجده کړ، « داسې کوم. » سیټ چې وکتل بې هغې
هم وربانديې پروت يې نو راځه پاک يې کړه، نويې په دسمال هغه وچ کړ
اوبيا غلی خپل سیټ ته ورغی. ماموټر چالان کړ خو دهیندارې نه مې
ننداره کوله. سیټ جي، لکه د ماشوم دلاسه چې پتاسه واخلې، ژړه غونی
دځان سره ايشيده او لاسونه يې لړ او بر ارتول. برېښو يې ځانونه ناگاره
اچولي وو چې گويا موږ هيڅ په دې حال نه يې ليدلی. دهغوی شاته يو
دوه خط وبريت ځوانان ناست وو او يو دبل سره موسيدل. په پېښور کې
چې سپرلۍ په اډه کې کوزې شوې، سیټ په بيړه دبرېښو سره ورک شو،
پښتانه زلميان چې کوزيدل، نو منانی يې په شا وټپاوه او په کرار غږ يې
ورته وويل « شابس دنر بچيه. » .

## دريم څپرکی

منانی په دې نه و خبر چې زه ډاکټر يم. له هماغې ورځې نه چې
مادعلی آباد دروغتون سره خدا پاماني وکړه، تر اوسه پورې چې يوه
نيمه لسيزه يې تيريږي، ماډاکټري نه وه کړې او که به مې په خپل موټر
يادمهاجرو په کمپ کې کوم رنځور سړی، داسې چې علاج مې يې هم
کولی شو، وليد سترگې مې بلې خواته ترې اړولې. په اصل کې زما
دډاکټرۍ سره جوړه نه وه او دهغې لارې دپيسو گټلو مې خوا را
هسکوله. زما په ماغزو کې داگرځيده چې دخدای په دې ارته مځکه او
دنبا يستو په دې گنه گونه کې، سړی د کپ ډوډۍ دپاره دناروغ، مرض

او د وينو او ګنده ګۍ پوری نښتی وي.

خو يوه ورځ مې بازی په بازار شوه. د پېښور نه مې غرمه مهال سپرلی راواخيستې. له هوارې ملکنډ غاښې ته شوو. د شاتنې سيټ نه مې يو قسم ستميدل او زګيروی واوريد. په هنداره کې چې مې کتل يوه ښځه وه نس يې نيولی و او سر يې هرې خواته ځنګيده. خاوند يې هم ورسره و او په غور کې يې پس پس ورته کاوه. بيا نو چوپيا شوه. شين تاغی هم په زګيروي زګيروي د ملکنډ په غاښې ورخوت. بيا زګيروی شروع شو. ناڅاپه مې د خپل پخواني کسب له تجربو پام شو چې په ښځې دلنګون دردونه راغلي دي. شين تاغی مې ورو د غره ډډې ته کړ او ومې دراوه. سپرليو ته مې کړه چې تاسو ټول کوز شئ چې خبره در سره لرم. ټولو په اريانتيا راته کتل خو راپسې کوز شول. د موټر نه پناه مې حال ورته تير کړ او ورنه ومې غوښتل چې په بل بس کې دې لاړ شي. ځينو پنجابيانو او ښاريو ناغيړي کوله چې د پيسو خبر به څنګه شي، مور خو دوه ځلي کرايه نشو ورکولی. مناني جنګ ته تابيا نيوله چې ماغلی کړ او ومې ويل د سپرليو پيسې ټولې ورکړه. ټول د سوات پښتانه او زياتره يې د شين تاغي هميشه ګی سپرلی وې. يوې سپرلی، لکه چې د پښتنولي کوم چينجی يې په ماغزو کې غونځيدلی وي. وويل، مور به بل بس کې لاړ شو او خدا که ستانه آنه لس کيزه واخلو. مګر مناني چې په زړه کې هوښيار و او زما په مطلب زر پوهيده، په زور ټولو ته پيسې ورکړې او له هغوی نه يې وغوښتل چې په سړک لږ وړاندې لاړ شي چې د غږ نه پناه

شی، اوبس تـه دې انـتـظار وبـاسي. زه شـیـن تـاغـي تـه وخـتـلم، د ښـځـې زګـیروی اوس زیات شوی و او پـه خـاونـد یې خـولـې مـاتـې وې. دانـو هـر ډاکټر تـه معلومـه ده چې پـه ښځې دردونـه راشي نـیمایي ورسره پـه خاونـد هم راځي. مـا ورتـه وویـل چې دمـوټـړ پـه مـینـځ کـوریـدور کـې یې وغـځـوي. ښځې خـاونـد یې پـه اول کـې ټـکنی و او زړه نـازړه یې زمـا خـبره ومـنله، ښـځـه پـه زګـیروي، زګـیروي اوږده وغـځـیـده. بـیـامـې دواړو تـه وویـل چې زه ډاکټر یم، ډاکټر مـحرم وي، پروامـه کـوئ، ښځې تـه مـې وویـل، ژوره سا راکـاږه اوبـیـا دمـاشـوم دوتلو زور ووهـه. هـمدامـې ورسره تـکراراوه. سـارا کـاږه، زور وهـه، یو وختـه یې سا بنده شوه او زور یې نـه شو وهلی. مـامـنانـي تـه غږ کړ چې دریډیټر نـه اوبـه راوړه، هغـه ګـیلنـه کې سرې اوبـه راوړې. مـا پـه بـیـړه لاسـونـه دمـوټـړ نـه بـهـر پریولـل او دوارخـطـایـي نـه مـې نـژدې لاسـونـه سوځـیدلی وو. دځانـه سره مـې وویـل چې هـمدا پاکي ورتـه بس ده، بـیـانـو پـه کـار لګـیـاشـوم، پـه مـدار مـدار مـې تر هـغـې لاس تـپـاوه چې دمـاشـوم پښـې مې لاس تـه راغـلې، یوه یې چـیرتـه نښتـې وه، او هـمـدې دښځې درد زیات کـړی و. ورو ورو مـې د پردې نـه خطا کـړه. مـاشـوم چې سر پـه ځـیـړی را وځـي، پـه هـغـې کې دخدای حکمت دی، ځکه چې لاسـونـه او پښـې یې درحم پـه کـوتـونـو کـې نـه نښلي او لـکـه مـاهـی، ښـوی راوزي، خـو داطـبـیـعـي عـجـایـبـات دي چې پـه لـکـهـاوو کـې یو مـاشـوم داسـی راوځـي، لـکـه چې پخپلو پښو روان وي او همدلتـه دی چې درحم دپردې د ځیرې کیدو خطره پیدا کیږي او دبنیـادم مرستـه پـه کـار ده. پـه مـدار مـدار مـې ، لـکـه مـړ چې

له لومې را خلاصوي د ماشوم پښې او لاسونه د پردو او ګونځونه خطا کول، چې ماشوم ټول راووت نو هلک و. ښه مې یاد یږي چې مور هلکان به په کلي کې په دغسې وختونو کې چې ښځې درد تیراوه، د کوټې بهر سره را غونډوو او داخبره مو تکراروله « زر یې کړې، نر یې کړې ». ماشوم لا هم غلی و، نو مې د عادت سره سم په یوه لاس له دوو پښو ونیو او په کوناټې مې څپیړه ورکړه چې کریغې یې شروع کړې. پلار ته مې په غیږ کې ورکړ، « امبارک دې شه » او زه د سرو لاسو سره له بس نه کوز شوم. زما سپرلی تللې وې. منانې په پنجګیلنه کې اوبه تړ مې کړې وې. لاسونه مې پریولل. د ماشوم پلار هم شرمیده او هم خوشاله و او مور خوښې، لکه د جنت حوره بیغمه او له ځانه راضي پرته وه. بچي یې د نس د پاسه لوڅ لغړ پروت و. خاوند یې لکه چې دارو یې خلاص شوي وي، د بوټ په شان چو په خوله او سر بداله ولاړ و. ما یې په اوږه لاس کیښود، « ځان را ټول کړه، په ورینداري باندې خپل څادر وغوړوه. » ده وویل، « اوس به څنګه شي، چیرته به ځم؟ » ما وویل، « غم مه کوه، چیرته اوسیږې؟ » هغه وویل مور د شانګلې یو، نو ما منانې ته غږ کړ، پنج ګیلنه او نور اسباب مو سره راټول کړل، خپل څادر مې د ښځې د سر دلاندې بالښت کړ، او روان شوو. شپه پخه وه چې مدین ته ورسیدو، دهغې ځای نه یو نرې خو پوخ سړک شانګلې ته بیل شوی دی او لس میله لرې د دغه سړي کلي ته ورسیدو چې ما ژې یو څو کورونه دي چې دغره په ډډ لګیږي. د موټر بجلۍ مې د ده د کور دروازې ته سیخې کړې، چالان

مې پرېښود . سړی په بېړه کور ته ننه ووت او د ډېر ځنډ وروسته د څو ځوانانو سره چې یو کټ یې په اوږو کړی و ، راووت. ښځه یې په مدار مدار د شین ټاغي نه کوزه کړه او په کټ یې څملوله، دغه ټول زلمیان په هیجان کې وو او د واخله، جګ که، ټینګ کړه، پام کوه، شا به باړو چې دریدن یې نه و. ماموټر ریورس کړ خو کتل مې چې دوی د کوره ډله راپسې راغلل، په موټر وختل او زه یې له لاسه ونیولم چې راکوز شه، ته زموږ میلمه یې. چې رالنډه یې کړم په هغه شپه مې ځان ترې خلاص کړ خو بیا نو تر اوسه پورې د میلمستیا وو، وریو او چرګانو، د میوو د کجاوو او نورو کلیوالو نعمتونو نه خلاصیږم. منانی مې کله کله ملامتوي چې ته چې ډاکټروې نو د موټر وانۍ په دې سپک کسب دې ولې زما ژوند خواراوه. داسې ښکاري چې په ټول سوات کې که نه وي نو زما په خپل لین کې، زما د ډاکټرۍ آوازه خپره وه، خو ما بیا خپل پخوانی انکار جاري وساته او د ناروغانو خواته مې کتل قدرې هم نه.

## څلورم څپرکی

زما لاین د پېښور نه ترسیدو شریف پورې و، خو د سوات اصلي خوند د مدین او سیدو شریف نه بر، په بحرین کې شروع کیږي، تر کالام او ... وشو پورې ځي. نری لار، لکه د سالنګ د درې، کوزې نیلي اوبه چې سر په سنګړو ولې او عجیبه داده چې د سیند د نري شرنګهار غږ هم بدلیږي او غوړمبهار ترې جوړیږي. د اوبو په سرسپین ځګونه زیات شي او نیلي رنګ یې اوس د سکروټو د لمبو په شان تریخ شین شي. د

سیلانیانو خوان ترمني په دې نورو کوزو ښارونو کې گوزاره کیږي، خو د کالام هوټلونه مخ په خالي کیدو شي. په همداسې یوه مني کې مې یو فرانسوی سیلانی د ارتینې سره په شین تاغي کې، خپلې اډې، سیدو شریف ته ورساوه. چې لاړل نو منانې وویل، « یره دو خارجیانو له، لکه چې د کلدارو د گنډلو چل نه ورځی که ښنگه. ما ته یې زرگون راکړ. » زه هک اریان شوم، چې پنځوس روپۍ گوره او زر. منانې ته مې وویل « او دل منانه، که دوی پرې نه پوهیږي، ته خو پرې پوهیدې، ولې دې ماتې پیسې بیرته ورنه کړې. »، دد په خندا وویل، « منانی د خدای په داد دومره ناشکره نه دی. » ما ته یو څه غوسه راغله. « وایي، خوار خدای کړې، کاپرچاکړې، راکړه دا زرگون. » او همداسې ورپسې روان شوم، په بازار کې خونه و، نو د سیند له غاړې هوټل ته پسې وختلم. هوټلي مې ددوی په ژبه واقف پاتې شوی و، د چایوست یې راته وکړ. ماکیسه ورته تیره کړه، چې داسې دوه خارجیان دي او پیسې یې ډیرې راکړي، هغه ورستنوم. هوټلي حیران حیران راته وکتل، بیا یې وویل، چې هوټل د خارجیانو ډک دی، چې کوم ښیې. ما وویل، دا میړه ارتینه همدا اوس هوټل ته ننوتلي دي. ننبه یې دا چې د سړي په لاس کې یوه اوږده لکړه وه. نو بیا مو سره چای وخوړ او انتظار مو ایست چې که مدعي راپیدا شي. خو هیڅوک نه و. هوټلي راجستر ته ورغی او د مینجرنه یې پوښتنه وکړه، هغه د یوې کوټې نمبر راکړ. زه ورغلم، ورمې وټکاوه، یوې نیم بربنډې ښځې دروازه نیمکښو کړه، لکه چې و یې پیژندلم، په

فرانسوي يې خپل خاوند ته غبږ کړ او دا لاړه. هغه نو بيخي لوځ لپړو.
ماسترگې کوزې واچولې او زرگون کلداره مې ورته ونيوله، هغه ترې
ترې را تـه وکتل، بيـا يې ورپوري کړ او ډيره شيبه زه بهر ولاړوم، چې
راووت نو کالي يې اغوستي وو، خو د اوبو مرۍ يې لا دسرې فرعون
وزمې ږيرې په تارونو کې پيرلې وې. په فرانسوي، يې پوښتنه وکړه،
«پوغ کوه؟» بيا يې جرمني وويله «واغوم؟» او بيا يې انگليسي
راباندې واز ميـيله «واى». ما ورته وويل، د موټر کرايه سرې سر
پنځوس روپۍ ده او تازر کلدارې راکړې، نه سوه واخله او سل راکړه. دی
هم حيران و او هم موسک، خپلې ميرمنې ته يې غبږ کړ، هغه هم ورسره
ودريده او ده ورته زما خبره ترجمه کړه. هغې سروښوراوه او ويښتانو يې
اوبه راوشنلې.

دواړو يو بل ته څه وويل او بيا يې ماته کړه، «بکشيش» ما نادا
بخشش دي. ما وويل «مونږ افغانان په بخشش روږدي نه يو، ستاسو نه
مننه» او لاس مې د زرگون سره همداسې غځيدلی پريښود. هغوی، لکه
چې باور يې نه راځي د جذبې وړي ملنگانو په شان سرو نه ښورول، او يو
بل ته موسک وو. بيانو ښځې خپل خاوند په مخ چپ کړ او، خاوند يې
لاس را اوږد کړ، ددې په ځای چې زرگون واخلي، زه يې تر مټ ونيولم او
کوټې ته يې ننه ايستلم. هغې بلې خوا ته کوټه برنډې ته ورخلاصه شوې
وه چې د چوترې په شان د سوات د سيند په تقريباً سر ولاړه وه. هلته يې
په چوکۍ کښينولم، دوی هم راسره کښيناستل، همداسې خاموش وو.

بیا نو فرانسوی کوټی ته ننووت او ښځې یې زما سره په انګریزۍ د سوات د دري د ښایست خبرې شروع کړې. زه پوهیدم چې څه یې په زړه کې دي خو د شروع کولو چل نه ورځي. چې نارینه یې راووت نو هماغه د بانسو کوټک هم ورسره و. کښیناست او د کوټک نه یې دانتن په شان بل کوټک او د هغې نه بل، د هغې نه بل، همداسې پسې را ایستل او یوه اوږده لکړه ترې جوړه شوه. د هغې د سر پورې یوه د اوسپنې کړۍ وه، نایلونی مزی یې ورپورې غوټه کړ، په بل سر کې یې، د سربو غونډاری او کونډه (چنګک) وتړل، او بیا یې کوز سیند ته واچاوه، پوه شوم چې د کب نیولو شوقي و، یا به یې ځان همداسې ښوده. ښځې یې څه فرانسوي چا کلیټ زما په مخ کې په میز کیښوول، او د یوه ترموز نه یې کافي تویه کړه.

فرانسوی وویل، «زما نوم پویګ دی، ژان ژوزې پویګ» او دامې ښځه ده «ماغی». ما هم د ناچارۍ ورځې وویل، «زما نوم محب الله دی، » بیا مې نو، نه پوهیږم ولې، دا ورزیاته کړه «ډاکټر محب الله». کیږي چې د پاکستان د تاثیر لاندې راغلی وم چې هر سړي په نامه پورې یوه د لعنت غاړه کې تړي، لکه، پروفیسر، ډاکټر، بیرسټر آف لا، ایم اې، ایل ایل بی.... ژان ژوزې وویل «زه پوه شوم چې ته افغان یې» ما پوښتنه ونه کړه چې څنګه؟ د هغې په ځای مې وویل «زما سره واړه لوټونه نشته، که ستاسو سره نه وي، خیر دی، بل وخت به یې راکړې، یا به یې د هوټلي سره ماتې کړم.» خو ده د ځواب په ځای، خپل پایپ په ناز او

نخرو ډ ک کړ، ښځې یې په لاټیمور ولګاوه، په ګوته یې تمباکو، چې نري نري لوګي ترې ختل، کنبیکارل او په کوم چرت کې ډوب شو. ما د ځانه سره ویل، شین سترګیه، په ما دې ورځ خرابه کړه، چې تر څو ته چرسي، ځان خوځوې، په ما به شپه راغلې وي او سپرلی به راته منتظرې وي. ښځې یې وویل، «مور افغانستان ته روان یو» ما وویل، «نن افغانستان د خارجیانو ځاله ګرځیدلې.» بیا مې په ټوکو وویل، «کب نیولو ته ځئ که څنګه؟» ژان ژوزي راته د سترګو د ګوټ نه وموسل، خو سیند ته ځیرو، «هو، یو ځلې د پنجشیر په سیند کې خالدار ماهي ونیسم، بیا مې ارمان نشته.» د ځانه سره مې وویل، خیر دی چې مور د وینې په رود کې لامبو، مقصد چې دی خپل خال داره ماهي ونیسي. دد مې، لکه چې خیال لوستی وی، پایپ یې د خولې څنګ ته کړ او ښځې ته یې ورغږ کړ. هغه چې راغله یو بوتل واین په یوه لاس او درې، یو په بل کې سره ننوتلی ګیلاسونه یې په بل لاس کې نیولي اوسګرټ یې له خولې ځنګیده. خو پخوا تر دې چه خبره انجړه شی، ما وویل، زه ځم چې ناوخته کیږي، سپرلی راته ولاړې دي. زرګون لوټ مې په میزو غورځاوه او بې خدای پامانۍ ووتلم. ماسختن مهال چې مې سپرلی په اډه کې ښکته کړې او په کچه ګړۍ کې خپلې خیمې ته راغلم. یو سپین کاغذ د خیمې پورې سنجاق شوی و. «ډاکټر زرور یې اعدام کړ».

## پنځم څپرکی

ډاکټر زرور مرګ او ژوند دواړه صفا او بې غوټې وو. څیره یې هم

همداسې وه.

صفا خرییلی مخ، زنې، تیرې څرزې سترګې، سپین، جو سرغاښونه، ساده خو پاکه دریشي په غاړه، همیشه ګي موسکا په شونډو، د دوستانو، بلکه د هرچا خدمت ته تیار ولاړ. یو وختې به دده سوانح په کوم کتاب کې ایله دومره لیکلې وي. په لغمان کې پیداشو، په کابل کې یې پوهنځی ولوست، د جرمنی نه د فلسفې دډاکټرۍ سره راغی، څلور کاله یې په پوهنتون کې درس ورکړ، بندي شو او اعدام شو.

عجیبه داوه چې حتی په وروستي پیغام کې هم چې د خپل اقرار خبر یې راکړ د ټوکو نه پاتې نه و. ویل یې چې « زه لکه چې د مجاهدینو د ښې وو تلم. ددې په ځای مې چې ستاسو په شان هغوی هلته په پیښور کې مردار کړي، د کمونستانو د لاس شهید ښه یم. »

او حتې دایې هم وویل چې « د کاپر لور روسی اقرار رانه واخیست خو ارمان چې یو ځلې خو یې خوله راکړې وای. »

د دغه قسم سړي د اعدام په باب به سړی څه وایي؟ د الماسو یو غمی و، څو ورځې د خلکو سره و، بیا ورک شو. درې ورځې مې سوات ته پیره ونه کړه او په حیات آباد کې لراو بر ګرځیدم، نه پوهیدم ولې؟ زما یې پرې څه؟ ده د خپله انده ځان مرګ ته ورکړ، ما خو دوی ټولو ته ویلي وو چې هندوان څوک او ښان څوک؟ د پروفیسرانو یې له جهاد او ملی مقاومت سره څه؟ افغانستان له یوه سره سور اور و او د لته یوازې آتش نفسان ځاییدل، پروفیسران دډاینا سارانو په شان وو چې ددې دوړو او

زلزلو تاب يې نه درلود او زر محوه کيدل. دلته ټوله پوهه داوه چې څنګه ماين خښ کړه، څنګه کلاشنيکوف سره وتړه، څنګه توپونه او هاوانونه چو کړه. دلته پروفيسران داسي بيځايه ايسيدل، لکه بيړۍ دبګوا په دښته کې.

د تعليم بيوزلۍ او بابيزه توب ته مې پام شو، دو لس کاله مکتب، څلور کاله پوهنځی، دوه کاله ماستري، څلور کاله ډاکتري، ګويا دوه ويشت کاله خواري په يوه مثقال مرده کي هيڅ شوه. خو مرګ هم عجيبه شی دی، که پوروړی يې، که پاچا يې، که دې په سلهاوو بنيادمان وژلي، که دې ملک خرڅ کړی، که دې شهکارونه ليکلي، خوچې مړشې نو بيا هرشی په تپه ودريږي، ته همداسې کالبوت ترې روان شې. که دې څوک ستايي او که دې کنځی، داټول درته بې معنا وي.

درسته شپه او درسته ورځ همدا فکرونه وو. د پام دغلطولو کوششونه مې هم وکړل. يوه شپه دمجاهدينو ديوه دوست سرقوماندان مولوی... کورته لاړم. په هغه مې رخه راغله، بس واړه قوماندانان او سر ګروپان وو چې بهير يې نه خلاصيده. يو به راغی مولوی به ور سره دباغچې ګوټ ته شو، څه به سره وپسيدل او بيا به هغه لاړ بل به راغی، تر نيمو شپو همدا حال و، «مولوی صاحب! يو خبره مې درته کوله» بيا به دباغچې ګوټ ته پناه شول. زه پوهيدم چې د وسلو او پيسو خبره وه خو ما دوسلو سره کالونه پخوا آن په دو آب ميخ زرين کې خدای پاماني کړې

وه. وسله مې د روسي قوماندان نه واخيسته او مجاهدينو ته مې ورسوله او هماغلته مې دمقاومت او ډاکټر زړور او دده د پټې شبکې سره خدای پاماني وکړه. اوس مې د تيرې چړې نه هم بدرا تلل حتی که د ډاکټر دجراحی چاړه وي. د پيسو دمورينې ډاکټري سره خو مې خود اول نه ستر ګې خوړلې وې.

زړه ته مې تسل ور کاوه چې ډاکټر زړور هسې يو بيباکه، خوشکه بانکه او په ځان مين سړی و او سزايې له دې بتره. دفلسفې دعالم يې ددې ناولو لوبو سره څه کار ؟ مولوی... مې چې وليد نو ويل مې چې يره په ديني عالمانو کې هم همدا ليونتوب شته. دده پورې خو مې نورې بلاوې هم تړلې. د پيسو دپاره يې کوي. دامريکا او عربو پيسو يې ايمان خطا کړی. په عمرونو يې په تيوک، وظيفو او شکرانې ژوند کړی او اوس په ډالرو او ريالونو کې رغړي.

مګر ځان مې نه شو قانع کولی، چې د زړور او مولوی.... محکومولو ته به ور لنډ شوم او په درو کتابونو به مې دفکر د کندې په درشل ودرول، څلرم کتاب به راغی او لکه پرښتې چې دجلاد دچړې لاندې لاس تړلی مجرم په منګولو کې ترې په هوا کړي، هسې به يې دوی دبيګناهی په جګه غونډۍ رانه يو وړل او دهماغه ځای نه به زړور او مولوی... په موسکا غېږ راخلاصه کړې وه. يوه شپه مې دډاکټرزړور سره داسې زوروره جګړه وه چې منانی څه چې د کچه ګړۍ نژدې ګاونډې مهاجر راباندې خبر شول او خيبر هسپتال ته يې بوتلم. خبره صافه وه.

ماتري پوښتنه وکړه چې « اې ، ډاکټره ، اې ساده سړیه ، ولې دې ځان بېځایه تباه کړ ؟ »

ولې ؟

هو ولې ؟

نو بله لار وه ؟

هو

ته یې را وښیه.

اوس کار له کاره تیر دی. ته مړ یې.

ته خو یې لار راوښیه ، ګوندې مړ نه یم او ته به خوب وینې ، چې بیا داستا په لاره لاړ شم او که لار نه راښیې نو بیا به یو ځل بیا ځان همداسې مرګ ته ور کړم.

نو تا ولې ځان تباه کاوه ؟

پوښتنې ډیرې مه کوه ، بله لار راښیه.

بله لار دا چې زما سره به وتلي وای ، اوس به دې دلته په پېښور پوهنتون کې خلکو ته څه ور ښودلي وو.

زه فکر کوم چې دا کار مې پخپل مرګ سره وکړ.

د اسلام د پاره دې ځان وواژه ؟

نه ، اسلام زما تر زیږیدو پخوا هم و ، اوس هم شته زما په ژوندوني هم و او پس له ما به هم وي.

د وطن د پاره ؟

نه وطن هم همداسې در واخله.

چې د دين او وطن د پاره نه و، نو اوس مې لږ ملا کړه چې د څه د پاره؟

د ځان د پاره.

څنګه؟

که ما د اقرباني نه وای ور کړې بيا مې سترګې ځان ته هم ټيټې وې.

څه مانا؟

ځان ناګاره مه اچوه، ته هم پوهيږې او زه هم. هغه ته وې چې د پاتريک هنری دا وينا دې تل يادوله چې «آيا ژوند دومره خوږ دی چې د غلامۍ دا تکړی په بيه يې هم واخلو؟» زه نه پوهيږم چې دا نور جنابان به څه فيصله کوي، خو زما فتوا د ځان په هکله داده چې يا آزادي يا مرګ... دا ستا ترجمه او وينا ده چې زموږ غوږونه دې ورباندې کڼول او ما د همدې د پاره ځان مرګ ته ور کړ.

خدازده چې ما څومره بغارې وهلې چې منانې او يوه بل ګاونډی سوټ بوټ و تړلم او خيبر هسپتال ته يې بوتلم. هلته نو په رښتيا د ليونو سره پروت وم. ځينې خو پکې بې آزاره وو خو يو دوه سروپ ليوني وو. يو د آدم خيلو د درې يو ښکلی ځوان و چې ما په اول کې فکر کاوه زما په شان به غم ليونی کړی وي، خو دې ظالم په موږ نورو داسې کارونه کول چې يادول يې هم شرم دی. ځان به يې لوڅ لپړ کړ او ګرچاپير به يې د منتيازو داره را خوشې کړه او پخپله به هم ور سره د لاتو په شان تاويده. يو بل غلی بوډا چې ټولو ته به يې زاری کولې چې خوله ورته خلاصه کړي چې دی

يې سپيرې وغواړي. غم داو چې په هسپتال کې دليونو درجه بندي نه وه ، دسودايي نه نيولې ، تر خوروړي ليوني پورې ټول په يوه لويه خونه کې يو ځاى پراته وو. يو افغان هندو هم راکې و چې هغه خداى خوار کړى په عين حال کې گونگى هم و او يو بل هندو يې کله ناکله پوښتنى ته راته. دې پايواز راته کيسه تيره کړه چې داهندو يې داخوانى په نامه نيولى و او بيا يې خدازده څه قسم شکنجې ورکړې وې او په څه قسم خلاص شوى و. داهندو زما په دې خوښ و چې يو خو وطندارو او بل داچې بې ضرره و او په کونج کې د خپلو متيازو سره بوخت و. په غولسي به يې وربانديې رسمونه او هندواني ليکونه کول او کله به يې ورغوى ترې ډک کړ او هغه به يې دگلابو دگل په شان بويولې او نورو ته به يې هم دست په علامې ډک ورغوى ور وړاندې کاوه. په دې خواره کي به په کابل کې څه ناکردې تيرې شوې وي. زه فکر کوم چې جلادانو به دانه منله چې سړى هندو دى او پکې بيا گونگى هم دى. دده بيوزلى مې زړه ته نورې زولنې هم را اچولې.

په هفته کې دوه ځلې دډاکټرانو د (ويزيت) ياراتگ وارو. مگر دوى به د پيښور د پوهنتون دطب محصلين دځانه سره ډله کړي وو او يوازې دهغوى دعملى درس د پاره يې دا دوره کوله. ديوه يوه مريض تذکره (سوابق) به يې له يوې کتابچې نه کتله. موږ، لکه بيزوگان په دوو پښو ورته ناست وو او دډانگ والا محافظ سترگې رابانديې خښې وې چې ځناور توب ونه کړو. چې هندو ته ورسيدل، هغه ورته په موسکه کنډاسه

خوله، دمتیازو ډک ورغوی جګ ونیو. ډاکټر محصلینو ته وویل،
دامریض کوپرواللی دی او کوپروفجی ته ور لنډېږي. ورغوی پوزې ته
جګوي خولا یې څنبلو ته تیارنه دی. کوپرواللی د خپلو متیازو سره لوبې
کوی او کوپروفجی یې څنبی یا یې خوري. تر آخره پورې، دهندو لاس
همداسې په هوا کې پاتې و او لکه سړی چې د عکاس مخې ته ولاړ وي
موسکا یې هم هماغسې په کږشو په ورانه خوله کې کنګل وهلې پاتې
وه. ډاکټر ویل دا سړی ganser syndrome لري او زیاتره خلک
چې په جیل کې یې شکنجې لیدلې همداسې وي، خبرې یې بې واکه وي.
ما په زړه کې موسل چې ډاکټر مازې دلوستلي کتاب خبرې کولې. خو
مثال یې ددې ګونګي هندو نه سل سیله لرې و. دآدم خیلو اپریدی خوحق
ناحقه لکه فواره څرخیده او رنې اوبه یې شیندلې. ډاکټر د هغه نه لرې،
دروازې ته نژدې داسې ترهنده دریدلی و، لکه دځغاستې لوبغاړی چې
درفري تومانچې ته قابو وي. له هماغه ځایه یې زما تذکره هم لوسته او
بالکه ګانو ته یې وویل، «دا کابلی ډیپریسیف مینیا لري او د
اغوانستان د جنګونو سره په دو خوارانو کې ډیر پیدا کیږي. » زه غلی وم
چې هسې نه نورې بلا وې راوکتیږي. یو بل بنکلی ځوان هم زموږ سره و،
هغه هم مهاجرو. د نامه پوښتنه مې چې ترې وکړه نو ایله یې په لیونتوب
خبر شوم. نوم مې چنګیز دی، د بابر زوی یم، د شاهجهان نمسی او د
روس د نیکلی کړوسی. زه په اصل کې د بامیانو پاچا وم خو اوس مې د
چین نیت کړی دی چې هلته شاهنشاه مقرر شوی یم او د چین دیوال یې

ماته جوړ کړی دی. سړی مکتب لوستی معلومیده او که تاریخ نه و نو جغرافي لړی یې پخه وه. ډاکټر وویل، دغه ځوان د سایکوسیس او Wanderlust ښه مثال دی چې ځان د ټولې دنیا پاچا بولي او جدي هم دی. یو بل ناروغ د جلال آباد و او هر ډاکټر یې دګه. دده خبره دوی ته تل داوه چې تاسو پاکستانیان هم ځانته ډاکټران وایئ، خو د یوه لیوني علاج مو ونه کړ. لاړشئ، هلته میاعلی صاحب ته چې هره ورځ یې لیونیان په دلبار کې پراته دي. بیا به یې نو د منطق ځولۍ شواړه شوه او د غم ښادۍ او ودونو خبرې به یې کولې او په آخر کې به یې سړه سا وایستله او په دې به یې ختمه کړه، «وای ادکۍ مورې!» نور به غلی و.

منانی به هره ورځ پوښتنې ته راته او زارۍ به یې کولې چې راځه چې ودې باسم خو زما زړه د دنیا نه تور و او په ځان پوهیدم چې لیونی وم او ددغو خلکو مرکو خوند راکاوه. یوه ورځ مې ډاکټري راوتوریده او ټولو د کوټې یارانو ته مې وویل، «هلکو، دا ربښتیا ده چې موږ ټول لیونیان یو، خو دومره لیونیان نه یو، لکه چې ځانونه ښیو. دا چې ځان ته د چین شاهنشاه وایې دارک روغ دی، هسې یې د خپلې خیټې ګټه دلته لیدلې ده. شاهنشاه ځیر ځیر راته وکتل، نور غلی شو. دې بل لا ټوته مې چې متیازې یې شنلې ګوته ونیوله. «وروره ته لیونی نه یې لیون غرتی یې. مور او پلار نازولی لوی کړی یې او اوس نور خلک درته بنیادمان نه ښکاری». په موږ تاسو کې یوازې هندو لالا یو څه بانګساره دی او هغه هم د ډیرو وهلو د لاسه.

زه هم ستاسو په شان يم. ددې کوټې نه بهر مخکې ځای نه راکاوه او بيا رابانديې عصبي حمله راغله او بې واکه شوم، نو يې دلته راوستم. په تاسو به همدا شان ناخوالې راغلې وي. نه ګورئ چې غير ددې اپريدي ماما نه نور مور ټول د ليونيانو د وطن نه راغلي يو، نو ولې به نه ليوني کيږو.»

ټولو راته ځير ځير کتل او لکه زما خبرو چې ددوی د ماغزو کوم ځای تخنولی وی، رانژدې کيدل او يو قسم د تعجب او ليونتوب نه په ډکه موسکا غلي ولاړوو.

ما وويل، «د پاکستانی ډاکټر نه يې پټولی شئ خو د خپل وطن ليونی نه شئ غولولی.»

ددوی دلچسپی نوره هم زياتيده، حتی د اپريدی په مخ هم مړې او ښکې روانې شوې، لکه چې هغه هم زموږ د زړه په خواله کې شريک شوی وي او يا به يې په مورږ خوارانو زړه سوځيده. په هغه شپه تر سهاره موږ يو د بل سره خبرې کولې او ناڅاپه مې کتل چې ګونګی هندو هم ټکنی ټکنی راوخښنيد او زما په مخ يې لاس راښکه. هغه د چين شاهنشاد په کرار خو زړه وړونکی غږ د کوم نجراوی دا سندره زمزمه کوله چې «واګلنارې نارې نارې نازکه* ولې نه راځې هلکه» بيا به يې د کومې لنډۍ وروستی برخه ورسره ټکی کړه «چا له (چاړه) راواخله ما حلال وکه (کړه) مينه، واګلنارې نارې نازکه، ولې نه راځې هلکه». د دې ساده بدلې سره ناڅاپه شاترينه چې دا درې کاله مې د زړه په تل کې

ساتله، سترگو ته ودریده غوني مې زېړ شو او نژدې مې کریغې وهلې وې. داشپه د جسمي، روحي او اجتماعي بېوسی او بېدردی او غمشریکی یوه مجموعه وه.

یوه هفته پس زما د معاینې وار راغی. ډاکټر له دې خونې وایستلم او خصوصي کلینیک ته لاړو. د لابراتواري ټستونو نتیجې هم راغلې وې. هماغه د افغانستان د پخوانو روغتونونو خبره شوه چې هر مرض ته به یې د پمپوډر په نامه یوه پوړی د چونې په شان سپین اوړه ورکړل. ډیر انګریزي توري یې راباندې استعمال کړل (دی خبرنه وچې زه ډاکټروم) چې و مې ویروي او بیا یې دوه نسخې راکړې چې یوه یې د خوب وه او بله د درد. خو ویل یې چې دا ناروغي په هسپتال کې علاج نه لري، نو بهتره ده چې دده خصوصي معاینه خانې ته لاړ شم. خپل کارت یې راکړ او رخصت شوم. مناني شین ټاغی د هسپتال د د دروازې نه بهر درولی و.

زه په قار وم چې دی بې لایسنسه موټر چلوي، په کومه بلا به ورسره واوړم. هسې هم پاکستاني پولیس په موږ په غوسه دی او په اندک شي مو کچری ته بیا یي. چې پاس موټر ته وختلم، ګورم چې زما د کوټې لیونې ټول پکې سپاره دي. حیران شوم چې ددې به څه پرتو ګ کوم. خو مناني په خوشالی لاسونه سرویل او سپرلی هم خوشاله او کوم نوي شي ته منتظرې ښکارېدې. د مناني، چې زما ترور تیاته پام شو کټ کټ یې وخندل او سپرلیو ته یې کړه « پروامه کوئ. شین ټاغی زموږ کور دی او تاسو مو میلمانه یئ. » ما چې فکر وکړنو رښتیا یې ویل.

بس اکسلیتر ته مې لته ورکړه او ایسته په سوات ورشیوه شوو. له هنداري نه مې خپل لیونیان ځارل. ځینو ترور ترور د غرو پیچومي ځارل او کله به بې واره یولیوني په خندا شو. هندو چې تقریبا شپه او ورځ به یې په ویښه تیرولـه، نه پوهیږم ولې، په داسې خوارږه خوب ویده و. لکه مړ چې وي. شاهنشاه معتبره ځان ته خامتمانیغ ناست و له خپلو رینبکي او خیرنو جامونه یې په کټه پیش دوړې بادولې. منانې په خندا ویل «دا خو رک روغ خلک دي. هسې یې ځانونه په لیونتوب وهلي وو.» مګر ما سره دا سودا هم وه چې په څه بلا مې ځان اخته کړ.

دوډۍ خو به د کوم هوټل نه راواخلو خو دا لیونیان به د شپې چیرته خوندي کوم. لکه چې منانې هم په همدې اندیښنه کې و. او ودې شي چې ده زما د لیونتوب اندیښنه هم لرله. د ملکنډ له غاښي چې واوښتو ناڅاپه هغه سواتی رایاد شو چې د ښځې په لنګون کې ورسره آشنا شوی وم. ایله مې سودد وشود او موټر مې کلې ته وروخیژاود، خو منانې پود شو چې چیرته ځم، راته ویې ویل، «ته دا میلمانه یو ساعت ما ته پرېږده چې یو څه حجامت وربانديې وکړم، دا خیرن لوغړن شرم دی چې د ملک په نیالیچې کښینې.» خبره راته معقوله ښکاره شوه. بس سپرلې یې د کوم نایي دوکان ته بوتلې چې هلته یې هم سرونه او ږیرې وربانديې اصلاح کړې او هم یې په ورځرمه حمام کې خیرې ورومینځلې. ما چې فکر وکړ نو ددوی تبزو نیولې کراستې کالي هم نامناسبه راته ښکاره شول. لاړم بازار ته هلته مې ددرزیانونه شپږ جوړې ملیشه ج' مې واخیستې او

د نايي دوکان ته مې ويوړې. مناني، لکه چې ټوله کيسه نايي ته تيره کړې وه، ځکه هغه د کار په وخت کې موسک کيده، خو زما په ليدو دواړه جدي شول. لکه چې کوم کيسه مال هم د ننه وچې يو يو يې پاکول او لکه ګډان چې په منۍ وسکولل شي، د حمام نه يې بهر را استول اول ليوني چې را ووت شاهنشاه وچې لونګ يې تړلی و. پاک ستره ښکاريده، هندو په هماغه پخوانۍ موسکا را ووت او له ږيرې يې رڼې او په څڅيدې. ټولو جامې واغوستې او يو بل ته يې په خوشالۍ کتل. مناني زه د نايي په دوکان کې پريښودم او ليونيان يې رانه بوتلل، چې راغلل نو د ټولو ږيرې څپلکې په پښو وې. ايله مې زړه په کرار شو او د خپل سواتي آشنا کور ته مې شين تاغي سيخ کړ.

په سبا مې دوی بيرته پيښور ته ورسول او د هسپتال په انګړ مې ښکته کړل، په ډيرو زاريو مې ورنه رخصت واخيست او بيرته د کچه ګړۍ خيمې ته راغلو. وروسته چې مناني د هغوی پوښتنې ته ورغلی و، ويل يې چې يوازې هندو پاتې و او نور ټول رخصت شوي وو او ډاکټر په غوسه و، چې دا کوم حرامي دده مريضان ترولي دي.

يو چرباڼګ، چه زه لاويده وم مناني خيمې ته رانښوت او له بيرې يې پوه شوم چې کومه ټکه راشکيدلې. راووتلم، ګورم چې هغه د سوات فرانسوی، ژان ژوزې پويګ، د خپلې ميرمنې سره راته ولاړ دي. يو څه ترور شوم خو د خيمې يوه پرده مې ورته جګه کړه او هغوی هم ښوی ورننوتل. مناني ته مې د چايو وويل او دوی مې په نياليچه کښېنول.

منانی چایځوښه راوړه، درې پیالې یې په تغر کیښودې، بیا یې نو هره یوه په خپل وطنی رقم کنګالو له او په بل کې یې اچوله، وروستی د ښځې نوبت و. په هره پیاله کې یې بوره واچوله او د شودو چای یې ورتوی کړ. ژان ژوزې خو پروا و نه کړه خو زما پام شو چې ښځه تکنۍ غوندې وه، خو میړه یې په سترګو کې څه ورته وویل او هغې هم خپله پیاله واخیسته. چې سبا ناری ختم شو او د تر خو چایو (چې دوی د هغې سره هم بوره ګډوله) وار راغی بیا نو دواړه بسترې ته تیکه شول. (وروسته به منانی ما ته په خندا ویل چې د پرنګیانو کون غېپي، لکه چې مات وي، سم کښیناستی نشي.)

## شپږم څپرکی (د ژان ژوزې بیان)

تاتیانا خرخر دینوا د اولیګ خرخردین یا هغه خیتور روسي قوماندان لور ده چې د لوګر په کاریزونو او د خلکو د کورونو په څاګانو کې یې زهرجن ګاز شیندل چې مجاهدین، که هلته پټ وي راوباسي. اولیګ خرخردین یو وختې په واشنګتن کې د شوروي د سفارت پوځي آتشه و او تاتانیا لومړني تحصیلات په امریکا کې کړي وو. تاتانیا ښتو په مسکو کې د خارجه وزارت په بین المللی انستیتیوت کې زده کړې وه. د هغې پلار په اصل کې پولینډی و چې د هغې د نیکه سرد د څیر ژنسکی په وخت د انقلاب په وختونو کې روسیې ته راغلی و. څیر ژنسکی د شوروی د ک.ج.ب پلار هم په اصل کې پولینډی و. نو تاتانیا د پخې کورنۍ وه او که نه نو د بین المللی روابطو په انستیتیوت کې کله

چامنله. دا یو لوی امتیاز و او یوازې د کمونست گوند د نازولو مشرانو اولاد او خپل خپلوان پکې اخیستل کیدل. عجیبه دا ده چې د دوی ښوونکي په اول سر کې ټول افغانان وو.

په دغو کې یو لیکوال پاینده محمد زهیر هم د دوی ښوونکی و. زهیر بیا په شوروی اتحاد کې په کومې مرموزې ناروغۍ مړ شو. داسې غښتلي پښتو پوهان، لکه اسلانوف، لیبیدیو او دوو ریانکوف پکې پیدا شول. د پښتو د ښودنې نور لوی وارړه مرکزونه په لیننگراډ او ستالین آباد (اوسنی دوشنبې) کې هم جوړ شول، خو نامن کلاتورا یا نازولو به هماغه د خارجه وزارت په انستیتیوت کې پښتو زده کوله. نه یوازې د ژبې زده کړه، بلکه د ک.ج.ب نورې مروجه ماغزه مینځنې به په همدغو نازولو کیدې. دوی به په ظاهر د پلوماتان روزل خو په شوروی اتحاد کې په هر علمی انستیتیوت کې، جاسوسي د هر فن او هرې څانگې یو ضروری ضریب او شرط و. ژان ژوزې ویل، همدا وجه ده چې ځینې افغانان چې د کانډ** ناووک یا ناووک د شهادتنامو سرد، د ژبې څانگه وه او که د مځکې پیژندنې، بیرته افغانستان ته ستنیدل نو نه یوازې به د خپلې څانگې ماهر و، بلکه ورسره به «سرد» هم وو او دا ذهنیت به ورسره و چې که ضرورت شي نو د شوروی چوپړي به کوي.

تاتیانا که څه هم چې د دویم نسل روسۍ وه خو د ځیر ژنسکي په شان تر خپل وطن نه روسیې ته ډیره وفاداره وه. دا او نور نازولي د خارجیانو او بلکه عادی روسانو نه لرې گرځیدل او حتی چې چاته یې د کور پته هم

نه ورکوله او د سفارتونو په میلمستیاوو کې چې به مجبور شول نو د پوست باکس لمبر یې ور کاوه. تاتیانا او ددې نورو همکسبو ته بیلو متخصصانو د استخباراتو په هره رشته کې نظري او عملي درس ورکاوه، اکثر به عملي کارونه د شوروی اتحاد په نورو جمهوریتونو کې ورباندې کیدل. په عملي کارونو کې بیدو دوی ته د فلمونو او ډرامو د لوبغاړو په شان درس ورکول کیده، په دې فرق چې د فلم د لوبغاړي او اتل د پارد به مثلاً موټرونه درالویدو، یا د غره نه د کولې کیدو په صحنه کې ځیني اسانتیاوې او فلمي غولونې او مهارتونه شامل وو خو دوی به د ربښتو نو خطرونو سره مخامخ کړای شول چې ځنګه ترې راووځي. مثلاً معلم شاګرد ته ویل چې لاړ شه د پلانکي مغازې نه (چې د هغې آمر هم د ک.ج.ب سړی و) پنیر غلا کړه او د مغازې آمر ته به یې پخواتر پخوا خبر ورکړی و چې شاګرد و ځاری او که یې کاروبار د ساده ګانو و چې ویې نیسي. دوی دا زده کول چې ځنګه ګناه و کړي او ځان معصوم وښیې، ځنګه خپل تاکل شوي قرباني په ځان باوري کړي، ځنګه په خارجي ملک کې جاسوسان استخدام کړي.

ژان ژوزې ویل د ک.ج.ب تاکتیک کله ډیر باریک او نغښتی وي. د یوه ملک د کابینې یو وزیر چې ددوی سره مخالف وي، یا مثلاً کوم مذهبي مشر چې د کمونیزم سره یې ورانه وي، او د خپل حکومت په کوم هیئت کې روسیې ته ولاړ شي، ددوی سره په ډیر درنښت او امتیاز سلوک کیږي. زه به دلته د ملا شبه خي تجربه درته بیان کړم. د ژان ژوزې

دې خبرې ما ته ملا عبدالعزيز را په ياد کړ خو چې مې دده نوم ياد کړ، ژان ژوزې وويل «هغه کندهاري ملا ښيې؟» ما ووېل، «هو، هغه هم اوس د شوروي مريې دی.» ده ويل، «ملا عبدالعزيز خو د پخوانه په پوست کې پاک نه و. په اول کې وهابي و، بيا خلقي شو او گوياد اول نه دی په لومه کې گيرو».

ما وويل، «ته څنگه زما د وطن په باب دومره معلومات لرې؟» دده وويل، «چې زما خبرې واورې نو پوه به شې. په اصل کې د ملا شبه خي تجربه در ته بيا نوم». ما وويل، «ملا شبه خي خو زه نه پيژنم، دا نوم خو ما ته افغاني نه ښکاري!» ده وخندل، «تر دې نو بل افغاني نوم نشته، په اصل کې دی د دشت ارچي و، ملا شواخون نوميده، يا به يې نوم بل څه وي خو په ملا شواخون مشهور و. دده راته ويل پښتانه نومونه ورو کې کوي. تاج محمد تاجي شي. نو زه هم شبه خي شوم. ته يو ځلي زما خبره واوره پوه به شې چې زه ولي نه يم. دا خبره ستاسو نفر راته کړيده.»

ميلمه پال ستاسو ملا شبه خي په جومات يا کليسا گرځوي او هلته يې د يوه پاخه شوروي ملا، د مسکو د امام سره کښينوي (هغه هم حتمي د ک.ج.ب سړی وي)، دغه شوروي امام د کمونستي ثناصفت نه کوي، بلکه بدې هم وايي او هغه هم په داسې پسپس او خفيه ډول چې ملا شبه خي فکر کوي، دا يې ما ته راز وو ايه. مگر که شبه خي هوښيار وي او د شپې په هوټل کې د روسي خبرې د ځانه سره تحليل کړي نو گوري چې صرف هغه خبرې يې کړي چې په خارج کې د شوروي پورې کيږي او څه

نوي معلومات پکې نشته، بس کمکي شکايتونه دي چې شوروي رژيم ته هيڅ ضرر نه لري.

ژان ژوزې و موسل او خپلې خبرې ته يې دوام ورکړ:

بيا نو کله چې دغه هيئت بيرته وطن ته روانيږي نو د ټولونه لوی سوغات همدغه ملا شبه خي ته ورکوي. سوغات هم داسې ښکاره، رشوت گويانه ورکوي. مثلاً شبه خي ته په غوږ کې وايي چې نن ماښام زما ميلمه شه، نورو ته مه وايه چې بيا ک.ج.ب خبره نشي. زه به بيا درپسې راشم. کله چې ميلمه پال دی کور ته بوځي نو گوري چې د ميلمه پال ميرمن په لمانځه ولاړه ده. بيا نو دده راز ونياز شروع شي چې زما ميرمن په اصل کې د چچنيا مسلمانه ده او بيا د مسلمانانو د پاڅون او باسمه چيانو تاريخ بيان کړي. ميرمن يې هم چې د ک.ج.ب غړې او په اسلامی علومو کې روزل شوې، د همدې يود ماښام د پاره دې کار ته موظفه شوې ده او سبا ته به نه ميلمه پال دا پيژني او نه به دا ميلمه پال.

خو په دې شپه دواړه مېړه او رته دي. کله چې ستاسو شبه خي رخصتيږي، ښځه يود کځوړه لاس کې ورکړي چې دا په افغانستان کې په خوارانو او ښو مسلمانانو وويشه خو پام چې په هوټل کې چاته حال ونه وايې چې يو نيم د ک.ج.ب سړی هم پکې شته. په هوټل کې چې ملا کځوړه خلاصوی گوري ډالر پکې پراته دي. کله چې د شوروی نه د تگ په وخت کې په هوايي ډگر کې ددوی تلاشي کيږي، د شبه خي زړه درزيږي، خو گوري چې غير له ده نه د نورو ټولو بسکونه پرانستل

کیږي. (دا ټول د ک.ج.ب د پلان یوه برخه ده.) ته نو څه فکر کوې چې دی به دا ډالر په رښتیا خوارانو ته ورکړي؟ که انصاف وکړي هم ایله په سلو کې درې یا څلور په نورو وویشي، او هغه به هم اول په افغانیو اړوي. په بل ځل چې دی روسیې ته سفر کوي نو بیا همدا میلمه پال او میرمن یې ورحاضر شي او د شناخت او دوستۍ بل ګام واخلي.

دا یې یو مثال و. د جاسوسۍ په قاموس کې هم د امید او بیم خبره ده. دوی د ستر اروا پوه، پاولوف نه دا چل زده کړی چې د یو وخت د پاره سپي ته د ګړینجي د غږ سره سم ډوډۍ واچوه او چې ښه ورسره روږدی شو نو بیا ګړینجی وکړنګوه خو ډوډۍ مه ورا چوه، و به ګورې چې د ده ناړې په بهیدو شي.

همدا و چې ستاسو د دشت ارچی ملا د ک.ج.ب په لومه کې کېښیووت.

زه نه پوهیدم چې د افرانسوی ولې ما ته ګډ دی، خو خبرو یې خوند راکاوه. ده ویل د ک.ج.ب او هرې بلې جاسوسۍ او حتی زموږ د فرانسې د دوزیم، بیلې بیلې وظیفې هره یوه ځانله ځانګه او ما هران لري. په دغو کې یوه مهمه یې په هر ملک کې د جاسوسانو استخدام دی چې د شبه خي سره دوی همدا کار وکړ. بله د دښمن د جاسوسۍ د شبکو کشف او شنډول دي چې دا د. ک.ج.ب د څلرم ډایرکتریټ کار دی.

په افغانستان کې خوان پخوا چې شوروی اتحادلانه ود روسانو جاسوسي فعالیت روان و. اوس یې صرف جامه بدله کړې او د خاورې په

ځای د ایډیا لوژۍ په نامه کیږي. حریف لوبغاړی پخوا انګریز و ، اوس امریکا ده او په لوړه سطحه کیږي. هغه خبره رښتیا ده چې ستاسو صدراعظم هاشم خان د روسیې د سفارت لاندې دکانداران ویرولی وو چې د روسانو سره معامله مه کوئ. بیا د روسیې سفیر په یوې میلمستیا کې صدراعظم ته ویلي وو ، « که موږ جاسوسان استخداموو ولې یې ستاسو په وزیرانو کې نه غواړو چې بیسواد دکاندار ته ورځو. »

ما ژان ژوزې ته ویل ، « زه پوه نه یم چې ولې دا خبرې ما ته کوې ، او نه یې پوهیده غواړم. موږ روان یو سوات ته ځو. که ته راسره ځې نو په لار کې به مې سم پوه کړې چې ولې دومره ډیر کړتیږې؟ » ژان ژوزې موسک شو ، « سمه ده په سوات کې به دې په هماغه هوټل کې وګورم چې تا را ته پیسې راوړې. خو یوه هفته پس. موږ اوس وځو ، تاسو همدلته پاتې شئ چې څوک مو سره یو ځای و نه ویني. »

## اووم څپرکی

## د ژان ژوزې دویم بیان

د سوات هوا مخ په سړیدو وه او د آسمان هغه ټرانګه چې د هوټل د چوترې نه ښکاره کیده کله ترخه شنه او کله توره تاریکه وه. شین ټاغی مې د جوړولو په نامه په ورکشاپ کې درولی و او زه د ژان ژوزې افسانې ته فکر وړی وم چې ویې منم که نه. زه چې دا پنځه کاله د تیر په هیر شمیرلو روږدی شوی وم د ډاکټر زړ ور مرګ یو دوه هفتې را ویښ کړم خو اوس مې تابیا نیوله چې د سمڅې د یارانو په شان بیرته شړی په سر

راکاږم او ویده شم. اوس ژان ژوزې بیا چوکه را اخیستې وه او هڅولم یې.

شبه خې اوس په پاریس کې د فرانسې د استخباراتو د شبکې سره و. هلته یې څه بلاغوښته؟ که هر څه مې کول، په ژان ژوزې مې بیره نشوه کولی، چې معلومه شي چې دا دومره پرېږه یې ولې شروع کړې ده، زما یې په شبه خې څه، د روسانو په شبکې مې څه، خو فرانسویان هم د ښځو په شان په خبرو کې نرۍ نرۍ بخۍ کوي، مهم د غیر مهم سره ګډوي او په اوریدونکی کې زاره چه وي. لیکن د زړه په کوم ګوټ کې مې د امید یو څرک هم ځلیده، چې ګوندې په آخر کې کومه داسې خبره وکړي چې په ما هم ولګیږي، ځکه هغه هم لیونی نه و چې په دې آخر مني کې د خپلې میرمنې سره د سوات د هوټل په لغړې باغیچې کې په زیړو پاڼو باندې کوز پاس چکر وهي او ماغونډې یو بیطرف او بې زړه سړي ته لکچر راکوي. ژان ژوزې ویل، «د ک.ج.ب او د هرې بلې جاسوسۍ د دستګاه سره د خلکو د راښکلو د پاره درې مهمې وسیلې دي. یو پیسه ده چې دا د هر خنډ او لوړې ژورې هوارولو نکی بولدوزر دی. خو دا په دروکې وروستۍ وسیله ده. اوله وسیله د ښایستو نجونو او شهواني آسانتیا وو برابرول دي. ملا شبه خې د خپلې عنعنې له مخې د نجونو په کسب کې نه و او اوس هم چې نجلۍ ویني وار پار ترې خطا شي. مګر ک.ج.ب ته نور چلونه هم ورځی، مثلاً د ښایستوکو روسي هلکانو تهیه کول. دویمه وسیله شراب دی. سړی ښه نیشه کړه، بیا یې رووردی کړه او بیا لکه

وربش خور خرهر مابنام پخپله آخور ته درځي. شبه خي به روسی هلک ته سيپاره وربنودله او همداغلته په لومه کې کښيووت. د سفير د وينا حقيقت ايله اوس معلوم شو. د افغانستان يو مشهور وزير چې تل به د صدراعظم قايم مقام او د پاچانازولی و. روسی نجل درلوده او بله نکاح ښکلې ميرمن يې افغانه وه دغه روسی ميرمن هيڅچا په دعوتونو کې نه ده ليدلې. ژان ژوزې ويل دادرې وسيلې ټولې يوه مور لري او هغه دنيايي شهوت او حرص دی. د ملاشبه خي د ښکيل کولود پاره نه پيسې کار ورکړې، نه شرابو، نه نجونو، خو بالاخره يې ک.ج.ب تيز رگ پيدا کړ او ښکلی د برندو سترگو گرجی هلک يې ورو شکارده.

ژان ژوزې ويل داسې نه ده چې تل به دې نوي استخدام شوي جاسوس ته همدا شيان ورکوي. دا داولو ورځو عيشونه دي. بيانو چې رو ږدی شو، نو پکې کښيووت. که دده نه ناغيږی وشي نو ک.ج.ب مثلاً ورته وايی، «ښه دده نو، دا عسکونه (چې پټ يې اخيستي وي) وگورده، که زموږ سره کار نه کوې نو څه، په مخه دې ښه، موږ به دا عکسونه ستا حکومت يا کورنۍ ته ورکړو. دغه مرحله ده چې گويا ملا شبه خی ښکيل او د روسيې خربويه.

د سوات هوا ورځ په ورځ سړېده او يو سهار چې له هوټل نه ووتلم د وارووو يوه نرۍ دوړه د غونډيو په سرونو پرته وه. د ما او ژان ژوزې ملاقاتونه تل پاس په غونډيو او، يا هم کوز د سيند په غاړه وو چې دواړو به په کنجکونو کبان نيول يا موپيښې کولې. په هو ټلونو کې نور

نو مېلمانه نه وو پاتې. په دې ورځ نو ژان ژوزې پاريدلې ښکاريده او پوه شوم چې د کار خبره به ترې راووځي. دواړو خپلو کنجکونو کې چينجې وپيرل. د سوات د سيند په بره خواکې خالداره کبان هم وو چې اوس د ژمي له کبله کوز زموږ د سيند برخې ته هم راښنبيدلي وو.

ژان ژوزې بې مقدمې پوښتنه وکړه «ډاکټر زړور چيرته دی؟» زه هک اريان شوم، لکه چې خبره زما د اټکل نه لا پسې ژوريده. خو ما ځان و نه گراوه، «په کابل کې روسانو اعدام کړ.» زما بې علاقه گۍ په ده اثر ونه کړ. بيا يې پوښتنه وکړه، «څه وايې چې هغه دلته درته حاضر کړو؟» زما زړه ټوپ کړ، «تاسو فرانسويان، لکه چې مړي هم حضورولی شئ».

ژان ژوزې وويل، «که مړ نه وي نو؟» ما وويل، «ولې مې کړوې؟ څه رانه غواړې؟» ژان ژوزې وويل، «بس ځان تيار کړه کابل ته» ما وويل، «لکه چې د ک.ج.ب په شان ستاسو دستگاه هم بيگناه خلک همداسې ايساروي. ته خو ک يې، د زړور نه څه خبر شوې، ولې ورسره دومره علاقه لرې. د زړور خلاصون خو د فرانسې په آجندا کې نشته نو په دې کې څه مطلب لرې؟» ساعت ته مې وکتل، «نه بجې دي، شل دقيقې وخت لرې چې هر څه را ته ووايې او که نه درنه لاړم.»

ژان ژوزې چې زما جديت وليدنو نيغ په نيغه يې موضوع شروع کړه، «زه د فرانسې د جاسوسۍ ضد دستگاه کاريگريم. زموږ يو ژورنالست الان گيونو مېږی او اول ځلې هماغه د اوليگ خرخر د ين د زهر پاشلو د قربانيانو عکسونه بيرون ته وايستل او په ټوله دنيا کې چاپ شول. نو د

خرخر دین لور، یو خو د خپل پلار کست اخیستـه او بل د ک.ج.ب د
څلورم ریاست امر هم و. الن ګیو په دې وختونو کې په کابل کې په لاس
ورغی. په تلویزیون کې یې اقرار هم ثبت شوی او ټولو ته ښودل شوی
دی. زه راغلی یم چې هغه خلاص کړم. د ګیو مستنطق تاتیانا
خرخردینوا ده چې ستاسو د زړور استنطاق هم هماغې کړی دی. نو اوس
به دوه چنچنې په یوه مرده کې وولو. ستا به زړور خلاص کړو او زما به
ګیو. او دادي خبره مې په درو دقیقو کې خلاصه کړه. اوس که پیښبور ته
ځې او که کابل ته، نور د ستا خوښه».

ما وویل، «دا خوناځواني ده چې ما د خوږ ګوتې نه نیسې او د ډاکټر
زړور نه دې ما ته د لومې دانه جوړه کړه.» ژان ژوزې وخندل، «داسې هم
ده او داسې نه ده هم. یو خو د ډاکټر زړ ور خبره ده او مور ویل چې ته به
همکارۍ ته زړه ښه کړې. مګر یوازې دا خبره نه ده. ته یو بل کمال هم
لرې او هغه دا چې په کابل کې یوه نجلۍ هم ستا په انتظار ناسته ده.»
زما زړه په دوزا شو چې شاترینه خو به نه ښیي!

ژان ژوزې د شیطان ماشوم په شان سترګه و ټومبله، «بس پوه شوې.
دا کار بې د هغې له مرستې کیدونی نه دی.» ما وویل، «پخپله د زړور
وینا ده چې زما نوم یې هم روسانو ته ورکړی دی، نو که بل چا ته نه وي
تا ته خو د ک.ج.ب زور معلوم دی، د رسیدو سره سم به یې نیولی یم.»
ژان ژوزې وویل، «په دې هم خبر یو، نو اوس خوښه ستا ده چې ځې او که
نه ځې.» ما وخندل، «ته نو چې په هر شي خبر یې ملا شبه خي به دا هم

در ته ویلي وي چې محب الله د خرپ سړی نه دی، د ترپ سړی دی.»
هغه وموسل، «په دې هم خبریم خو شبه خې دا هم وایی چې محب الله
چې یو وار یو کار ته د دشی نو بیا یې نیمګړی نه پریږدي.» ما وویل
«موږ ورته... غوږول وایو، په انګلیسی کې په خولی کې د بنکې
ټومبل وایی، چې تا سو به څه وایئ؟» ژان ژوزې داځلې په رښتیا او د
زړه د اخلاصه وخندل. پخوا تربیلیدو مې ورته وویل، «ته فکر مه کوه
چې بس ته هوښیار یې. له اول نه دربانده شکي وم.» هغه په تعجب
وویل، «څنګه؟» ما وویل، اول خو دې زرګون لوټ په کرایه کې راکړ. زه
پوهیدم چې ته دومره کم عقل نه یې، خامخا به دې په دې کې کوم چل
وی» ژانژوزې شرمیندو کې موسکاو کړه، بیا مې وویل، «بله دا چې
ستانه یود سهود هم وشوه. ویل دې غواړې پنجشیر ته لاړ شې او هلته د
پنجشیر په سیند کې خالداره کبان ونیسې.» ژان ژوزې وویل، «نو د
پنجشیر په سیند کې کبان نشته څه؟» ما ویل، «شته خو خالداره کبان
یوازې د هندوکش نه شمال ته سیندونو کې پیدا کیږي، د پنجشیر تول
شیر ماهي دی.»

## اتم څپرکی

د ګړو له لارې پلی کامې ته واوښتم او له هغه ځایه په لاری کې لوړ
مازیګر کابل ته ورسیدم. توري وریځې او شمال و او پرخ پرخ یخ باران
چې یو نیم دواوري څپولی هم ورسره و، وریده. اریان وم چې که د شناخته
کور ته لاړ شم په هغوی ظلم دی او که په هوټل کې شپه وکړم هغه خو ټول

د خاد د لاس لاندې و. د لارې په تم ځای کې ولاړوم چې يو ځو کړيرې راپيدا شو او مخامخ زما خواته راغی. ما ويل، محب ګله، لکه چې په اول دړدنګ کې لاړې. څو کړيرې روغبړ راسره شروع کړ او زه هم ترور وم چې لاس ورکړم که نه. په کرار غږ يې وويل، «ملا شبه خې ستاسو په خدمت کې دی.» بيا يې نو بې غږ او غوږه زما دوه بکسونه وچت کړل او يوه ټکسي موټر کې يې کيښودل. بس نور څوک نه وو، پخپله ډرايور شو او ايسته يې د ښار مينځ ته روان کړم. کابل ښايسته زيات فرق کړی و.

د مکروريانونو بلاکونه زيات شوي وو او حتی د مطبعې لر او بر د هوايي ډګر خواته هغه ځايونه يې ډک کړي وو چې يو وخت به زموږ د حبيبيې د ليسې هلکانو پکې سپورټونه کول. لوی سرکونه يو څه د پخوانه ستره ښکاريدل او څلي ملي هم زيات شوي وو. خو خلک نظر پخوا ته يو څه زيات په بيړه کې وو او په سرويسونو باندې ګڼه ګونه ډيره وه. شبه خې، لکه چې زما په ترورتيا پوه و. ويې ويل، «دا ستا پښه لکه چې د زانې په شان لمده ده. دا خلک، يو خود باران نه تښتي، ځکه د هواد حالاتو اټکل وايي، چې نن شپه به واوره پيل شي. چې خلک به د يخنۍ سره څه کوي. بې هغې په اتو بجو قيود شب ګردي لګيږي چې موږ هم بيړه وکړو.»

کابل دومره هم نه و بدل شوی چې زه به يې ونه پيژنم. موټر د هارتن د پله نه تير شو او د ګذر ګاه لاره يې ونيوله. د چاردهي حکومتي ودانۍ

ته مخامخ د شاغاسيانو كلا وه. هلته يې موټر د كلا په لويه دروازه د ننه كړ او بيا ترې كوز شوو.

پاس يوې ماڼۍ يا با لاخانې ته يې بوتلم چې نيمه لوڅه وه. ما دغه كوټه هغه وخت ليدلې وه چې په سرو غاليو فرش وه او د شاغاسيانو د خانانو به په كې غورو درب و. اوس نه ناصرخان و نه يې سره پېلان، بس زه وم او د غه مړتت.

د كوټې په يوه ګوټ كې يو برقي منقل ايښى و او ترڅنګ يې د اوبو آودان د تشت سره. تشت د مردارو اوبو او د پيازو او هګيو د پوټكو نه ډك و. ملا شبه خي په ديوال كې د يوې بې ښيښې الماري نه يوه غوټه را ښكته كړه او د هغې نه يې هګۍ او پياز وايستل. د پياز ځينو غوټو شنه ښېښونه وهلي وو او داسې ښكاريدل چې ډېر وخت هلته پراته وو. دغه الماري ګانې يو وخت د كيمخت او جانان د سرو شنولوښو نندارتونونه وو. ما پوښتنه وكړه، «څه سول دا نازولي؟» شبه خي د ځواب په ځاى راته وويل، «پس د ډوډۍ به د سبا ورځې پلان سره وڅېړو. يو څو خبرې لا حل شوې نه دي او زه تا ته منتظروم.» لكه چې سرى ډېر جدي و، نو زه هم غلى شوم.

د ډوډۍ نه وروسته شبه خي د سبا دورځې ډېر تفصيل راكړ، پلانې ځاى ته به دې بيا يم، پلانكى به وينې، داسې به ورته وايې، داسې به كوې. دې لكه ما ته ژرنده ګډو خو زما چرت بل پلو و. يوه خوږه تلوسه را سره وه، لكه چې ماشوم د اختر د سهار په انتظار وي. بهتره د ده وواېم د

مکتب د وختونو په شان پخواتر دي چې په کالني امتحان کې ښوونکی پارچه راکړي تروروم. شاترینه لیونی همدلته، په همدې ښار کې ده، خدازده چیرته، خدازده څه کوي، خدازده زه به یې یاد یږم که نه، چې دا و وینم څه به وایم څه به کوم څه پوز به نیسم؟

د بالاخانې د ماتو کړکیو نه سوړ باد راته. یو د غلو لالټین چې ښیښه یې نیمه توره وه بلیده او ژبګی یې د باد د څپې سره لړزیده. واوره نو سمه په شرنګهار شروع شوې وه. د کابل د ژمي نه مې بد راتلل او بیا هغه د لیسې وختو نه ستر ګوته راته دریدل چې په لیلیه کې به مو زړې شړلې کمپلې د ځان نه تاو کړې وې او د سړو نه به ریږدیدو. هغه بل کابل، د کابلیانو او نازولو کابل، ماته پردی و.

هغه کابل چې په ژمي کې به خلکو د حلیم په نامه حلوا وزمه خواږد په غوړو کې ډنډ خوړل، لاندي پلاوو نه به یې پخول او په تاودو صندلیو کې به ترستوني پټ وو او د شپې ترنیمایي به یې کیسې کولې او هغه زنغوزي او توتان چیچل چې په صندلۍ باندې دلې پراته وو. موږ اطرافیان د خدای د دغو نعمتونو نه بې برخې او پخپل کابل کې جلا وطنه وو.

سهار چې پاڅیدم یو دلویشت واوره د کړکیو په درشایي پرته وه چې زما په اټکل، په مځکه به نو دوه لویشتې واوره وه. د پاڅیدو سره سم شبه خې د پیري په شان له بلې کوټې نه د پتنوس سره راووت. توره المونیم (ارمونیه یې) چاینکه، د بیګاپاتې سړه ډوډۍ، په پیاله کې یوه

کاچوغه بوره تیاره اچول شوي. خو زه تلوسې ورې کړې وم. ما چای خوړ او د خپلو څپلیو غم راسره و چې اوس به ځنګه وځم؟ خو شبه خي، لکه پیرې ورک او ذ سترګو په رپ کې د موزو د روسي پرې د پوستکي د خولۍ او کوټ سره راپیدا شو. بیا چې ما دالرو برکول نو یې دریشي راوړه. یوه بتهوه یې چې پوهیدم پیسې پکې دي، د کالیو په سر کیښوده. چې د شاغاسي د کلانه وتلم نو بلا تشبیه، تیار روسي وم.

## نهم څپرکی

روسان، لکه ښاپیرکان داسې دي. ښاپیرک چې ځینې ورته څکالي هم وایي او په عربۍ یې خفاش او په فارسي یې شب پره یا شب پرک بولي، د ممجن او تیاره ځای، مارغان خو نشو ورته ویلی، ځناوران دي. روسان یوه ژوره ویره لري، له بنیادم نه، له طبیعي آفت نه، له خدای نه. پټ پټهونی یې خوښ دي، تیاره او اسرار آمیزه ژوند یې خوښ دی. ژوره غولونه او خطا ایستل د روس خصلت دی. یوه لیکوال /الکسي تولستوی/ د روسي خصلت نومی کتاب کې همدا خبره، البته په ژوولې لهجه کړې ده. دا چې د شطرنج نړیواله قهرماني اکثر د روسانو په لاس کې وي، د دې چینه هم همدا روسي خصلت دی چې په خطا ایستلو، ژورو توطئو، او د کاسې لاندې د نیم کاسې په پټولو بناده. په روسیه کې یوه نانځکه جوړیږي چې بابوشکا یې بولي، یوه نانځکه، پکې بله، پکې بله.

شبه خي زه په دې سهار له ډیرو کړلیچو لارو یو ځای ته بوتلم، موټر

يې ودراوه، په يوې تورې پټۍ يې زما سترګې وتړلې او يوې زير خانې ته يې ننه ايستلم. پټۍ يې رانه لرې کړه. چې سترګې مې سره وسرويلې، اول شی چې ما هلته وليد يو ښاپيرک وچې دننه په کوټه کې لر اوبر الوته. کوټه نيمه تياره وه. خدازده څو دقيقې په همدې کوټه کې روان وو چې يو ميز ته ورسيدو. يو تت برق د چت نه ځړيده. د ميز تر شا په يوه کرسۍ يوه ښځه چې په اول کې مې صحيح کولی نه شوه ناسته وه. ويښتان يې دغوشا يو د تپۍ په شان په کوپړۍ تبۍ کړي وو. د ميز بل سرته دوه کرسۍ تشې وې، شبه خې په يوې باندې کښيناست او ما ته يې په بلې د کښيناستو اشاره وکړه. اوږده شيبه چوپايي وه. ما د نجلۍ د کړو وړو جاج اخيسته، نه ښايسته وه او نه بدرنګه، خو د پيغلتوب په جوش کې ښکاريده. د چت د کوم ځای نه، د ديوالي ساعت په شان په منظمه وقفه ځک ځک او به څځيدلې. په چت کې نلونه، لکه ماران هرې خواته غځيدلي وو. خاموشي تر حده زياته شوه. زما په خيال هغې هم زما جاج اخيسته. بيا يې په کړار غږ په رسا پښتو په کندهارۍ لهجه وويل، «ترينا غواړې؟» ما بې خوده وويل، «هو». بيا يې وويل، «زړور غواړې؟» ما وويل «هو» بيا نو غلې وه او شبه خې ته يې کتل. شبه خې، لکه چه وارخطا و، خپله بړيره يې داسې ګروله، لکه چه اور وربانديې بل وي. خو بيا يې هم وويل، «زه هم خپل سړی غواړم.» خو هغې لکه د شبه خې خبره يې چې نه وي اوريدلې، غلې وه او ورته کتل يې. شبه خې د بږيرې ګرولو ته زور ورکړ او بيا يې په نري غږ وويل، «هو، ستا شرط هم

منم. » ایله د نجلۍ د مه راسته شود. ښا پیرک لا زموږ په سر دورې وهلې

خو د اوبو څڅواکي ختم شوو. نجلۍ پاڅیده او د کوټې بل سر ته چې تپه

تیاره وه روانه شوه. کوټه به البته ډیره اوږده وه چې ښایسته ډیر وخت یې

د پښو ښکالو راتله. شبه خي بیا رابانـدې سترګې وتړلې او موټر یې

چالان کړ نو ما خپله پټۍ لرې کړه، خو هیڅ ګټه یې ونه کړه، د بنی بشر

غږ غوږ نه و، فقط د واورې څپولي وو چې په شرنګهار را پریوتل، داسې

چې په سړک نه د پښو پل و او نه د ارابو.

د شه به خي والګا په جیپ بدله شوې وه او بیغمه بیرته مخ په ګذر

ګاه، د شاغاسي په کلا ور روان شوو. د غرمې ناري بیا هماغه هګۍ او د

سیلو توره ډوډۍ وه. شبه خي یو څه راضي معلومیده، کله به موسکی

شو. ما د ځانه سره و یل، اوس به یو څه دزړه خواله راسره وکړي. ما د

پوښتنې تابیا نیوله خو ده پرې نښود م او په جدي لهجه یې وویل، « درې

ساعته آرام وکړه، نن شپه میلمانه یو. » ما و یل، « چیرته؟ » او هیله مې

داوه چې داسې ځای وي چې شاترینه یو ځلې وو ینم. خوده، لکه د حال په

ژبه چې خبرې کوي، سر و ښوراوه او بلې کوټې ته روان شو او زه په چرت

کې ډوب پر منبی یووړم.

یو وختې د شبه خي ښکالو راو یښ کړم چې لګیاو لالتین یې لګاوه.

دومره زر تیاره شوې وه. وروسته نو بلې کوټې ته لاړ او د یود تور بکس

سره بیرته راغی. لکه جراح چې پخوا تر جراحي خپل سامانونه په دقت

قطار ږدي، ده هم اول د بکس سر خلاص کړ، بیا یې پلاستیکي

دستکشې په لاس کړې، نور یې قسم قسم بوتلونه، پتې، بیاتې او نورې بلاوې. بیا یې په یوه سطل کې ترمې او به راوړې چې زه په کناراب کې ځان پریمینځم. که ما د خدای وسې وکړې چې ساړه دي، خو ده خپل کار کاوه. په ناکامۍ مې ځان پریوله، غاښونه مې برس کړل. ږیره مې لالټین ته وخریيله او د شبه خي جراحۍ ته کښیناستم. اول کار یې چې وکړ د سرو زرو درې څلور قالبونه یې زما د کوز او پاس غاښونو په سر کیښودل او بیا یې سرو نه دننه کاږه کړل چې د غاښ د پاسه ټینګ شي. بیا یې نو ښه ډبل ستپالیني بریتونه په شونډو راسپارد کړل. یو قسم ترخه آبي قلمخونه یې په زحمت د ستر ګو په ګاټو راله کیښودل. ما ویل «نن سهار دې ولې نه سینګارولم؟» ده وویل، «سهار خوموږ یوازې وو، نن شپه مجلس دی.» بیا یې نو سپین کمیس، سور نکټای او نیلي رنګه ښه لیسه دریشي راکړه. د سپینو زرو سور بیرغ یې راله په ګریوان وټومبه، قوي بدبویه روسي کلونیا یې په مخ راومښله او څه تیزبویه عطر یې په جامو راوشنل، مګر بوټان یې چې راوړل ددو سرو نه جوړېدل، بلکه سره ساقداره بوټان وو. ما ویل په دې کې به یې هم حکمت وي، او په ترد غونې ما ښام د کلانه ووتلو.

اوږد روښانه سالون له افغانانو او روسانو ډک و. په تعجب مې ولیدل چې روسي ښځې خووې چې وې، افغاني میرمنې هم په شمیر کې دومره کمې نه وې. شوخې سرې شنې جامې، د څټ ګریوانونه د V په شکل، پاس ارت او کوز نري چاک، تر ملا رسیدل. زما په نظر دا جامې

ښکلې نه وې، سکسي وې خو يو ډول بې بندو باري او افغانيت ته يو ډول سپکاوی ترې ښکاريده، مگر بيا هم افغاني ميرمنو څه کول څه يې پرېښودل او خپله طبيعي ښکلا يې برېښوله. روسۍ ښځې لکه پيلانې، د اوږو نه تر پښو پورې روغې استوانې وې او ما ته يې د پښتو دا متل را ياد اوه چې «يې نرۍ، بې نرۍ، تنده خيتيه پښې نرۍ»، سپينې، بې مالگې او د کاسير توب نمونې وې. بيځايه يې خندل او خپل طلايي غاښونه يې ځلول. زما خپلو غاښونو ته پام شو او شونډې مې نورې هم سره وروستې، خو موسکامې ورپورې سرېښ پرېښوده. خادمانو په پتنوسونو کې د شربتو او شرابو گيلاسونه پاس نيولي، د مار په شان د ميلمنو ترمينځ کاږه واږه تيريدل، په هرې پينډې تم کيدل چې ميلمانه گيلاسونه ورنه واخلي. لږ او بر مې و کتل خو شبه خې لا درکه و. گيلاس زير ليمکونادمې واخيستل او د مصنوعي موسکا سره مې په ترورتيا هرډ خواکتل. د مچيو د باڼ په شان زوږ و. گيلاسونه سره کړنگيدل او د (مير، دروژبه، ده وی) شعارونه تکراريدل. دلته هلته د خره د نږيدا په شان يود کرکجنه خندا هم راتله نور نو بې مفهومه غومبرو چې هيڅ خلاصيدن يې نه و. د زياترو نارينه وو عسکرۍ دريشۍ وې چې زما ترورتيا يې لا هم زياتوله.

يو ځلې مې پام شو چې يو روسی منصبدار ما ته ځير دی، خو چې سترگې په سترگو شوو، نو يې مخ واړ اوه. زه پوهيدم چې د خوشالۍ فضا هسې برغولي و او د ديگي په مينځ کې د جاسوسۍ، توطئو،

دسیسو، وینو او قتلونو ننګولی پخیده. هر سړي بل ځاره او هر سړي په خپلو خبرو، حرکاتو او حتی کاتو باندې سانسور لګولی و. لږ وروسته په همدې پتنوسونو کې په بشقابونو کې ساړه خواړه راغلل. د بادرنګو ترازي، ایشیدلی خوساړه کچالان، کلبسې (یو ډول د خوک د غوښې اوږده ساسیج) دا ټول په یوه پتیر پاستی کې تاوشوی وو. زما ترڅنګ یو افغان منصبدار دوه د پاستو لولې واخیستې، یوه یې یوې روسۍ ته ورکړه چې، زه فکر کوم میرمن به یې وه. دواړو په یوه لاس کې د شرابو ګیلاسونه نیولي وو. داسې ښکاریدل چې دوی هم دومره زیات بلدنه دي او زما په شان دیواله ته تکیه ولاړ وو.

پتنوس والا زما مخې ته هم تم شو. ما یوازې بادرنګ د پاستې نه واخیست او خپل افغان ګاونډي ته مې و موسل. هغه په غوږ کې راته وویل، «خدای دې د روسانو ډوډۍ ووهي.»، ما ورته و موسل او نور مې هیڅ ونه ویل. اوس نو مجلس زور اخیستی و او شرابو د خلکو خولې پرانتې وې او یا به ټولو ځانونه همداسې صمیمي او مخلص او ساده ګان ښکاره کول. په همدې وخت کې یوه ښکلې روسۍ ښځه چې آبی کمیس یې تر زنګنو رسیده او نظر نورو ته سنګینه بریښیده، ګیلاس په لاس زما خواته راغله. په رسا پښتو یې ځان معرفي کړ، «زه تاتیانایم». بیا یې ماته ځیر ځیر وکتل او پوه شوم چې زما د ځواب منتظره ده. خو زه نه پوهیدم چې خپل نوم څه ورکړم. خو هغې په خوږې موسکا وویل، «که زه غلطه شوې نه یم، ته محب الله یې» ما په وړ خطایي شاوخواته وکتل،

خو هغې مې په اوږه لاس کیښود او ویې ویل، « تاخو هر سړی پیژني! »

ما وویل، « تاسو خطا وتلی یئ، زه محب الله نه یم » خو هغې مې خبرغوڅه کړه، « ټول دې پیژني چې په شوروی کې دې تحصیل کړی او د سالنګ د تونل په جوړولو کې ستاکار نامې ما ته معلومې دي. اول جیپ د سالنګ په غاښی تا وخیژاوه ، هغه وخت لاتونل جوړ شوی هم نه و او یوازې یوه نری لار یې د سامان چلولو د پاره پاس په سر تیره شوې وه، خو چا ورباندې موټر چلولو ته زړه نه ښه کاوه. ګویا ته د سالنګ قهرمان یې. » ما به چې خبرې ته خو له خلاصوله، دې به غلی کولم. آخر کې مې، وویل، « هو ٔهماغه یم، خو اصلي اتلواله د شوروی ملګرو وه. » تاتیانا کټ کټ وخندل، لاس یې راکړ او نورو پینځو ته د روانیدو په وخت یې په کرار غبږ او همیشه ګي موسکا په عادی لهجه وویل، « دریمه ورځ. »

دا هماغه تاتیانا ، د قوماندان خرخر دین لور وه چې زموږ ډاکټر زړور یې په مرګ محکوم کړی و. دا په ریښتیا هم پیمخې وه او یا به داسې وي چې خارجي پښتو وایي په پښتانه لا هم خوږ شي. په هر صورت، ملا شبه- خې پوه شه او دده حرامزاده ګي، زما تلوسه شاترینې ته وه، چې ګوندې دلته یې ووینم، خو نیمه خوا پاتې شوم. په همدې کې وم چامې په اوږو لاس کیښود. په اول کې خو مې د ډارد هیڅ شاته ونه کتل. لکه سړی په خوب کې، د مالوچو په ډیری کې منډې وهي او هیڅ خپل هدف ته نه رسیږي، ما هم شاته د کتلو کړ او همداسې اوږد تیر کړ او پیړی رابانډې تیرې شوې چې ایله مې مخ شاترینې ته واړاوه. هماغه د ژوند د مستیو

ډکه نجل وه چې څلور کاله پخوا مې د تاله برفک په دښته کې خواپورې نیولې وه. هغې چې ولیدم ئو، لکه چې سم مې نه پیژني تندی تریو کړ. خو ما خو له د عاشقانو د راز ونیاز په علامه غوږ ته ورنژدې کړه. یو قسم د سنځلو د ګل په شان خوږ عطر چې د سړي زړه هم ورانوي او مړیدن هم تري نه وي، زړه راتازه کړ. ماورو وویل، «مه ویریږه، زه پخپله یم، ډاکټر محب الله.» او هغې هم ځان راټول کړ، اننګي یې یو څه د شرمه وه که د بل احساس نه سره شول، لکه چې ټینګه مې په غیږ کې نیولې وي. بې ډیله د سالون نه بهر برنډې ته راووتلو او په نیمه تیارې ډیودۍ کې مو غاړه سره ورکوله چې ناڅاپه زوی مړی، شبه خې غماز راپیدا شو. داخلي نه ږیره وه او نه بل څه، صفاسوټ بوټ و. ټکسي یې په سړک چالان ولاړو او د برقونو رڼایی په واورو ځلیده. بې له غږ او غوږه یې په موټر کې کښینولو او داخلي یې خیرخانې ته روان کړو. هلته، دې مخکې موږ ورپسې په یوه کور ننه وتلو. یوه ښکلې په سرو قالینو فرش خونه وه چې، یو لوی تلویزیون ورکې چالان و او نیمه برینډې عربۍ نڅاګانې پکې روانې وې. په دې کې د روسانو او داخلي کمونستانو عجیبه چل و، عجیبه باریک بیني وه، حتماً د شبه خې په شان جاسوسانو د اسلا ورکړې وه چې د خلکو د حیا پرده وشلوئ خو ددوی په خپل دود. عربي موسیقي، عربي ساز، هر عربي غږ خلک د اسلام او قرآن پورې تړي. خلک فکر کوي چې په عربۍ، د قرآن په ژبه کې، به هیڅکله د داسې ناکړدو د پاره ځای نه وي. پریږده چې وګورې چې په

عربي او عربانو کې څه ناکړدي دي چې نه کيږي. هدف دا و چې د خلکو په بې کچه انګيرنو کې د شک درز پيدا شي او پدې کې ډيرې ګټې وې. يو دا چې عربي ژبه به د سپېڅلتوب او ملکوتي حالت نه ووځي او د خلکو پام شي چې په دې ژبه او قوم کې هم داسې بې حيايي کيدلی شي. بله دا چې د عربو به هم نوم بد شي او دا ځکه مهمه وه چې د مجاهدينو زياتره مالي مدرک همدغو عربو برابر اوده او خلکو ويل چې دا خو د ديني ورور ګلوۍ په احساس کوي. اوس به خلکو ته معلومه شي چې عرب په اسلام چندانې اړ نه دي، ددوی او امريکايانو (امپرياليستانو) ترمينځ تفاوت نشته.

شبه خې ورک شو او مور په دې لويه کوټه کې يوازې پاتې شوو، مور دواړو يو قسم د سترګو پټ پټوني کاوه. شاترينې ځان ناګاره آچاوه او د تلويزيون ننداره يې کوله، خو بيا به يې په موسکا ما ته وکتل. ما د هغې بخارۍ شانيولې وه چې د خونې په مينځ کې ولاړه وه او نرۍ نرۍ تودوخه يې راپو کوله خو به چې دې ما ته وکتل مـ ـه ليمه کوز کړل. زه لاړم او تلويزيون مې بند کړ. دا يوه شوخي وه چې د ساترينې نه د نه کتلو بانه واخلم، خو په همدې وخت کې شبه خې په يوه پتنوس کې د چای ددرو پيالو سره راغی. مور ته يې په اشارت په کوچونو د کښيناستلو امر وکړ. بيا نو لاړ تلويزيون يې بيرته چالان او د هغې غږ يې تر پخوا لالوړ کړ. يوه شيبه درې واړه کرار ناست وو. بيا نو شبه خې شروع شو.

«تاسو به دواړه سم نه پوهيږئ، چې تاسو دلته څه کوئ، زه دلته څه

کوم او پلان څه دی. نو ما ته غوږ شئ ځکه چې دا وروستی ځل دی چې

تاسو په پلان خبر کړم. دا اوږده کیسه ده خو زه به یې په څو دقیقو کې

غټې ټکي چې تاسو ته په کار دي ووایم چې بیا ورانی رانه شي.

فرانسویانو د تاتیانا سره بس دا تجارت کړی دی چې الن گیو به

ورسپاري او فرانسویانو ورسره منلې ده چې هغې ته به امریکا سیاسی

پناه ورکوي. دا معامله زموږ په گټه ده ځکه چې د تاتیانا سره د

ک.ج.ب ډیر اسرار دي، هغه به ټول غرب ته ورکړي. اوس به د هغوی د

وتلو بندو بست وکړو.» ما وویل، «دا خو ښی شکه چې تاسو ښه گټه

کړې ده، خو زما یې پرې څه چې ستا سره مرسته وکړم.؟» شبه خي

وویل، «زه په خپله دې خبرې ته راتلم. په دې معامله کې بله گټه د ډاکټر

زږور خوشې کیدل هم دي چې تاتیانا راسره منلې دي. اوس به راشو د

وتلو پلان ته چې تا یې هم د یوې برخې ذمه وهلې ده.» شاترینه او چته

پاڅیده، ساعت ته یې وکتل او ویې ویل، «دا خو په رښتیا هم ښه معامله

ده، هم فرانسه خوشاله، هم تاتیانا او هم محب الله خان» او بیا یې

پسخند وکړ، «زما وجود ته ضرورت نشته.» شبه خي اریان اریان ما ته

وکتل. ما وویل، «په دې معامله کې ته هم شریکه یې. د سرخکان تر پله

به موته رسوې، په لار کې پاتکونه دي، خو که ته راسره یې نو ستا زور

خو په سالنگ کې ما ازمیلي دی چې څنگه په امنیتی مقاماتو جادو

کوې.» شبه خی په خبرو کې راگډ شو، «ما ته دا ټول معلومات شته، زه

په خپله یو وخت د روس ښرې وم.» ما په زړه کې ویل څو ک څه پوهیږي

چې اوس به هم يې، خو څه مې و نه ويل. شاترينې ما ته د ملامت ګوته ونيوله، «بس نو ته دومره په ځان غره يې چې زه به ستا د پاره خدايي خدمتګاري کوم او که د سالنګ د واورو نه د بچ کولو اجوره غواړې؟».

ما ته هم غوسه راغله او هم په دې وشرميدم چې شتا ترينه به په رښتيا همداسې فکر کوي. بې واره د ځايه پاڅيدم. د سرو مصنوعي غاښونه مې وايستل، شبه خې ته مې ګوزار کړل. بريتونه مې په داسې زور وشکول چې نژدې مې شونډه ورسره شليدلې وه. د سترګونه مې هغه شنه ګاټې په داسې شواخون وايستل چې اوښکې مې په مخ ماتې شوې. د لينو نتوب څپه رابانديې راتله خو ناڅاپه د خپل تحصيل د وخت د سايکولوژي د استاد دا خبره راياد شوه چې ويل يې، په هغه ساعت چې ډير په غوسه يئ او د کومې ورانکارۍ او انفلاق ويره وي، نو شونډې سره وګنډئ او د ځانه سره په ورو ورو د يو نه ترلس پورې حساب وکړئ، بيا بيرته د لس نه يو ته راشئ، و به ګورئ چې غوسه په مدار کښيني. نو ما هم د شونډو لاندې خپله وظيفه شروع کړه او بيا بيا مې ګردانوله، ترڅو په رښتيا مې هم روح په کرار شو. شبه خې او شاترينه دواړه په يو قسم غير طبيعي انداز راته ځيروو او خاموشي د حدنه اوږده شوه. ما وويل، «ډاکتر زړور بيشکه چې زما ملګرى دى او خداى شته چې زه د ده د مرګ په غلط خبر تردې حده سرسامه شوى وم چې شفاخانې ته يې بوتلم. خو چې شاترينه نه ځي، زه هم نه ځم. د سرخکان د پله پورې به درسره لاړ شم، تاسو به خپل اطميناني قوماندان دوست ته وروسپارم

چې په خير خيريت موان ترپيښوره ورسوي، خو زه بيا بيرته کابل ته راځم. که شاترينه نه وځی نو ما هم پاتې بويه.» شبه خی وارخطا شو، «ترسرخکانه به څنګه ورسيږو؟» بيا يې ماته په قهر وويل، «تاخو لوز کړی و، د لارې نقشه خو تا جوړه کړې وه، زه خويوازې د تاتيانا د موافقې او تصميم مسئوول وم، اوس به هغې ته څه ځواب وايم؟» زه غلی پاتې وم او نور د خبرو حاجت هم نه و. د پلان د ځنځير اصلی کړی همدا د کابل نه د سرخکان تر پله پورې رسيدل وو. شبه خی هم زما په شان حيران ناست و. شاترينې ته مې کتل، په هر کاته مې د دې د ښايست ځلا زياته ليده. په اننګويې نه پوهيږم د شرمه و که د قهره، د هغې مشهورې لنډۍ په وينا، د سرخی خاصه غوړيدلې وه. ورو ورو راغله او زما په سر يې لاس کيښود، «ظالمه، ته دا څلور کاله چيرته وې؟» او بيا شبه خي ته موسکه شوه، «بس ډاکټر زما وکيل بالتوکيل دی. چې دی په ما دومره اتبار لري چې پش شا زما له خوا ذمه وهي نو توکل په خدای.» شبه خی چې هيڅکله مې دده ټنده بې ګونځو نه وه ليدلې هم موسک شو. شاترينې خپله چوکۍ ما ته دومره رانژدې کړه چې بيا يې د سنځلو د عطر وږمه راخوريده. ترنيمې شپې مو د تيښتې پلان جوړ او څو ځلې ګردان کړ. شبه خي به په هر قدم او هر کړ ليچ کې نوی خنډ او نوې غوټه را اچوله، چې که داسې شي يا داسې شي، بيا به څه کوو؟. بيا به موږ په ګډه وربانډې تر هغې بحث کاوه چې د خنډ د هوارولو لار به مو پيدا کړه. مګر په دې پوهيدو چې ډير داسې واړه کړليچی هم شته چې موږ يې

اتکل نه وي کړی. خو شبه خي ویل، «غوته هله پرانیستل کیږي، چې پرې واوړې، توکل په لوی خدای.» ما او شاترینې دواړو، زه فکر کوم چې یوې خبرې ته وخندل او هغه دا چې ملعون شبه خیه! ته خدازده د څو دولتونو جاسوس یې، ستا یې د خدایی توکل سره څه کار؟ البته دده ته مو هیڅ ونه ویل او دده هم سر پرې خلاص نه شو او یا به دومره هوښیار وچې موږ او زموږ انګیرنې به ورته د ماشومانو لوبې ښکاریدې. زما خندا ختمه شوه خو شاترینې لا خندل او ما ته یې ګوته نیولې وه. زه حیران وم چې څه خبره ده، خو چې پام مې شو د مصنوعي ګاتې د لرې کولو نه پس مې لاهم اوښکې په مخ روانې وې او چې خندا مې ورسره کوله نو عجب شی رانه جوړ شوی و.

د تیښتې نه پخوا ورځ مې د شاترینې سره د کابل آخری دیدن وکړ. واورو لا څپولې څپولې وریده او د ښار جم و جوش نه و، نه یې ګڼه ګونه وه. شاترینې، لکه زما په زړه چې خبره وي وویل، «مرګ او واورو دواړه پرده پوښ دي، خو زما خوښیږي. د سالنګ شپې رایادوي،» او بیا یې خبره تیره کړه، «هغه شین تاغی چیرته دی؟». ما ویل، «په پیښور کې دی او ډیر دریسې خپه دی.» دې ویل، «زه هم ورپسې خپه یم.» بیا نو دواړه همداسې خاموشه دده افغانان په بازارونو ګرځیدو، د سپین زر هوټل نه په شهرنو ورشیوه شوو. ددې د پلار او وروړ پوښتنه مې وکړه. معلومه شوه چې ورور یې د روسیې په لار جرمني ته تللی او پلار یې مړ شوی دی. ما نه غوښتل چې چکر ختم شي خو داد شهرنو په تم ځای کې

بس ته ودریده. زه په زړه کې خوشاله وم چې د کور د تگ ست به وکړي. خو چې بس راغی دې په لاس خدای پامانی راسره وکړه او ورویې راته وویل، «سبا به سره گورو.»

## لسم څپرکی

خلک د قوماندان عبدالحق د کارنامو کیسې ډېرې کوي او دده نه یو افسانوي قهرمان جوړ شوی دی. ربښتیا هم دی د روسانو د لکې لاندې لوی اغزی دی، مگر زما خپله دیوه ورک نومي مجاهد، تورن عبدالرحمن سره ډېره جوړه ده. دیرې کلن عبدالرحمن نه په جوسه پهلوان دی او نه د خبرو پړانگ. نه د قاري بابا په شان پلن دی او نه د حقاني په شان ببر. یو عادي تورن دی چې د عسکرۍ په طریقه جنگ کوي. ده په مصر کې د چریکي جنگونو درس لوستی دی. لاپې نه وهي د خپلې ماتې او تیښتې کیسې په لاډېر خوند کوي. ډېره یې تر هغې صفا خرییله چې دده د مجاهدینو ډلې په زارۍ وربانديې پریښودو. خو اوس ورته په کور کې میرمن په غوسه وي او یو روایت دادی چې کله کله یې ډبوی هم.
تورن عبدالرحمن هم د عبدالحق او حاجي دین محمد په شان د جبار خیلو د خانانو د توکم دی خو چې ورته وگورې نو یو فقیر، خوارنجو کی انسان دی چې زړه به دې پرې وسوځي. تاري لونگۍ تړي او څپلۍ په پښو کوي. دی وایي چې افغانستان، په تیره د ننگرهار سیمه غرنۍ ده او دلته یوازې غرنۍ وسلې ښه کار کوي او دده خپل شق هاوان دی.

دلته ده چې دده شاهکاري معلومېږي. دی وايي هاوان يوازينی ميږنی دی چې د غره له هغه بل لوري نښه ولي. دده سره تل يو وړو کی شلخی د حساب ماشين وي او د ننګرهار مجاهدينو به دده پوري ويل چې د هاوان د يوه ډز د پاره يو ساعت قصيده پخوي. زاويه برابروي، د هاوان ځای بدلوي، آو ترازو ورسره وي او د هغې اړخ ته تيرېږدي چې د توغولو په وخت کې شورونه خوري. دا کار په داسې تکرار کوي چې د مجاهدينو زړه خوږين شي. ترڅو دی خپل غرنی تياروي، هدف بل ځای ته رسيدلی وی او دده خواري او بوورې وي. خو د ننګرهار مجاهدين وايی کله چې د تورن د هاوان ډزواوري نو ټول وايي « يو بل هم په کې کم شو. » پوهيږي چې د نښې خطا کيدن نشته. قضا داسې راوسته چې زه او دی سخت ملګري شوو. يوازينی افغان چې په ما خبرو چې ډاکتر يم او تل يې مشورې رانه اخيستې همدا تورن و. او يوازينی افغان چې ما ورسره د روسی د تيښتې خبره برسيره کړه، همدی و. ده په عادتي خوارنجو کې غږ وويل، « په کابل مې زور نه رسيږي، خو ته يې د سرخکان تر پله پورې راورسوه، نور به خدای هر څه اسانه کړی. »

د تيښتې په شنه سهار په ټاکلي وخت چمن حضوری ته ورسيدم. يوه لويشت واورده ولاړه وه. يو مردار خور، کوږ کړوپ واګون د صدر بازار يوه تړلي دکان ته نژدې دريدلې و. شبه خی د ډرايور په سيټ کې ناست و، په وارخطايی يې کله ساعت ته او کله چارچاپير کتل. زه چې وروختلم د شاتني سيټ اشاره يې راته وکړه. درې قطاره سيټونه وو، ټول

شلیدلي، ګوړ ګوړ او دلته هلته د پلاستیک نه د پروړې په شان وانښه راوتلي وو. زه یې آخری ته لاړم. هلته په ګوټ کې یو هسې تش کالبوت په کمپلې کې تاو په سیټ باندې اوږد غځیدلی و. سترګې کوراغې راوتلې او شونډو یې تور پټري نیولي وو، داسې چې پاسنی په کوزنی تقریباً سرینښ ود. تیار د یهودانو هغو سکلیټونو ته ورته و چې د نازي آلمان د مرګ له کمپونونه راوتلي وي. ما ویل دا به هماغه فرانسوی الان ګیو وي چې لوړه او شکنجه پرې تیره شوې ده، خو نری او کمزوري موسکا یې آشنا لګیده. ما د زړور په پیژندو نژدې چیغې کړې وې چې شبه خي راباندې د ډرایور د سیټ نه غږ وکړ، «غږ به نه باسئ» زما سره سودا شوه چې دا مړ ژواندی شی به څرنګه د ځان پسې راکاږو ؟ شبه خي د ځانه تیار بریتور ظاهر هویدا جوړ کړی او د دوو سره تیر راتیرو سرو بیرغونو نښان یې په روسي پکول وهلی و. په همدې وخت کې یوه کوچانی پیغله د پښو په ژغهار موټر ته راوختله. ټیک او پیزوان یې ځلیدل. اوږد سور الوان کمیس یې د ګنډ د پاولو شرنګهار کاوه او د تور ټکري لاندې یې پیکی په ټنډه راخوور و، د لونګو بوی یې ټول موټر په سر ونیو. سخته ښایسته وه. توري برندې سترګې، چپه اوښتي تیره پانه. مافکر کاوه چې خواره کی غولیدلې او په واګون یې د کرایی سرویس ګمان کړی دی. خو د شبه خي د التفات نه پوه شوم چې زموږ د ډلې ده، خو څوک ده ؟ که تاتیانا وای نو روسي سینګار خو داسې نه وي. باید شونډې روې سرې رنګ کړې، په مخ د اندازې نه زیاته سرخی

وهلې، د قره قلي پوستکي خولۍ او بالاپوښ او د سره ستوري نښان به يې په خولۍ وهلی وای. خو هغې په هماغې کوچانۍ، رسا پښتو راباندې غبرګ کړ، «لالا، ته دې مینځوي سیټ ته شه چې زه مې د خپل مریض سره کښینم.» د تاتیانا سره یو ددوه تاره ړیرې سره یوهزاره ګی هم و چې په مینځوي سیټ کې زما سره کښیناست. پوه شوم چې دا هماغه فرانسوی الن ګیو دی چې په کابل کې یې د عکاسۍ په وخت کې نیولی و او تاتیانا ورنه اقرار اخیستی و او په تلویزیون کې هم خلکو لیدلی و. شبه خي په ډیرې وراخطایۍ ساعت ته کتل. زرور نري زګیروي کول او کوچانۍ هم رنګ الوتې ښکاریدله. شبه خي د وروستی ځل د پاره ساعت ته وکتل او موټر یې چالان کړ. په همدې وخت کې وو چې شاترینه د یوه بکس سره د جادهٔ میوند له خولې راښکاره شوه. زه ورکوزیدم چې د هغې بکس ورسره واخلم، خو شبه خي مې په لاس لاره بنده کړه.

ساده نیولې راوخته او په اول سیټ کې د ډرایور څنګ ته کښیناسته.

موټر د جلال آباد په لورې روان شو. یو قسم د بیم نه ډکه د خاموشۍ فضا په ټولو خورده وه او غیر د زرور د نري زګیروي نه، حتی د تنفس ښکالو هم نه راتله. اوله تا نه په ماهیپر کې وه. د خاد سړی راوخوت، یوه پښه یې په رکاب کېښوده او هرده خوایې وکتل. د شبه خي په ستوري یې شک راغی، خو بیایې چې دده نورو بې سلوکه جامو ته پام شو چې په یوه پښه کې بوټ او بلې کې څپلۍ، او ږد لیلامي کوټ اغوستی او هغه یې په وندنی په ملا پورې ټینګ کړی، موسک شو او که موټروان ورته

چنداني دلچسپ ښکاره نه شو، سترګې يې په شاترينې ولګيدې. د قديمي پيژندګلو ځلايې په سترګو راغله، «کجا به خير رفيق ترينا!» خاديست شبه خپې ته اشاره وکړه، «اى کيس.» ترينا وويل، «مه نميدانم چطو ده بلاى اى موتر غرازه مانديم. بخيالم ادې زنک که ده پشت کت شوهر بويګينش شيشته، ايره اندريس کرايه کده و آلې از ما مردم کرايه جم ميکنه. دريورم ديوانه س و چنان مې دوانه که عاقبت ماره خدا بخير کنه.» بيا دواړو وخندل. خاديست موټر ته راوخوت زما د هويت پاڼه يې واخيسته د خولې نه يې دووه کابوى راته. عکس يې زما سره مقايسه کړ او په پټه خوله يې بيرته راکړه. د هزاره ګي د هويت پاڼه يې هم وکتله، ډېره شيبه يې کله عکس ته او کله ده ته کتل او بيا يې وخندل «بخيالم آو کابل ګنده شده که جلال آباد ميرى؟».

زه ويريدم چې اوس به الن ګيو څه وايي، ځکه د هغه خوټکې پاړسى او پښتو نه وه زده خو يا به يې هسې په هزاره ګي مسخرې کولې او يا به د شاتنيو سيټ نه د پاولو شرنګهار او کوچانۍ پيغله نظر هزاره ګۍ ته ورته ډيره دلچسپه ښکاره شوې وي، د هويت پاڼه يې بيرته ورکړه او ګويا دده پوښتنه ځواب غوښتونکې نه وه. چې تاو کړې کمپلې ته يې پام شونو د هغې پيڅه يې بيرته کړه، «او هو، اى پانقروفه کجا ميبرين، اى خو بندى وارى مالوم ميشه.» تاتيانا ځان ناګاره واچاوه، مانازه خو په پاړسونه پوهيږم او په زګيروي زګيروي يې وويل، «هو، ورورره، خداى دې په ځوانۍ برکت که، مريض مې راوستى و، په چارصد بستر کې يې د

خدای وسې ورباندې وکړې خو د خدای رضا به وه، اوس يې ميالی صايب ته بيايم چې که پيران راوننګوم او خدا دی يې راته جوړ کړي ». خادیست د مریض نه کمپله یو څه لرې کړه. د لاسونو او ډډو پټري وهلي زخمونه يې چې وليدل نو په کړکيچو ښتو يې وويل، « ادې، دا زخم کې د جنګ او چاقو دي دا څوک کيلي يې؟ » کوچانۍ ورته وويل، « وروره دا هيچا نه دي کړي دده خپل قسمت به کوته و، بس ځان وهي او په ځان چک لګوي، اوس يې ميالی صايب ته بيايم چې که خدای يې ليونتوب ښه کړي نو نذر مې اينبی چې يو ښه پسه به خيرات کړم. » بيا يې د جيب نه يو موتی وچ توتان راوايستل، « واخله، دا و خوره چې خوله دې لږه خوږه شي، ته هم د مور الواد يې او هغه خواره کی به څومره درپسي خپه وي چې په دې يخ کې د خدای او اسلام خزمت کوې! » پرچمي په ناغيرۍ توتان په موتي کې واخيستل خو لا هم مريض ته ځير و. زموږ ترشاد موټرونو قطار ورو ورو اوږد يده. پرچمي کله مريض ته او کله کوچانۍ ته کتل. زما په خيال د کوچانۍ ښکلايې زږه وړی و او تياره مړۍ ورته ښکاريده. يا به په يوه واګون کې د د دومره پنج پدره او ارجلو سپرليو موجوده ګي ورته اشتباهي ښکاره شوې وي. زموږ شا ته د موټرونو هارنونه وو. خاديست د موټر نه د ښکته کيدو په وخت کې شاترينې ته وويل، « ترينا جان، مام کت تان جلال آبات ميرم، شما صبر کنين، که مه بکس خوده بګيرم. مه امرای ادې زنک يک دو ګپ دارم. » بيا نو ښکته شو او يوه شيبه پس، لکه چې بل سړی يې په ماهيپر کې د ځان په ځای

موظف کړی وي د یوه تور بکس سره بیرته راوخوت او ډرایور ته یې دروانولو امر وکړ.

اول خو زموږ په سیټ کې کښیناست او د ترینا سره یې چې په اول سیټ کې وه مرکه شروع کړه، «ترینا جان، اینالی فامیدم که مارکس تحلیل درست کده بود که انقلاب آسان خونگاه کدن او مشکل اس.»

ترینا وویل، «راس گفتی. انقلاب که آمد باز د ینا میزم خوده داره و بساکه راهی ره بگیره که گردانننده گان انقلاب نه اوره پیش بینی کده باشن و نه اوره کنترول کده بتانن. مگم رفیق رزم نیا، کار مل مغز مغز مارکسه بلد اس و از عمق به سطح اوره ده کنترول داره، امین فاشیست واری نیس که هی سره میبرید.» خادیست د موافقې سر و خوځاوه او د هغې د تسلی د پاره یې زیاته کړه، «روح شوهر مبارزتو، شاد باد، مام نچک امین و امینیان را زنده نماندیم.»

په سروبي کې بله پوسته وه او بل خادیست د منصبدارۍ په یونیفورم کې راووخوت. د رزم نیا په لیدو یو څه حیران شو خو ځان یې راټول کړ، عسکری سلام یې ورکړ. رزم نیا هم په لاس سلام ورکړ او ویې ویل، «همو ادې زنک که ده پشت همرای یک مریض شیشته، هردوی شان به نظر مه اشتباهی استن.»

منصبدار وویل، «کاغذایشانه چیک کدین؟» رزم نیا وویل، «هر چیز چیک شده، مگم مه فکر میکنم که ای زن زیبای جوان همرای ای آدم که یک پایش ده لب قبر اس، هیچ جور نمیایه. تو یک وار برو، ببین.»

منصبدار شاتني سيټ ته لاړ، د کمپلې پيڅه يې بېر ته کړه او د مريض په ليدو يې ټنده تروه کړه. بيا يې کوچانۍ او د هغې ځوانۍ او ښکلا ته وکتل، سر يې و ښوراوه او بېر ته دويم سيټ ته ستون شو.

د موټر نه د کوزيدو په حال کې يې وويل، «رفيق رزم نيا، يا ره بيشک که اتاک استی، برو نوش جانت.» او يو لاس يې د بري په علامه وچت کړ، «برادر رزم نيا، همه چيز در خدمت انقلاب!» بيا يې نو شاترينې ته لاس ورکړ، «پيروز باشيد.»

رزم نيا بيرته د کوچانۍ سيټ ته لاړ او د هغې په څنګ کې کښيناست او موټر د سروبي په درې ورخلاص شو. موړ ټول په ټپه خوله په ويره کې وو، خو چې شا ته مې کوچانۍ ته کتل هغې د رزم نيا سره خوږه مرکه روانه کړې وه. خاد يست د خپل تور بکس نه د ووډ کا بوتل ايستلی و او غوړپونه يې ورنه کول. هغې په خندا ورته وويل، «دا څشی دی چې دومره مردار بوی يې ځي؟» خاد يست، بوتل د هغې خوا ته نژدې کړ او ويې ويل، «دوا دي، د هفتادو دو مرض علاج دي.» کوچانۍ وويل، «زما خاوند ته به يو غوړپ ورنه کړې؟» خاد يست وويل، «هغې سې کوي، د بيمار په لحاف کې خپول ځان مه واچوه. تو وخوره که عيش وکې.» کوچانۍ وويل، «زهر نه وي چې ايسته مې د دنيا نه تيره کې.» خاد يست يو بل غوړپ ترې تير کړ، «کې زهر وی بيان که مامول وکي.» کوچانۍ لاس ورتير کړ، بوتل يې ترې واخيست، يو وړوکی غوړپ يې ترې تير کړ او په تريو تندي يې خپله مرۍ ونيوله، «دا خو بيدر که ترخه

دي! » خادیست کټ کټ وخندل او بل غوړپ یې وکړ. موټر د الکولو بوی په سر اخیستی و. شاترینې خپل سینګار کاوه، هینداره یې مخ ته نیولې وه او شونډې یې سرې کولې. په هینداره کې یې یو نظر خادیست هم څاره او کله به چې آئینه ما ته برابره شوه نو خپله خوږه موسکا یې رالوروله. یو وخت مې پام شو چې خادیست لاس د کوچانۍ نه تاو کړی دی او هغه شکایت کوي، « پام چې مریض رانه ژوبل نه کړې، لږ لرې شه! » په ځواب کې یې هغه بیا بوتل شونډو ته ورنژدې کړ. اوس نو سړی نشې خوروړی کړی و په زور یې وربانډې بل غوړپ وکړ. د کمپلې نه د زړور نری زګیروی راته او کوچانۍ یې په مخ لاس تیر اوه. خادیست لګیاو په لاسونو یې د دې تېر لټاوه. شبه خې شاته وکتل او د کوچانۍ بیبا کـه موسکا یې چې ولیده نوښکاري چې یو څه مطمئن شو، بس اکسلیټر ته یې لته ورکړه او دا بدله یې شروع کړه، «اې سر بازه یاره، خیژه په مور چل باندې + بیا به دې اوده کمه.... »، خو دا بله برخه به یې ورو د ځانه جوړه کړه، « ښه ښایسته کمپل لاندې. » د کوچانۍ له سیټه غیر د زړور د زګیروي نور غږ نه راته. د کمپلې یوه برخه په خادیست او کوچانۍ ویړه وه او هغوی سره ښوریدل. داسې پوه شوم چې خادیست نشه دی، د کوچانۍ سره یې لوبې شروع کړي او هغه هم ددې حالت نه راضي ده. واګون کله د سیند یوې خواته او کله بلې خواته تیـــریـده. شبه خې د شاترینې سره مرکه کوله خو زه یې هم په غوږ وهلم، « په دې سیند کې ماډیر د مزې ماهی ګیري کړې ده. دلته په ګردابونو کې ډیر

لوی کړان پیدا کیږي. یو وختې مې یو ماهی په کنجک کې راگیر کړ خو د خدای وسې مې وکړې، پاس مې راخیژولی نه شو. ماهی دې هغه وخت نیولی دی چې سپینه خیټه د اوبو سر ته راووځی تر څو د اوبو لاندې وي، ماهی ستانه دی. دا ماهی ډیر کفار و او هیڅ نه راخوت. زه د یوه شوروي انجنیر ډرایور وم. هغه هم لرې کنجک اچولی و. چې زه یې ولیدم چې د ماهي سره پهلواني کوم نو راغی او لاس یې زما په اوږه کیښود او ویې ویل، زور مه وهه، تار ورکړه. نو ماهم یو څه مزی سست کړ، خو ماهی دومره زورور و چې د مزی په تیریدو مې نژدې گوتو او راخیستی و، څرخ همداسې خلاصیده او ما د ماهي سره لر او برمنډې وهلې. شوروي راباندې غږ کړ، اوس یې په مدار مدار درکاږه. نو ما مزی تر هغې راښکه چې شخ شو. شوروي وویل چې که نور نه راځی نو بیا تار ورکړه. چې دی یې کاږی ته تار ورکړه او چې دی ودریږی نو ته یې راکاږه، خو هیڅ وخت مزی درنه سست نه شي. لنډه دا چي ماهی مې راوایست، یره ددروغژن خبره پنځه منه به خوت، خو زما لاسونه یې هم زده زخمي کړل.»

ما فکر کاوه چې خادیست به نشه ویده وی خو تیروتی وم، ځکه د شبه خي د کیسې په آخر کې هغه غږ کړ، «زه هم همداسې یو ماهی گیر کلی یوم، خو شوروی نیشته که چل ووایی چې سینگه وباسم.» زما زړه ډیر تخنیده چې ورته ووایم چې د ظالم بچیه شوروی دې غیږ کې پرته ده. شبه خي بې ربطه ځواب ورکړ، «د سرخکان پول نژدې دی، همدا دوه پیچومې پاتې دي بیانو له خیره هوارې ته کیږو. په سرخکان کې به د

غرمې دوډۍ وخورو. » خادیست غږ کړ، « دودي ماته پریده. زې د تاسو تول پیسې به ورکوم. » د کوچانۍ ځوابي غږ راغی، « خیر ویسې سړیه، د تادوا خو په ماتک پتري ولګیده. ته خو دې په دې تورې بنۍ کې لږه نوره دوا راته وګوره! » خادیست د لافو په لهجه وویل، « دوا دیر دي. نور هوتل ته لال شی، زې او تا په واګون هم دوا وخورو، هم دودي. »

چې د سروبی له تنګو کږلیچو وو تلونو بیا ژمی نه و، د پسرلی پسته هواوه، د سړک دواړو غاړو ته د غزانو ونې مځکې ته راشلمې شوې وې او لرو بر، هواره مځکه او اوپړه خاوره وه. د کابل سیند غاړې تر غاړې او بې غوږمبهاره، آرام بهیده او نري لښتې ترې دلته هلته باغچو ته بیل شوي وو، پتې شنه وو. د سړک څنګ ته خال خال کوډلې وې، د ځینو مخې ته آخیږ شوې سفه وه، یو چیلم او یو، کنډول په سر، د اوبو ګړی یې هم ګوټ کې ایښی و. داسې ښکاریدل چې د دهقانانو دیره وه. زه چې تل په همدې وخت کې د کابل نه په دې لارې جلال آباد ته راغلی یم چې دې ځای ته رسیږم نو د زړه نه د کابل ساړه او کنګل وځی. په اول ځل چې زما کنګل مات نه شو، څلور کاله پخوا هغه ژمی و چې د شین تاغي سرد د کابل او ورسره د شاترینې نه تښتیدم. دویم ځل یې همدا اوس و که څه هم چې شاترینه راسره وه او د تیښتې چانس هم و، مګر په زړه مې د ویرې کنګل ولاړ و. پخوا خو یوازې زه وم، اوس د نورو خو لاڅه کوې د شاترینې د ژوند مسئوول هم زه وم. د واګون هرې سپرلۍ د تاکلی پلان سره سم خپل مسئوولیتونه پوره کړل، یوازې زه او فرانسوی الن ګیو تر

اوسه د خير په غونډۍ ناست وو. هغه خوبې هغې د خدای کالی و او دا ډمامه د همده د پاره جوړه شوې وه، مګر زه خو لوبغاړی وم، او اوس چې زما د کارنامې وخت رالنډيده زما غړي تنبتيدل او په ټوپونو وارخطايۍ ته ورلنډيدم. په سلهاوو بې ځوابه اندينبنې: که خاديست د نشې په بهانه هر څه کشف کړي وي؟ که شبه خي موږ ټولو ته يو زبردست پلان جوړ کړی وي چې په يو وار موک ج.ب ته وروسپاري. د شبه خي د کب د کيسې يوه معنی دا هم کيدای شي چې موږ ته يې د شوروی د ک.ج.ب په سلا ان تر سرخکانه تار راکړ او دلته مو د سيند نه راباسي. د ژان ژوزې يوه خبره دا هم وه چې په خپله په ک.ج.ب کې دوه درې ډلې دي چې هره يوه بلې ته لومې ږدي، تاتيانا خرخر د ينوا د يوې داسې ډلې وه چې د ځير ژنسکی د مکتب په اصولو روان وو، لوړ منصبونه همدوی لرل، ددوی اولاد په خاصو مکتبونو کې روزل کيدل او رخصتۍ يې په اروپا کې تيرولې، خاصې مغازې يې لرلې چې په هغې کې د هاليند او فرانسې نه بهترين خروستال يا بلوري لوښي او کوچ چوکۍ او ان د افريقې نه د آبنوس د لرګي د خوراک ميزونه ورته راتلل. د پير کاردان د کمپنۍ د کال د مود جامې، دا چې او د اوړي بنګلې يې لرلې. دا د تاتيانا ډله وه. بله د ځوانو تعليميافته تکنوکراتانو ډله وه چې د خپل پرمختګ لاره يې بنده ليده او لوی منصب او امتياز يې په کوم خارجي سفارت کې د ټيټې رتبې کومه سکرتري وه. دوی ته په ک.ج.ب کې علی البدل مخبران ويل کيدل، مګر په خپله د ک.ج.ب په داخل کې او د

فرانسوی ژان ژوزې په وينا په سياسي بيرو کې دې ډلې هم خپل خلک
لرل، چې د هغې سيالې ډلې يې پښې وهلې. په دوی کې يوه مشره پخپله
د بريژنيف لور وه. دا گويا د منورو ناراضيانو ډله وه چې د شولژينتسين،
پاسترناک او يو کوفسکي آثاريې لوستي وو او په دې عقيده وو چې د
ک.ج.ب د وروستي مشر، لاورنتي بيريا، د اعدام سره نور نو د زړو
ميرزايانو دوره ختمه ده. شک يې مه گڼه چې شبه خي د همدغو سړي
وي. په دې کې دومره جاسوسي او جاسوس گيري، هم په ميخ او هم په نال
وهل اغېزل شوي وو چې پخپل پلاريې هم هيله نه کوله، نو په موږ به څه
صرفه وکړي. په ځان خو ويريدم چې، ويريدم او په دې کې زه ښه تکړه يم،
خو اوس ورسره د شاترينې د ژوند ويره هم وه. سم دم ژوند يې و او ما په
دې بلا اخته کړ.

موټر په سرخکان کې په داسې ځای کې تم شو چې کيڼ لاس ته موږ ول
و او ښي لاس ته څنگ په څنگ يو څو دکانونه. اول خاديست کوز شو.
نه نشه و نه څه، رک روغ په سد خپله ستوماني يې وايسته، د گوتو نه يې
تقونه وايستل، لکه خيشت سپي چې ځان څنډي، سريې و ښوراوه چې د
نشې پاتې شونې له سر نه وشيندي. بې له دې چې شاته وگوري، ويې
ويل، «تاسو شور نه خورين،» او مخ په رستوران ور روان شو. موږ په
موټر کې پاتې شوو. عجيبه دا چې د حکومتي قواوو يو اوږد قطار هم لږ
لرې ولاړو. شبه خي کوز شو او لرو برېې توس وواهه، چې بيرته راغي نو
رنگ يې زيړ تښتيدلی و. په نيولی غږ يې وويل، «قطار جلال آباد ته

روان دی. یو سریې دلته او بل سرېې نږدې درونتې ته رسیدلی دی. »
تولو سترګې په ماخښتې کړې وې. ما خپل پلان بیان کړ، « شبه خیه، چې ډوډۍ راغله نو ته به په کوم چل موټر د ښار نه کوم ګوښه ځای ته وباسې. زما نفر به د سرخکان د پله نه ها غاړه موږ سره یو ځای کیږي. »
کوچانۍ تاتیانا، بد بد راته وکتل، « تا د سرخکان پول ښودلی و، اوس مو د پله نه هم تیروې؟ » ما ویل، « هیڅ پلان واتړ پروف نه وي، موږ څه پوهیدو چې ستاسو پوځي قطار به د سرخکانو نه ان تر درونتې پورې رسیدلی وي... زما تورن خبرداری راکړی و او ما هم تا ته وویل چې د پله نه دې خوا د شوروی پاچایي ده. بله دا چې ستا د عاشق خادیست نه ویریږم چې دستوري راغلی نه وي. » بیا مې نود دې د پارده چې د ملګرو ترور تیا په کرار شي. په کراره وویل، « زړور خانه، څنګه یې؟ »، هغه سر د کمپلې نه وایسته. د پخوانۍ خوش طبعۍ موسکا به یې په شونډو تیره شوې وای خو ارمان چې شونډې نه وې، خو سترګې یې په رضایت چونګې کړې ما وویل، « رای مه وهه، ډیرې لاړې، لږ ولاړې » خو زه پخپله په خپلې خبرې باوري نه وم. شبه خي ته مې کړل، « موږ باید تر دغونی ماښام دلته رسیدلي وای، تالکه چې بیړه وکړه. » او مخکې له دې چې د هغه عذر یا بهانې شروع شي زیاته مې کړه، « تاتیانا، ډوډۍ به په مزې خورې، که کوم بل بوتل هم ورسره تبی کړې، غوړې لاغوړ. شاترینې، ته دومره وکړه چې موږ له دې سینده تیر کړې. » شاترینې په حیرانتیا وویل، « څنګه؟ » ما وویل، « بس د رزم نیا سره څه بابو لاله

شروع کړه او همداسې په چکر چکر یې د پله نه تیر کړه، موږ به درپسې یو.»

خادیست راورسید او ترشایې دوو نفرو پتنوسونه او شکرونه راوړل. شبه خي د خوشالۍ نه لاسونه ومروړل او د بوی د خوند نه یې پوزه رانښکله. بیا یې په خوشالۍ وویل، «آمر صایب، تا چه داسې ډوډۍ راوړه نو زه به تاسو ټول هغه ځای ته بوزم چې ما خپل پنځه منۍ کب پکې نیولی و، چې ډوډۍ خوند درکړي.» او موټر یې چالان کړ. خادیست د دوو پیش خدمتانو سره راوخوت. شبه خي په رښتیا هم د سیند داسې یوې غاړې ته نژدې واګون ودراوه چې اوبه تر غاړې راتیریدې او په شنو ونو کې بهیدې. هاخوا ګارې او لوېې پربښې وې، یوه یې داسې وه چې سر یې تیاره سُفه وه. غیر له زړورنه ټول کوز شوو، چا په مخ او به اچولې، چاستومانې ایسته، د هوټلی شاګردانو پتنوسونه کیښودل، په ځټ روان شول. خادیست پلتۍ ووهله او تاتیانا ته یې خپل څنګ کې د کښیناستو ست وکړ، خو هغه داسې کښیناسته چې دواړه پښې یې یوې خواته وې. خادیست په حیرانتیا ورته وکتل، «چارزانو زده نه دي؟» زما زړه درزکړ. ک.ج.ب، لکه چې ټول افغانیات ورښودلي وو خو پلتۍ وهل یې نه وو ور زده کړي. عجیبه ده چې څنګه یو بې اهمیته عمل، یوه وړوکې سهوه، د مرګ او ژوند د بیلتون کرښه شي. مګر تاتیانا بې غمه معلومیده، ویې ویل، «تاسو یې دلته وخورئ، زه به یوه مړۍ د ځانه سره واخلم، د خپل مریض سره به شخوند پرې ووهم. دا

دوه ورځې کيږي چې هغه خواره کې په ډوډۍ څکه نه ده کړې. »

خاديست په تيمي قابګي کې څه وريژې او د چرګ قورمه واچوله او تاتيانا ته يې ونيوله، «بوزه مريض ته ورکه، بيا پس به راشه. وعده کوه. » کوچانۍ، پاخيده، پتنوس يې واخيست او په زړه وړونکې موسکا يې کوز ده ته وکتل، «په دې شرط بيرته راځم چه يوه پياله دوا راکړې! » خاديست وويل، «پياله نه، بوتل راکوم. » زما زړه په کرار شو چې له دې دړه کې خو په خير خلاص شوو. مګر خاديست شاترينې ته چې هغې هم دده په شان پلتۍ وهلې وه وويل، «اى ادې زن خو اشتباهى مالوم ميشه، زن کوچى که چارزانو شيشتنه ياد نداشته باشه امّا کدام فسات دده کونش اس. » شاترينې وويل، «اصلش، ما و شماره نبايد واهمه بګيرد، نبايد که زير هر سنګ فکر کنيم که ګژدم اس. زن کوچى، زن کوچيس، ما و تو چه ميدانيم که کوچى چه قسم ميشينه، پاى دراز يا به پالو، يا سر به تالاق. راى نزن رفيق، انقلاب بخير همه اين چين هاره هوار ميکنه، وخت کار داره که تمام مردم پنج پدرۀ او غانستان کلش مثل انسان شوروى يک دست شوه. » په همدې وخت کې کوچانۍ تاتانيا بيرته راغله او بيرته د پخوا په شان، دوه پښې يوې خواته کښيناسته. پونډۍ يې تر زنګنو لوڅې کړې، «داشنه رګونه وينۍ چې پړسيدلي دي، ميرات بريښونه مې ناستې ته نه پريږدي. » ګويا هم يې د پخوانۍ ناستې عذر کاوه او هم يې خاديست په خپلو سپينو پونډيو ورسور کاوه. هغه د بکس نه بل بوتل راوښکه، سرې خلاص کړ، ښه مست غوړپ يې

تري وکړ او دې ته يې وړاندې کړ. کوچانۍ هم نرۍ غوړپ وکړ او بيا يې ساړا ښکله، «دا خو دوا نه ده سور اور دی، ژبه يې راوسوه.» شبه خې څو شيبې ورک وخو په وار خطايۍ بيرته راغی، «تا ير بچ شوی دی او شتپني هم نه لرم.» خاديست له تيرۍ نه کوز توپ کړ او شبه خي ته يې يوه ښه څاپيړه ورکړه، «پدرنالت خوک، چرا شتپني ناوردی؟،» بيا نو يو څه په فکر کې شو، «اگه ده يک سات پنچری ره نه گرفته بودی، همرايت خات ديدم.» د مازيگر او ماښام ترمينځ وخت و. خاديست په چرت کې لر او بر گرځيده. داسې سر بداله وچې که کوچانۍ هر څومره شرنگ وپرنگ جوړاوه او ځنې يې لر او برار تولې، دده ورته پام نه کيده. د حکومتی قطار موټرو هم چالانيدل شروع کړي وو او د لوگيو لوخړې د سرک په غاړه ترليرو ځايو پورې ښکاريدې. شاترينه خاديست ته ورنژدې شوه او د هغه سره يې قدم وهل شروع کړل. څه ويل يې سره پيل کړي وو. موږ نه شو اوريدلی خو ټول يې نتيجې ته منتظر وو. ورو ورو د چکر د تگ او راتگ فاصله زياتيده. خدازده چې شاترينې په څه ورته ويلي وي چې خاديست ودريد او کوچانۍ ته يې غږ کړ. بيا نو دی په مينځ کې او پيغلې يې دواړو خواوو ته د پله په لور روان شول.

هغوی له پله تير شوي وو او په لاروان وو چې زه او هزاره گی الن گيو پله ته ورسيدو. هلته مو ځانونه د سيند د اوبو سره يو څه نور هم بوخت کړل چې تره غونی ماښام شو او د خاديست او ملگرو درک يې معلوم نه شو نو موږ هم وروڅښيدو د پله سر ته وسله وال محافظ ولاړ و. دريږ يې

کړو. د شناخت پاڼې مو ورکړې. عکسونه یې زموږ سره مقایسه کړل او بیا یې پرېښودلو. د پله په بل سرکې محافظ بیا زموږ کاغذونه وکتل. د تیریدو سره سم موهغې باغچې ته لار کړه کړه چېرېد سیند د غاړې نه شروع کیده او تقریباً دوه جریبه دیوالونو ایساره کړې وه. د باغچې په لرې گوټ کې د لو خود یوې کوډلې نه دوه خړخادری راووتل. ماویل چې لارې محب گله، د اتول احتیاطونه دې د کابل سیند یوړل. یوه خړ خادري د ترخ نه خپله تمانچه راوښوده او بل ته یې ویل، پخپله همدا دی » د هغه بل په لاس کې یوه اوږده چاړه وه چې موږ یې پیشقبضه بولو او ځینې ورته سه ته وه وایي، هغه یې زما په ډوډي سیخه کړه او په اشاره یې کوډلې ته ننه ایستلو.

هلته د تمانچې والا وویل، « که ډاکټر محب الله یې نو زما د آمر نوم وښیه » ما ته غیر د توکل نه نور څه نه وو پاتې، ومې ویل « تورن عبدالرحمن » نو دواړو و موسل او روغبړیې راسره وکړ. د تمانچې والا وویل، « دا هزاره گی خو به فرانسوی نه وي؟ » ما ویل « پخپله دی. » بیا یې پوښتنه وکړه، « بس که خیر وی هغه روسی کاسیرد، هغه بله پرچمی او د هغوی اندیوال به اوس زموږ د خلکو سره وي. » ماوویل، « ډرایور او زموږ ناروغ ملگری په موټر کې پاتې دی. » هغوی وویل « خدای به هر څه اسان کړی. » د وچې ډوډۍ ست یې راته وکړ خو ما ویل موږ په ماړه نس خوړلې ده. موږ یې هماغلته پرېښودو او دوی ورک شول. د تیارې د خوریدو سره سیند هم راژوندی شوی و او یا به زما غوږ څک و، خو اوس

يې په غوړمبهار شروع کړې وه. يا به د قطار د حرکت غبرو چې خدا زده نن شپه به يې د جلال آباد د پاره څه بد زيري په نظر کې و. ډ ير وخت په توره کوډله کې ناست وو چې د پښو ښکالو راغله او ورسره هماغه دوه مجاهدين راننوتل. او بې مقدمې يې د ځان سره په تياره باغچه کې روان کړو. بيا نو د باغچې نه پټيو ته شوو، ښايسته ډ ير ساعت مو په نريو پولو، خوړونو او لښتيو کې لا روهله. مجاهدين، لکه پيريان کله ورک کله پيدا، خو موږ وريسې وو او چې به رانه ورک شول، پخپله به موږ ته ولاړوو. په تيارې کې چاد چامخ نه ليده، بس تور سيوري وو چې په تور چاپيريال کې به کله پټ کله ښکاره شول. د مهتر لام او ميندرو وړ په دوسرکه کې زموږ خلک راته ولاړوو. روسي ګاز موټر ته وختلو چې دواړو خوا ووته يې اوږدې د لرګيو دوه دړې ګويا چوکۍ وې. چې کتل مې کوچانۍ او شاترينه څنګ په څنګ ناستې وې، دې بل لورې ته ډاکټر زړور په کمپله کې تاو غځيدلی و. زه يې پښو ته کښيناستلم او الن ګيو د تاتيانا څنګ ته کښيناست. موټر د قرغه يې خواته روان شو. د موټر په غولي درې توپک والا کښيناستل چې دوه يې هماغه زموږ محافظان وو. پس له ميندرو وړه دقرغه يې پول بيا قرغه يی او بيا نو چارباغ راغی. هلته يې موټر ودراوه، څوک راکوز شو او زما نوم يې واخيست. زه ورکوز شوم، که ګورم تورن عبدالرحمن دی. چسپه برګرندي يې راسره وکړه. ما وويل، «دوه نور هم راسره وو، هغه څه شول؟» تورن په خپل هميشه ګي عاجز ګنګۍ غبر وويل، «ستا ملګرو

ويل چې يو خاديست و. د هغه وظيفه همدلته ختميږي، تاسو خپله لار کوئ. » ما وويل، « هغه بل ملګری، هغه ډرايور څه شو؟ » تورن وويل، « چې زما مجاهدين د ستاسو د مريض پسې ورغلل، ډرايور ته يې ډير انتظار وايست خو په آخر کې ستاسو مريض وويل، هغه پدر نالتی جاسوس دی او نور ډيل نه دی په کار، خدازده چې چيرته ورک شو؟ ». ما پوښتنه وکړه چې: په دغه خاديست څه کوئ؟ » هغه وويل، « زه نه پوهيږم، يو څه معلومات خو به ورسره وي، چې هغه تري واخلو بيا به يې توري بوري ته وليږو چې څه حکم پرې کوي. بهتره ده چې بيړه وکړو چې د ګمبيري ډاګ په مخ کې دی او بايد په ملا آذان د مزار دري سپين جومات ته ورسيږو چې له سينده مو پاکستان ته واړوم ». زه هم بې غږ او غوږه بيرته سپور شوم او موټر د ګمبيري په لوی ډاګ ورشيوه شو. رڼا او برقونه نه وو، يوه نيشتو کې مياشت وه چې کله به له وريځو راښکاره او کله پټه شوه او تورن ګويا په دليل موټر چلاوه خو داسې ګړندی چې ته به وايې رڼا ورځ ده. تاتيانا د شاترينې پورې نښتې وه او غږ يې نه خوت ما فکر کاوه چې دا اول ځل و چې شيان ددې په کنترول کې نه وو او يو ې داسې آيندې ورته کومې خلاص نيولې و چې دې يوازې په کتابونو کې د هغې جاج اخيستی و. په تياره کې د ډاکټر زرور څنګ ته د چوکۍ په څنډه کښيناستم او په کرار کرار مې ورسره د زړه خوا له شروع کړل. هغه هيڅ نه ويل، کله به يې نری زګيروی وکړ او کله به وسونګيده چې پوهيدم د هماغې پخوانۍ مستې خندا سيوری يې و. لاس مې دده په رنګيو

وینبستانو تیر کړ او یو گوروټ مې په گوتو کې وختل. سړی د یر زهیر وخوهیله خدای ته، اوس دوش او واې وخت نه و. د گمبیري د ډاگ په توره تیاره کې، هرې خوا ته د سور لنډیو او خدازده کومو نورو ځناورو سترگې رڼې ځلیدې او کله به یې د ساندو لړی روانه کړې وه چې له هرې خوا به نورو ورسره غبر گوله. دا اول ځل وچې نه پوهیدم چې د غم احساس وکړم، که د ښادۍ، که د ویرې او که د امید. د باني چق په شان به کله د یوه او کله د بل پله درنده شوه او ماهم دا جرئت نه کاوه چې دا ندینبني ملونې یوه ټکي ته واړوم. همداسې ښه و، د ټولو احساساتو معجون.

ما په عمر کې دوه داسې سیندو نه لیدلي چې په حقه ورته خونړي وایي. یو په بدخشان کې د کوکچې سیند چې پیغلې کله د میندو او پلرونو د ناخوالو د لاسه گواښ کوي، «خیدمه روی آو میکینم» او که بیا یې هم همداسې سړي ته ور کوله چې ددې دخوښې نه و، نو په ربنتیا به یې ایسته ځان په کوکچې کې لاهو کړ او بیا به یې ایله مړی هغه ځای پیدا شو چې کوکچه به د توري په شان د مې ژواندي آمو، یا دریای پنج په گیډه ورننوتله. داسې خونړی سیند چې ښځې چې منگی ترې ډکوي او ل لکه د آس په شان لاس په شاور تیروی. او ورته زاری کوي، «کوکچه نرد شیر است» ما نا د زمریانو په شان غیرتي یې، یو منگی او به درنه په سوال غواړم او مه مې وژنه. بل د کونړ سیند دی چې حیراني ده چې د هغې په غاړه ودریږې او ورته گورې نو سیند د ژی نه او چت بهیږي، لکه افسانوی ښامار ټول موړې موړې دی او حیرانی د ډ

چې ولې په غاړه نه ورخېژي. د مزار درې نه بره د سپين جومات د کلي نه
يوه لاره همدې سيند ته ورکوزه شوې ده. موټر هم ورځي. پورې غاړه د
سرکانو منطقه ده.

## يوولسم څپرکی

عبدالرحمن غوږونه څک کړل او ما هم لرې يو غرړهار واوريد. ما ته
يې ويل، «بېړه وکړئ، لکه چې څه ورانی پيښ شوی دی. بس کښتی ته
خيژئ.» په همدې وخت کې يو دوړه په سړک را روانه وه او د هغې نه يو
ډاټسن راپيدا شو، سيده په موږ راغی او د عبدالرحمن د وړاندې يې
فلمي بريک وواهه. يو مجاهد ترې ټوپ کړ او په ټولو يې غږ کړ، «قوه را
روانه ده، زموږ مرکزې دړې وړې کړ او دې خوا را روانه ده، لکه چې چا
خبر ورکړی.» عبدالرحمن ما ته کړل، «بس نو تاسو بېړه وکړئ، زه مخې
ته ورځم، د پورې غرد نه به يې ورسره وډزوم چې تاسو ته د تيرېدو موقع
درشي.» بيا يې د ډاټسن مجاهد ته وويل، «مرکزيې په توپونو ويشتی
دی که څنګه؟» هغه وويل، «هم په توپونو او هم يې بمباري کړې ده. موږ
شل تنه زخميان شفاخانې ته بوتلل خو ډاکټر ملاريا هم لګيدلی دی
خدازده چې څو مړه نور پراته دي.» عبدالرحمن وويل، «همدغه بيګانې
قطار حمله وکړه؟» هغه وويل، «نه د جلال آباد فرقې.» عبدالرحمن
خپلو مجاهدينو ته چې ټول شپږ تنه کېدل وويل، «درځئ ډاټسن کې
کښېنئ، زه چې دا ميلمانه په کښتۍ کې سپاره کړم درسره ځم.» په بېړه
مو اول ډاکټر زرور ور وخېژاوه، بيا تاتيانا، شاترينه او بيا فرانسوی.

عبدالرحمن د خدای پامانۍ لاس راکړ. ما ته سودا ولويده، «ستاسو شفاخانه چيرې ده؟» هغه وويل، «د تور غره په يوې سمڅې کې، د مرکز نه يو څه لرې.» ما وويل، «ستاسو ډاکټر چې نه وي نو د مريضانو کار به څوک کوی؟» عبدالرحمن پس له يو څه ډيله وويل، «هغه ډاکټر نه دی، د ملاريا ستنې يې وهلې، اوس په ډاکټر ملاريا مشهور شوی، خو ښه و، غنيمت و. خدای راپيښبه کړې ده، زه به يې کوم. ما ته خو دې يو څه راښودلی وو» ما ويل، «دارو درمل، پټۍ متۍ لرئ؟» ده وويل، «هر څه شته، د جراحۍ سامان هم شته او زه پکې تکړه يم. خدای پامان.» ما وويل، «ته يو څه تم شه چې زه خدای پاماني واخلم، زه هم درسره ځم.» عبدالرحمن په حيرانتيا راته وکتل. زه بيړۍ ته کوز شوم او حال مې تير کړ. دوی ته مې هدايت ورکړ چې څنګه او په کومه لار لاړ شي او چيرته به څوک ورته منتظر وي. د ځان سره مې فکر کاوه، ژان ژوزې به خدازده د څو هيوادونو د جاسوسانو سره په سرکانو کې تيار ورته ناست وي. شاترينې ته مې وويل، «دوی به دې تر محمد ګټ پورې ورسوي. هلته دې خپل شين تاغی تيار درته ولاړ دی، زرور درسره واخله او د باجوړ په سالارزو کې د ډانډوکی د ملک خير دين کره زما انتظار وباسئ.» چې له کښتۍ کوزيدم، شا ترينې هم راسره ټوپ کړ، «چې ته نه ځې، زه هم نه ځم.» ما ويل، «زه يو ځلې ځم د تورن مريضان ګورم، تاسو به لا حرکت نه وي کړی چې زه به در ورسيږم.» خو هغه راپورې نښتې وه «ايله مې ټينګ کړی يې، نور دې نه پريږدم. ته يې

جراحي کوه، زه به يې زخمونه گنډم، يا يې ته گنډه، زه به پرې پټۍ ږدم، يا يې ټول ته کوه، زه به دې سيل کوم، خو جان جان، ما يوازې مه پرېږده!» زه حيران وم. عبدالرحمن راته کتل او ډاټسن چالان و. نو مې شاترينه ځانته کړه او په غوږ کې مې ورته وويل، «ته پخپله گورې چې څه حال دی. اوس نو ستا خوښه چې که بيا يې مې نو درسره ځم او که پرېږدې مې نو د تورن سره ځم او که د خدای رضا وه، سبا شپه په شين ټاغي کې سره وينو» عبدالرحمن راغږ کړ، «ډاکټر صاحب نجلۍ يوازې مه پرېږده، د مجاهدينو خو که اول وي که آخر انجام مرگ دی. زه د جنگي مريضانو په ډاکټرۍ د تا نه ښه يوهېږم. ورځه په مخه مو ښه.» او موټر يې روان کړ. ما شاترينې ته کتل او هغه لکه چې د عبدالرحمن په بېوزلۍ پوه شوه يا به يې فکر کړی وي چې که زه د دې سره لاړ شم بيا به نو د عمر تر آخره ځان ته شرمنده يم. نو راغله او په بې شرمۍ يې د ټولو په مخ کې په شونډو ښکل کړم او بې له خدای پامانۍ بېرې ته وختله.» ما په منډه ځان د ډاټسن پسې ورساوه.

## د ولسم څپرکی

چې په سمڅې ننوتلو مجاهدينو يو مړی بهر ته راښکه. موږ لار ورکړه. موږ هم ستړي وو او د سهاره مو څه په ډاټسن کې او بيا پياده او په کرايي موټرو کې، ځان ايله مازيگر د تور غر سمڅې ته رسولی و. په سمڅې کې دوه قوي لالټينونه لگيدلي وو او هره خوا زخميان پراته وو. د وينو آشنا تروش بوی کوټه په سر نيولې، دلته زگيروی، هلته کريغې او

الله. یو قسم ته ګډوډي وه. زه په مریضانو و ګرځیدم، یوازې هغه مې شمیرل چې وینې ترې بهیدې. تورن ته مې وویل، «ملګرو ته دې ووایه چې او به وویشوي.» یوه مجاهد وویل، «مور نرسان لرو، او به، هر څه تیار دي. د ځینو وینه مو د تړلو په زور بنده کړې ده.» په رښتیا چې په دې سمڅې او دې حالت کې بده شفاخانه نه وه. اول مې هغو ویشتلو ته چې د دردونه ډیر بیتابه وو، مورفین پیچکاري کړل، چې یو څه غوغا کمه شي. تورن ته مې په نوبت د زخمونو د مینځلو وظیفه ورکړه. بیا نو پرې لګیا شوم. اول مې د هډوکو ټوټې ترې راوایستې. په پښو او لاسونو کې دا کار اسان و خو ځینې د سر په کودي لګیدلي وو. هغه مې همداسې پریښودل او د اسانونه مې شروع وکړه. بیا مې د هډوکو تیره او مات شوي سرونه غوڅ کړل، که بیا به هم دومره لنډو او نه به کو شیریډل داسې مې وتړل چې یو بل ته نژدې وي خو سره ونه لګیږي. د لرګو قالب مې ورواچاوه او بل مریض ته لاړم. زمونږ د جراحۍ د ډاکټر نصیحت چې هغه وخت مونږ پورې خندل او س را ته معقول ښکاره شو چې په داسې حالاتو کې که څوک ستاسو په قضاوت د مرګ په درشل ولاړو، نو د هغه نه تیر شئ، هغه راتینګ کړئ چې د ژوند تمه یې شته. یو داسې مریض د مجاهدینو ډاکټر ملاریا و. دی په اصل کې د ملاریا دواپاش و چې بیا په خلکو کې د ملاریا او کله هم د ډاکټر په نامه مشهور شو. دده نیمایی مخ د کوپړۍ سره تورل شوی و او کرار پروت و، ما ته یې کتل. ما ورته وموسل خو ترې تیر شوم. چې بل وار مې پرې ګذر وشو، سترګې یې پټې

وې او چاپې زنې تړلې. ورمېږ د سر د کوپړۍ نه هم مهم او سخت دی. د
هغې په مېنځ کې داسې ماغزه دي چې د لاس ور وړل د برق د لوڅ مزي
سره لوبې دي. تورن ته مې ویل چې داسې یې مضبوط پانسمان کړي،
لکه چا چې په او سپنیز قالب کې اچولي وي. د سر د کوپړۍ پارچې
بیرته پخپل ځای نه ورځي. دلته لوی خطر دادی چې ګولۍ د ماغزو په
حساس ځای ورخښه شوې وي چې که مریض جوړ هم شي فلج شي. د
هغې ایستل ضرور دي خو اسان نه دي که پنس د ماغزو یوه ریښکۍ، یوه
ګونځه وشلوي څه چې حتی بیځایه کړي د مرګ ویره شته. مګر د یوه
اجنبي شي، لکه سرب یا وینبتانو موجودیت ماغزو ته د منلو وړ نه دی او
حتی د ګولۍ وزن هم د ماغزو توازن خرابوي. څه مې چې کولی شول هغه
مې وکړل. د یوه مجاهد ګولۍ مې په توکل راوایسته. خو د یوه بل په
ماتې کوپړۍ مې پټۍ وتړله. د ماتو پښو او لاسونو که څه هم درد زیات
وي خو دفع الوخت چاره یې اسانه ده. تورن ډېر تکړه و. بس د هغو
بکسونو نه یې لرګي پخوا تر پخوا جوړ کړي وو چې پسکې دوی ته وسله
راتله. زخم په یې پاک پریوه. لرګي به یې په مات ځای داسې ورپورې
کړل چې زیاتې به نه سره ښوریدل، مضبوط پانسمان به یې ورکړ. چا به
چې ډېره وینه ضایع کړې وه هغه ته به یې سیروم ولګاوه، انتی بایوتیک
ستنه به یې ورولګوله. د یوه ویشتلي د لینګی وینه نه دریده. ده یې
ورون سخت وتاړه چې وینه ودریده. ما ورته ویل چې پام چې یو ساعت
پس یې بیرته خلاصه کړې او که نه کوز لینګی چې وینه ورونه رسیږي

مري. هغه راته و موسل، «بس ساعت ته گوره.» چې ساعت ته مې کتل، د شپې يو د بجه وه. ورو ورو يو څه نظم انتظام پيدا کيده. چيغې هم کمې شوې وې. تورن، زخمونه ولل، تړل او مجاهدينو ته يې چې څه وتل څه راننوتل، هدايتونه ورکول. بيا نو واړه سفرى کټونه يو يو راننه ووت او د يو مريض سره بير ته ووت. آخرى مريض يې چې ايستـه نو زما ياد شـو او د هغـه ورون مـې خـوشـې کـړ، وينه دريدلې ښکاريده. تورن مجاهدينو تـه هدايتونه ور کړل. موږ دواړه ستومانه او بې خويه وو، د يوه لوى آودان شيردان مو راخوشې کړ او لاسونه مو يو ځاى پريولل. تورن ما ته کړه، «که په لار کې سپي نـه وي نو نشالا چې ټول په جالـه کې زموږ لويې شفاخانې ته رسيږي. زمـا پـه خيـال بهتره ده چې ته هم لاړشې، ته شکر جرد يې، په بله لنډه لار به دې د سينند نه تير کړو.» ما څه نـه او نو وکړه خو ده وويل، «موږ تـه خو راپيښـه ده. نن چربانـگ په دو سره کـه باندې عمليات لرو چې دا نوې قوه يو څه تروره کړو. زموږ به څه عمليات وي، يو ډزدلتـه، يو بم هلته، بس د خرپ نـه موترپ ډيرد ي، مقصد چې دښمن پوه شي چې موږ شته يو. دوى چې يو ډز واوري نو هيڅ بې هيڅه يې وانې وتښتي. بس ته ځه، زه دلته پلان خو ورته نشم ويلى، هسې يو څه کرواړې کوم. يو مجاهد به درسره حاضر باش وي، بيغمه ځه.» دواړه د سمڅې نه بهر راووتلو. زما حاضر باش ملا تړلى، د کلاشنيکوف سره ولاړو. څه گرنډو نه يې هم له ملا ځنگيدل او د دغو نانځکو سره ځانته ډير په ځان غره ښکاريده. سپوږمۍ يو څه غتيه شوې وه چې نه پوهيدم ښه

زیری و که بد. تورن عبدالرحمن لاس راکړ، څه ویل یې غوښتل خو ما په شو نډو لاس کیښود او د مجاهد پسې روان شوم او دواړه د سپوږمۍ رڼا ته د تور غره په پرښود درونتې خواته څه رار غښتلو څه راښوییدلو. د سره رود نه بره خوا د سلطان پور د کلو په سر تیاره وه. هغه وختونه را یاد شول چې په ژمي به پسلونه تول شوي وو او د گوري د گانیو نه به د کلو د پاسه لوگي په هوا کې، لکه ماران پرله اوښتل. د خلکو گڼه گونه به د لالتینونو سره له لیرې ښکاریدله چې ودو نو ته به روان وو. هلته به چاپه تغر، چا په پوله او ځینو ماشومانو به پاس په ونې تکیه وهلې وه، د حضرت باز یاسپین بادام سندرو ته به غوږ غوږ وو. د افضل شیر زاد دافرد رایاد شو چې: «خدایه څو مرده تیاره ښکاري، د وطن کلي ښارونه». لرو بر حتی د سپود غیپا غږ هم نه و. په ټپنگ، لالاکلا، او د درونتې نه کوز د پوهنتون څنگ څنگ ته د کامې سیند ته ورکوز شوو. هلته مو دمه وکړه او بیا مخ په کونړ روان شوو. د کوم ځای نه یو ډاټسن، راپیدا شو، لکه چې تورن عبدالرحمن زموږ سر شته نیولې وه. د سیند نه پورې غاړه، د کونړ د سرکانو نه ناوه پاس او د چمر کنډونو له لارې محمد گټ ته ورکوز شوم او بیا په کرایي واگون کې د باجوړ (ښار) او ماښام مهال د ملک خیر دین کور ته ورسیدم. خو د شین تاغي درک نه و. زړه مې درز وکړ. پخپله ملک صاحب کوم واده ته تللی و خو زوی یې راته وویل، «ستاگاډی، د پنځه شپږو داخلي او خارجي سپرلیو سره نن غرمه سوات ته روان شو. ویل یې، « وشو » ته ځو. » زما چرت خراب

شو چې په دې تیر آخر هر څه ګډوډ شول. پلان خو داو چې شاترینه او شین ټاغی به وي او بس، خو دا نورې بلاوې څنګه دلته ورسره راغلې او بیا څنګه بې زما د سلانه وشو ته روان شول. خدازده څه نور چلونه دي.

په همدې سودا کې وم چې پخپله ملک خیر دین په یوه جیپ کې چې مشر زوی یې ډرایورې کوله د واده نه راستون شو. تر غاړې وتو. په خپل کشر زوی په غوسه شو چې ولې دې میلمه بهر درولی دی خو ما وویل، «ملک صاحب، زه پاتې کیدونی نه یم، ځم کوز که کوم موټر مې په سرای کې پیدا کړ، نو روان یم وشو ته.» ملک خیر دین وویل، «راځه دوډۍ وخورو خدای به هر څه اسانه کړي.»

## د یارلسم څپرکی

د سوات دره د نورو نه یو دا فرق لري چې هر څومره چې بره خواځې دره پراخیږي، په آخر سر کې د وشو په نامه هواره ورشو ده چې زیاتې نو سوات ختم بویه. هلته کوم روغ لیونې په دې ځمه یو هوټل هم جوړ کړی چې ګوندې ملیونر شي. مګر هر سیلاني چې ورغلی دی، په تویو توبه ګاره ترې راستون شوی. یو دلیل یې ساړه دي چې په اوړي او ژمي د قوي باد سره بیدو په همدې هوټل کې تر غاړې وځي. په توره شپه د ملک خیر دین په جیپ کې د سوات په درې ورسیده شوم. سهار مهال ه شو ته وروختم. د هوټل مخې ته مې جیپ ودراوه خو د شین ټاغي درک نه و. په هوټل کې هم تیاره وه. کوز شوم. د شانه مې د توخي غږ واورید. څوک د لالټین سره راغی او په جګ آشنا غږ یې وویل، «ډاکټر صیب

دې په خیر راشي! » چې کتل مې، هماغه زوړ سواتی آشنا و چې ښځې یې په شین تاغي کې بچی زیږولی و. غیږ یې رانه تاوه کړه. ما ورنه د شین تاغي پوښتنه وکړه. ده په خندا وویل، « کوم شین تاغی ښیې، خپل موټر او که زما زوی. » زه خبر نه وم چې دده پخپل زوی هم د شین تاغي نوم ایښی و. « زما زوی خو شکر اوس د دروغجن خبره ژبې دی او پاتې شو ستا شین تاغی، هغې ستا خارجي دوستان پېښور ته بوتلل او سبا ته بیرته راځي. » ما چې خوله پوښتنې ته خلاصوله هغه وویل، « غم مه کوه، ستا مال امانت دی، راځه. » شاترینه د بل لالټین سرد د هوټل د دالان په برسر کې، په یوه دروازه کې ولاړه وه.

## څوارلسم څپرکی

زما د سرګردانۍ ورځې وې. ملک خیر دین د خپل زوی سره په لارۍ کې راغی، لارۍ د وریژو، غوړو، وچوسابو او لاندي شوو وچو غوښو ډکه وه. چې هغوی رخصت شول نو بله جو په زما د سواتی آشنا د سوغاتونو نوبت شو. ده لادوختنه وریژې، غوړي، د سویي ګیس بیلرونه، تودې جامې او کمپلې پټوان د هوټل په یوه خونه کې ځای په ځای کړي وو، ما ته یې راوښودل. یو توپک او یوه ګردنۍ یې هم ورسره ایښې وه. ما ویل، « په دې دومره سامان څه کوو؟ » خو هغه وخندل، « د اوریدو د قراره ستاسو ټول ژمی همدا کور دی، نو وایي چې که دښمن دې ګیدړ وي تابیا ورته د زمري نیسه. » ما ورسره د خدای پامانۍ تابیا نیوله، خو سړی موسک کیده. چې ما وپوښته نو ویې ویل،

«ستا نجل راته د نکاح ویل. زه خو ملا هم نه یم خو د هیڅ نه بیا هم ښه یم.» ایله مې پام شو چې دا غوښتنه باید ما پخپله کړې وای. نو دواړه زموږ کوټې ته لاړو. د کوټې په مینځ کې د یو میز د پاسه په یوه گل گلي دسمال باندې پریمانه پتاسې دلی وې. د قرآن شریف یوه نسخه هم ورسره ایښې وه. سواتی آشنا راته د اودس وفرمایل، د لالټین سره بهر سیند ته کوز شوم. د سیند د غاړې اوبه کنگل وې. په شواخون مې اودس تازه کړ او بیر ته راغلم. سواتي آشنا لگیاو قرآن یې لوسته. ما ته قبله معلومه نه وه د هغه نه مې پوښتنه وکړه او بیا مې دوه رکعته د شکرانې نفل وکړل. چې سلام مې وگرځاوه، شاترینه چې تر دې دمه لا درکه وه د بلې خونې نه راغله. د سر نه تر پښو پورې په پښتنی جامه کې پټه. شین بخمل کمیس، سور پرتوگ، سترگې په رنجو تورې، ټیک په ټنډه، د وریښمو تور ټکری چې څنډې یې په رنگینو ځوندیو جړ او شوې وې، د پایزیب او د گونگروگانو لاندې ټوله شرنگیده. ناڅاپه یوه بدل چې په وړکتوب کې مې اوریدلې وه رانه ووته: جلاتي چې په کجلو سترگو تورې کړې* سرې لمبې یې د مومند په زړگی پورې کړې. سواتی آشنا کټ کټ وخندل او د شاترینې د مخ په سپین کې د شرمه وینه وځغلیده. زه پوهیدم چې دا جامې او گانه ټول د سواتي کار و. سواتي آشنا هغه خپل یوه اړخ او زه بل ته کښینولو. بیا یې نو وویل، «زه د ملا په الابلا نه پوهیږم. ته ډاکټر محب الله دا بی بی شاترینه په اسلامی نکاح منې؟» ما ویل، «هو» بیا یې د هغې نه پوښتنه وکړه. هغې وویل، «دکا پر نه مې

بد ایسي خو ستا د پاره به یې ومنم. » سواتی وخندل او بیا یې د یاده الحمد او قل هوالله ویله او دعایې وکړه «الله مومسخد پوره کړه او خدای دې تاسو ته هم نرکولنګی شین تاغی درپیروز کړي. » بیا نو هغه د هوټل بلې خونې ته لاړ. زه پاتې شوم او شهی.

په سبا یې مازیګر مهال شین تاغی راورسید. چې وروختلم نو بیدو هماغه موټر وچې ما د جرمنی نه راوستی و. د منانې په وینا، ژان ژوزې زما د کابل د سفر په وخت کې خپله دا ټول شیان د یزاین کړي وو. د منانی نه مې د نورو پوښتنه وکړه. هغه وویل، «نور نه پوهیږم خو هغه مریض، لکه چې د هغې کچنی روسی سره څه تار لری. » ماویل چیرته دي؟ دد وویل، «نور پرې پوه نه یم خو دد ې ځای نه ان تر پیښبوره یې سر د روسی په غیږ کې و، او میده میده سره لګیا وو. » شاترینې په مرموزې موسکا را ته کتل. او په بې پروایی یې وویل، «د هغوی واده به په فرانسه کې کیږي. » زه د قسمت دې لوبې ته اریان پاتې شوم. ماسره غیر له موسکا بل ځواب پاتې نه و. خو منانی د ځواب له غمه خلاص کړم. لویه پرېږده او بهانې یې شروع کړې چې راسره پاتې شي. لیوان، واوره او نورې بلاوې یې یادولې چې خپل پاتې کیدل ضروري وښیي. ماورته ویل، «او دلمنانه، سبز ژمی د دریم ګړي د پاره ځای نشته »او د سواتی آشنا سره مې بیرته واستاوه. وروستی خبره یې داوه، «ښه سړی یې خو ارمان چې لیونی نه وای. »

## پنځلسم څپرکی

دوشو ظالمه یخنی شروع وه. واوره خو پخوا هم په مځکه پرته وه خو اوس یې د هغه نرۍ سرک پل هم پټاوه چې هوټل ته راختلی و. هوټلي خو په سهار خدای پامانی اخیستې وه او چپ له موږ دواړو بنی بشر پاتې نه و. زموږ د خونې په دیوال کې د اور نغرۍ و او ترڅنګ مو بله خونه د څېرې د مات شوو لرګو ډکه وه. د کوټې نه بهر چې څه لوړې ژورې وې، هغه اوس ټولې سپینې وې. یوازې دوه غرونه چې راتلل یو د هغه ساړه باد و چې مازیګر به شروع شو او تر تیر ماسختن پورې به یې دره په سر اخیستې وه. د هوټل د دالان لویه دروازه او د ځینو کوټو کړکۍ یې ګړبولې. بل د نیمې شپې نه تر خړ سهاره د لیوانو نول و چې کله به زموږ د کړکۍ لاندې ودریدل، خولې به یې آسمان ته ونیولې او د لرې او نژدې نه به یې نورو غبرګون کاوه. شاترینې ویل، «ایله په ایله چې زموږ د شاتو میاشت شروع شوه.» ما ویل، میاشت نه ده میاشتې دي، تر څو دا واورې ویلېږي یاریکۍ، خدایکی. اوله شپه مو د سالنګ په یـاد په شین ټاغي کې تیره کړه.

PROPERTY OF ACKU 7894

PROPERTY OF ARIC Established 1980

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**